حمنا
HAMNA PUBLICATIONS

# د جنون په کنډاؤ

د فضل حکیم عندلیب نثرونه



بسم الله الرحمن الرحيم

په نامه د الله، چې رحمان اؤ رحيم دے

pukhto.net



HPC2012/318
DA JUNOON PA KANDAAO
Fazal Hakim Andaleeb
Zyaarath, Taalaash
Dir, Pukhtoonkhwa

د کتاب ټول حقونه د
فضل حکیم عندلیب
سره خُوندي دي

Pukhto.net

# د جنون په کنډاو

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | د جنون په کنډاؤ |
| ليکوال | فضل حکيم عندليب<br>زيارت، تالاش (دير)<br>پښتونخوا، پاکستان |
| کمپوزنګ | فضل حکيم عندليب |
| مخپاڼه | حمنا ګرافکس<br>چارسده<br>0300 933 9128 |
| شمېر | 1000 |
| بيعه | |

- حمنا پبليکېشنز پښتونخوا ـ چارسده
- احتشام بکسېلر ـ تالاش
- ورلډ بک ډپو ـ تېمرګره
- يونيورسټي بک اېجنسي ـ پېښور
- ملت بکسېلرز ـ چارسده
- شاداب بکسېلرز ـ مردان


pukhto.net

د عندليب چاپ اثار

شاعري: ګورګورې

شاعري: څونډې

نثرونه: د جنون په کنډاؤ (دا کتاب)

# تړون

د خپلې لورکۍ

**ثناء (صنم)**

په نوم ـــــ

چې ډېر قرضدارے ئې یم

ukhtu.net

## د اوم بغاوت غږونه

## حیات روغانے

### وړانګې


د جنون له کنډاوه 1

راکوز مې کړه! 4

درده! 6

لالا 8

لکه 9

اوښکې 10

ژوند 12

سوړ پرُوت دے 14

پلوشه 16

هغهٔ ته 17

پانړې! 19

ما ته یاد شي 20

د کوهِ طور سپل 22

ساه 26

بله پلوشه 27

عمر له وړوکے وے..... 28

د نغارې لاسکیه! 30

هغه 32

زهٔ درغلے ؤم 33

اوښکه 35

یؤ سړي ته 36

د ادم خان اؤ درخانۍ..... 37

شلغاتي 40

لېونتوب 42

خر 47

خان خان دے کهٔ زهٔ ..... 50

چینجي 52

کرکنړې 55

تړے تړے 57

هاهاها!!! 59

د غني فکري غنا 61

په حیاتونه څو ټکي 63

لوپټه 64

ممانړې 65

هو! 68

قامي ليکنې


پ 69

ادبي جمود ـــ څو خبرې 71

د چينجو ټوکرۍ 73

ليکدود 75

قامي پرمختګ کښې..... 77

د ټپګور د يؤ نظم ژباړه 80

د پښتنو ښوونځا ے 81

دا اړخ 82

شپږم اګست 85

اے پښتنو شتمنو 88

اعتدال 90

پيران مريدان 95

زمونږ ټولنه کښې د هنر... 99

ظفر خان خټک ته ليک 101

مزدور 103

اولس ولې اولس دښمني... 105

خبرې 111

د ښځو حقونه 113

بخشي اؤ سېفور 115

رفيع الله جان ته ليک 118

خړاوه 121

چې دروغ نۀ وايم 125

غېرتي 128

درېم ځواب 130

د ريدي ګل اؤ غاټول..... 133

نوے جنګ 136

بابا په چورنګۍ کښې 140

لالاجي، کاکاجي اؤماماجي 142

سېفودين 146

شخصيت پرستي 148

منګوړ 151

انسانيت د بربادۍ په ... 153

؟؟؟؟؟ 155

نړيوال بدلون 157

جرګه 159

زۀ خطا خو نۀ يم 161

د سرمائې د نظام اغيزې 163


pukhto.net

| | |
|---|---|
| اوږده خاموشي | 170 |
| اختلاف | 173 |
| **د توت سیوري ته** | |
| د پیر اؤ ملنګ بنډارونه | 174 |
| **څو سري** | |
| ارسطو | 197 |
| وړومبے فلسفي تهیلیس | 200 |
| لیو ټالسټاي | 205 |
| عبدالرحمان الداخل | 208 |
| احمدي نژاد اؤ سادګي | 211 |
| همت اؤ انسانیت سره مینه | 213 |
| نزار قباني | 215 |


pukhto.net

# د اوم بغاوت غږ ونه

زه هغه ته "انقلابي" نه وايم، ځکه چې لا د هغه د بغاوت غږ اوم دے اؤ اندېښمن يم، چې راتلونکي کښې ادبي جاج اخستونکے به ما پسې پچموزې ؤکړي.

د خاؤريني کوټې د دغه ځان ته ملنګ ويونکي "ملنګ" سره زما ناسته تل د خوند وي. دې ټولګه کښې د "وړانګې" برخه ما له دا جواز راکوي، چې د هغه خوا ته ورشم، هغه سره کښېنم، هغه واؤرم اؤ هغه ؤلولم.

"وړانګې" د ژوند اؤ احساساتو د نازکو ترونونو فلسفيانه څېړنه اؤ ادبي اسلوب دے، چې لوستونکے ځان سره ډېر ژور بوځي اؤ د يوې داسې نړۍ ننداره پرې کوي، چې هلته د لفظونو معنيو ته پوهه بقې سترګې ولاړه وي. دا ډول مونږ پښتو کښې د افضل شوق نظمونو کښې وينو اؤ نور د دغه ادب لطيف په اړه د پښتو ځولۍ ډېره شنډه پاتې شوې ده.

دوېمه برخه "قامي ليکنې" ته چې ځېر شو، نو دغلته فلسفيانه لهجه اؤ نزاکت ابغ نبغ اولسي رنګ واخلي اؤ داسې برېښي، لکه چې يوه بله ساه د ليکوال په قلم کښې دغه ليکونو د پاره راشي. د دې برخې په فکري بنه که خبره کؤم، نو دا به ؤوايم، چې دلته څومره سياسي ليکنې هم شوې دي، هغه که هر څو د اولسي سياسي نفسياتو وياندې دي، خو په شا ئې په عملي نړيوال سياست اؤ په ځانګړې توګه په پښتنه خاؤره د روان سياست په اړه رغے نظر پروت دے اؤ کله کله داسې ښکاره شي، لکه چې هغه د نړيوالو برېښنائي رسنيو نظر خپل تأثر سره وړاندې کړے وي.

درېمه برخه کښې د هغه (پیر) د خپل (ملنګ) سره بنډارونه دي ـ دغه بنډارونه هم د ټولنیزو شخړو ویاند دي اؤ د طنز ژبه پکښې ډېره تېره پکارولې شوې ده اؤ خپل ذات د ټولنې د پاره د "تنقید کننده" اؤ "تنقید زده" په توګه څېلمه کړے شوے دے، چې د هغه خود انتقادیت برڅېره کوي اؤ مونږ باید د هغه دغه څوي ځان کښې راولو، ځکه چې د یؤ وګړي په رڼا اؤ تیاره هغه نه ډېر بل څوک هم نه پوهیږي ـ

په پایله کښې د "څو سړي" سرلیک لاندې د نړۍ د څو نوموړو پېژندګلو لیکلې شوې ده ـ دغه پېژندګلو راتلونکي کښې پښتون قام د نورو ژبو ادب اؤ د هغه قامونو قامي پرمختللي ښوځښت پله د رابللو یوه شعوري هڅه ده، چې پښتون قام ته به د هیلې اؤ هڅې نورې اؤ نوې لارې پرانیزي ـ

"د جنون په کنډاو" چې لولم، نو داسې برېښي، لکه چې زکریا تامر په "ربیع في الرماد"، فرانسس بېکن "essays"، سر سید احمد خان خپل "مضامین"، میخائل ایلزرنوف "لائبرېرین"، ماسټرکریم خپلو نثرونو، اجمل خټک "دا زه لېونے ؤم" اؤ افضل شوق ئې د خپلو نظمونو دریز نه کوي، خو چې کوم ځاے کښې نیمګړتیا پاتې وه، نو هغه په دې "کنډاو" شورولې شوې ده ـ

د هغه قلم د مفاهمت په ښوږو ژبه ترخه کړې نه ده اؤ نېغ په نېغه ئې خبره کړې ده ـ دغه سپین سترګې لهجه به ډېرو غوږونو کښې ازغي ټومبي، خو ریښتیا به پرې ویاړیږي، چې د اولس غږ ئې د اولس په ژبه کړے دے ـ

دا یؤ ریښتیا دي، چې کوم قام اؤ ټولنه کښې د شمېر څو وګړي د ژبې لیک لوست سره مینه لري، داسې قام اؤ ټولنې ته د شاعرۍ په لاره د

بدلون راوستل به یوه شنده هڅه وي. په ځای د دغې به غوره وي، چې داسې لیکونه ؤشي، کوم چې "د جنون په کنډاؤ" کښې راځای کړے شوي دي. هر څو که د دغه لیکونو لوستلو سره دا خبره برڅېره کیږي، چې بسیارنویسۍ ځای په ځای د هغه د لیک لوړ اؤ هسک معیار باندې نوکان راکښلي دي، خو دا به ؤوایو، چې دې حالاتو کښې دا لیکل اؤ دا فکري اثر اولس ته وړاندې کول زیات ارزښت لري اؤ دا بسیارنویسي په پښتون ژوند کښې د ښکېلا اؤ کړان فطري ردعمل اؤ د دغه ردعمل په ضد د لیکوال د پښتون شعور احتجاج دے. ګنم، چې په داسې وخت کښې هم دا غږ د اولس تر غوږونو رسول زیاته اړتیا لري

ما وئېل، چې زه هغه ته انقلابي نه وایم، خو د باغي فکر نغارچي که ورته هم نه وایم، نو دا به ادبي خیانت وي.

یؤ داسې وخت کښې، چې هر سړي نه خپل ځان پټ اؤ ورک دے، داسې وخت کښې، چې "لفظونو معنې بائېللې دي اؤ هندسې ګویا شوې دي"، یؤ داسې وخت کښې، چې هر سړے د ټولنیز ژوند نه شوکېدلے دے ـــــ داسې وخت کښې "د بغاوت اوم غږ" هم یؤ لوي بریالیتوب دے، هم دا اومه غږونه به سندرې کیږي اؤ د بدلون تاده ایښودلو د پاره به نظریاتي اؤ تجرباتي مواد ورکوي، که چرې دغسې لفظونو ته د عملي وجود ورکولو هڅه ؤکړې شوه.

په درنښت

## حیات روغانے

وردګه (اشنغر)

20/10/2012




# وړانګې

پښتو
pukhto.net

# د جنون له کنډاوه

کليه!

منم چې غبږه دې زما د يادونو خزانه ده. منم کوڅې دې راته وړوکوالے رايادوي. منم چې کۀ د نړۍ هر ښار ته لاړ شم، خو ستا مينه مې پړې نۀ ماتيږي.

کليه!

د ژوند مېله دې په سينه کښې ځاے کړې ده.

کليه!

جار دې شم. د هغو سترګو تاڼوبے ئې، چې ستا په رنګ ئې رنګ کړے يم. د غرونو لمنو ته ئې د خمار فصلونه کرلي اؤ د دېوالګو په کتهوؤ کښې کشمالي لري.

کليه!

د ګودر د غاړې د چينار سيورے دې!

کليه!

د لاټين په رڼا اوبهٔ څورې دې!

کليه!

نهٔ هيريږي۔

خو کليه!

تهٔ دو منارو دې سريچنې جذبې ؤنهٔ لړزولې اؤ سړو حجرو دې پښتنو سترګو ته پيغور ؤ نهٔ کړو۔

کليه!

اوس لېوني نهٔ لرې۔

کليه!

شملې دې څونډو ؤخوړې۔

کليه!

هوښياران دې د ېر ؤزېږول، خو د زړونو ګټلو هنر ئې نهٔ زده۔

کليه!

لاروے دې مېلمه نهٔ کړو۔

کليه!

فقير دې ورږے دے۔

کليه!

ماشومان دې پخې خبرې کوي۔

کليه!

مېندې اؤ پلاران دې سوداګر شول، خپل بچي خرڅوي.

کليه!

ځلمي دې د نوټونو سره تللې کيږي.

کليه!

په بازار کښې دې د زخمونو اؤ وينو تجارت ډېر شولو.

کليه!

هديره کښې دې ګڼه ګونه وي.

کليه!

د مينې رواج دې په وينه لمبېدلے. د شارې ډبې په پلنو کاڼو د شلېدلو شملو تارونو اؤ د شهيد لالي د قبر شلېدلي توغ، ستا لېونے ستا د بائېللي جلال د کنډاؤ په سر کښېنولے اؤ د جنون د ګړنګونو د سرونو د بغاوت سپېلنو ته د سوؤ نخښترو د استقلال کيسې کوي.

ukhto.net

## راکوز مې کړه!!!!!

مرګ لکه د جوارګر لاس اؤ ژوند لکه د تاش پاڼه ـــــ

د دعوؤ په تله کښې د عظمتونو تول ـــــ

اور اخستے وجود اؤ لوندې شملې ـــــ

کۀ دروغ وایم، اسمان مې وژني، کۀ ریښتیا وایم زمکه مې وژني.

راتلونکې زلزلې ته د ېوال جوړوم ـــــ

پیتې مې داسې دي، چې بوج ئې په اوګو نۀ په ذهن دے ـــــ

پښتونه یاره!

دا غم مې درنه ګوټ ګوټ څښکي ـــــ

راشه راشه !عیسیٰ اؤ خضر د مرګ ارمان کوي.

اور به اور څۀ ؤسیزي؟ پۀ نُور درنه سوزم.

اوښکې مې په خپل ګرېوان نۀ، ستا په ځیګر ؤڅڅېدلې.

ولې ئې نۀ وینې؟

د للمې ګل دې د مشین لوګي ؤخوړۀ.

له افقه تر افاقه ـــــ

له بصارته تر بصیرته ؤسوم ـــــ

له زمکې څُوئېدلے یم، اسمان ته پُرېوتم ـــــ

د حیرانۍ په صلیب ناست یم.راکوز مې کړه!
لکه د باري ښاخ راښکته شوے یم.
راشه راشه راشه !خوره مې.
د حیرانۍ په صلیب ناست یم.راکوز مې کړه!
بدنامي راپېرزو کړه!
بدنامي راپېرزو کړه!
بدنامي راپېرزو کړه!
له ګمنامۍ مې خوښه ده.
فکر مې داسې یواځې کړم، لکه خدا ے.
راشه راشه راشه !د حېرانۍ له صلیبه مې راکوز کړه!
ستا غم مې ګوټ ګوټ ښکي.
راشه راشه راشه!
په کعبه کښې مې بې عبادته شپه ده!
راشه راشه!
د حیرانۍ له صلیبه مې راکوز کړه!
غم دې درنه ګوټ ګوټ وښکلم.

pukhto.net

## درده!

درده!

خوښ مې ئې، چې سترګو ته وړکې ملغلرې ور پېرزو کړې او تږې ګرېوانونه خړوب کړې ــــ

درده!

بدي مې شې، چې د چا بدي شې، هلته ورځې ــــ

درده!

خندوې مې، چې زما په ګوګل کښې تنګ شې ــــ

درده!

ژړوې مې، چې د بل په خوا کښې دې وينم ــــ

درده!

يؤ سرې زما د روزنې د پاره ځوانې خاؤرې کړې وه ــــ

درده!

يوې ښځې زما د زدکړې د پاره د غوږ والۍ خرڅې کړې وې ــــ

درده!

ټول زما شه! خو په ځنو ځايونو مۀ ورځه !ــــ

درده !درده !درده!

په هاغه کلي مهٔ ورځه! ټول زما شه! دواړه زاړهٔ اشنایان یو!
ما وئېل، زما له وجوده خو نهٔ ځې اؤ په هاغه کلي مې پېرزو نهٔ وې،
نو کله مې ؤکړه ــــ

درده!

د ختو یؤ کور دے، په بلې ورته کښېنه! په چا مهٔ ورځه، خو د برنډې
د پؤړو په خوا کښې د پُرتې ګملې په درې جل وهلو ګلونو لېونے
سلام ؤوایه! ــــ

درده!

نېتې اوږدې شوې، چې تنګ نهٔ شې! چې ستا ژوند په ما سینګار
دے، زما ژوند په تا ــــ

درده!

ښه ده، له فکري مفلسۍ مې ساتې اؤ دنیا خو هېچا شل کړې نهٔ ده.

درده!

زهٔ پوهېږم، زهٔ فاني یم ــــ خو تهٔ مې له فنا ؤساتلې.

درده!

پوهېږم چې دومره دنګ ځاے ته دې راخېژولے یم، چې بې له
کوزېدو تُرې بله لاره نشته ــــ خو یاد لره، چې زهٔ په کوزېدو کښې
هم تیتې سترګې نهٔ ځم، چې له پښتونه بابا مې زده کړي ــــ

pukhto.net

# لالا

لالا!

خبره دې ښه ده! ما منلې ـ ما وئېل، قام به خبر کړم ـ تدبير مې جوړ کړلو ـ په پټو کښې مې غوږونه ؤکړل، خو ژبې پکښې راؤټوکېدلې ـ اوس مې د پولې د سر ناسته پرېښې ده ـ

خوب دې ښهٔ دے، خو د شپې خوبېدلې د غړيدلو سترګو د خوب په معنو نهٔ رسي ـ

لالا!

د منګول کرښې کږې اؤ لنډې وي ـ د تندي د کرښو شمېر دې ؤکړه اؤ د سباني غم کرښې له پکښې ځائے پرېږده!

لالا!

منم چې لوند لرګے په سوزېدو کښې لوګے ډېر کوي، خو د لمبې تاؤ هم زور لري ـ

لالا!

د مرګ په روپيو ژوند مهٔ اخله! ځکه چې ژوند د مرګ په کومې کښې پروت دے ـ

لالا!

ځه چې ځو! لاره اوږده اؤ پېچلې ده ـ د هرې ؤنې سيورې ته د سفر سامان مهٔ سپره!

# لکه.....

لکه د کوچیانو قافله چې د توت سٔیوري ته دمه ؤکړي ـــــ
لکه د صحرا تږے چې په یخه رڼه چینه پېښ شي ـــــ
لکه په للمه خاؤره کښې ورکه شوې دانه تږ ؤچوي اؤ شین تیغے ئې په کٔلکه سینه کښې بغاوت ؤکړي ـــــ
لکه د هاړ په سٔره غرمه کښې د سپینې وریځې غونډوري د څۀ وخت د پاره د نمر تپ له ماتې ورکړي ـــــ
لکه د لمبې اؤ سندانه وتے زر د چا هسکې غاړې ته ؤرسي ـــــ
لکه چؤدې تناکه چې سٔوے بس کړي ـــــ
لکه په سٔکرو چې واؤره ؤشي ـــــ
لکه په نوي خال چې د نمر څٔریکه ؤلګي ـــــ
زۀ ـــــ زۀ چې تا ؤوینم، لکه ـــــ لکه د شٔنو بنګو د شین لوګي نه د خمار د تال بٔیاستې جوړې شي اؤ احساس په تالو تالو د جنون د بنهونو د پاڅه ؤکرځوي ـــــ
زۀ چې تا ؤوینم، لکه ـــــ لکه ـــــ لکه ـــــ

# اوښکې!

اوښکې!

ته ډېره ښه ئې ! که ګُرېوان نه وي، نو خاورې ته زر ورسې.....

د درد په لمبه د سترګې په کاسه کښې خوټ وکړې او د بانه له څوکې د رخسار په سکروټه سخ وکړې.....

اوښکې !

ته ډيره ښه ئې ! ريا نه لرې ! لکه د وينې ريا کاره نه ئې، چې په رګونو کښې پيړۍ پيړۍ سره سره تاوېږې او که څاڅکے ترې تْوي شي، نو چاپ ئې هرچا ته بْريښي.

اوښکې!

ته د وينې په غم په لپو لپو تْوئېږې، خو وينه کبرژنه د سترګې د ګاټې په خْوا هله ورځي، چې ته هلته وجود وبائېلې.

اوښکې!

زه او ته يو ازې ښه يو!

څومره حيا دې ساتم. د چا د مخې دې نه قتلوم.

اوښکې!

درد چې مشتهر شي، ته خرڅېږې ! سر بائېلې ! دې غُلاميزې ادا دې ډېر خلک ماړه کړل.

اوښکې!

دا سخاوت دې منم، چې څوک دې پېژني، ته ئې هم پېژنې ! ځان ورته ټول سپارې.

اوښکې!

راځه راځه!

نیمه شپه شوه. زهٔ خپل د خاوړې قبر ته ننوتم.

راځه راځه!

بیخي یوازې یم، راځه!

د حساب کتاب فرښتو دومره کار نهٔ لرلو. دمه شوے یم.

راځه راځهٔ!

خواته مې پته شه. دغه سیمټي قبر کښې د ګرزونو غربا ده، ورنهٔ شې!

pukhto.net

اوښکې!

پوهېږې، چې تا پېژنم ــــ اؤ پوهېږم چې ما پېژنې!

خو ــــ

تهٔ هم ځان نهٔ پېژنې ــــ اؤ زهٔ هم ځان نهٔ پېژنم.

نو راشه راځه!

زما هم په رېګونو پېرزو نهٔ شې.

راځه!

تهٔ زما شه اؤ زهٔ به ستا شم.

## ژوند

د خوبونو په شنهٔ فصل د دړدونو غبار ـــــ
د یار د ښکلي خندا تر څنګ په سرو نرو شونډو پاړ ـــــ
د زړهٔ راښکونکو اؤ زړهٔ چیچونکو مړاؤ سترګو نه د ګلابونو رخسارونو د پاڅه لکه د پرخې څڅیدونکې ملغلرې اوښکې ـــــ
د ښکلي ګل تر څنګ تېرهٔ ازغي ـــــ
د سپوږمۍ په مخ داغونه ـــــ
د دریاب د غاړو تنده اؤ د ځانګو د پړو چغ چغ ـــــ
د ډولۍ د بازوګانو چق چق اؤ د جنازې د کټ جړق جړق ـــــ
د بېلچې خړپ خړپ اؤ د متې خاؤرې دوړه ـــــ
اؤ ـــــ اؤ ـــــ اؤ اوږد سفر اؤ مات وزر ـــــ تږے نهر ـــــ اور ورونکے نمر ـــــ سوے نظر ـــــ زخمي ځیګر ـــــ
سراب سراب منظر ـــــ خرخ شوے سحر ـــــ

اؤ ـــ اؤ ـــ اؤ د يؤ زُغم د بل ډب ـــ خړې اوبۀ اؤ ړوند کب ـــ د جونګړې تياره د ماڼۍ شور شغرب ـــ مهذب اؤ نيمګړے ادب ـــ

اؤ ـــ اؤ ـــ اؤ نهر لېونے ـــ نيمه شپه ـــ پړدے چم، لکه کوچي، لکه چنګړي، لکه تږي بنجاري ـــ

هاهاهاها! ځان له د هغه څۀ غم کوي، چې غم ئې نۀ دے پکار ـــ

د ملا تقرير ـــ د فلسفي تدبير ـــ د ملک ضمير ـــ بې علمه پير ـــ

د حالاتو زنځير اؤ د خوار تقدير ـــ

چا را ته وئېل،

"دې ته ژوند وائي".

هاهاهاها!!!!!!!!!!!

پښتو
Pukhto.net

## سوړ پروت دے

هغه د پرون شورېدلے څومره سوړ پُروت دے. بوګنونکې خاموشي اؤ په سينه ولاړ خونۀ ئې د سُتړو مرغيو د ملالو سترګو د پټولو ړقېدونکے کور دے. د نرګس ګل پورې پيشاړې کوي، توته کرکي ئې په خازه د سحر سُتوماني ؤويسته.

هاهاهاها! د سپفور بيزه د شين کبل په لټون وه.

هاهاهاها! په ګېډه ئې ؤګرځېده، ګونګټې ورسره څوا کښې د غُوشانو رغړېدونکے غونډوري امانت ايښے ؤ اؤ هاهاهاها! شاټا ورسره نزدې د تشو موتيازو کسوړه تشه کړه. څومره سوړ پُروت دے.

هاهاهاها! لاسونه ورته ځکه نۀ پورته کؤم، چې ټول عمر ئې زما اوږې د لاسونو ښکار وې. ښه ده، چې ساګانې بې پېسو دي، ګنې د دۀ په ځاے به اوس زۀ سوړ شوے ؤم.

هاهاهاها! خلکو وې، په غټو ګورزونو به وهل وي، خو اواز ئې ترې بهر نۀ راووځي، ځکه چې د کلي د وګړو په خوبونو کښې هم خلل نۀ اچوي.

هاهاهاها! سوړ پُروت دے ـ ما ته ياد شي، چې د سپفور بيزه ئې په خپلو شوتلو کښې ليدلې وه، نو د نُيا نازک ځايونه ئې ورله د کلي د ټولو خلکو د مخې يادول ـ ما ته ياد شي، چې د مرغيو ښکار له به د نوکرانو د ټولګي په مينځ کښې غوْۀ ته تللو. ما ته ياد شي، چې د غنمو په رشه کښې به ئې سپږې اؤ وړې ګونګټې ؤشوې، نو زهريله ګولۍ به ئې ورته ايښودې اؤ ما ته ياد شي، چې د خپل پاک کور په برنډه کښې ئې د توته کرکو ختيني ځالې نۀ پُريښودلې اؤ ما ته دا هم ياد شي، د لاوارثه مخښلو قبرونو د پاسه به ئې موتيازې کولې ـ

هاهاهاها! نن سوړ پُروت دے ـ هر يؤ تْرې خپل انتقام په خپل انداز کښې واخستلو. د نظر خاوند ؤليدل اؤ د منظر خاوند ؤښودل پوهه شوې؟ــــــ

pukhto.net

# پلوشه

په تنکۍ ځوانۍ دې د خپل ښائست او زما د مینې پېټې داسې ښکارې، لکه په نازک ډنډر د دوه ګلونو بار ـــــ
چوډې شونډې دې داسې، لکه د اینځر دانه چې پخه شي او وچوي.
د سفر د ماښام یعقوبي اوښکه او د وفا د مېرې ابراهیمي اراده دواړه ګواه دي، چې د شوګیر ځپلو سترګو ته مې دغه منظر د ختیني کوټې په هر دېوال جوړ شوے.نظر مې لکه د عیسٰی د قُمْ په مړۀ تصویر کښې ساه اچوي او تصویر دې را نه داسې غوښتنې کوي، چې تصور مې را ته وحشي شي.
یاد دې را ته په سینه لکه د درویش د جوړ کړې تعویذ لوغړېږي او د زړۀ تمبې مې ډبوي او د بېلتانۀ د درد په زمکه دې داسې روان شم، لکه ساه چې د پښو په تلو اخلم.
ګرانې!
وربل له دې ګل لټوم، خو دا چمنونه او باغونه را ته شاړ ښکاري.
هسې نۀ خپل د لټون ملګرې ژوند سْتړے کړم او له ملګرتیا مې توبه وکړي. ستا نازک ډنډر مات نۀ شي او پوخ اینځر له څانګې پْرې نۀ وځي او په ژړا ژړا کښې رانه هغه څۀ هېر نۀ شي، چې څۀ پسې ژاړم.
د بوډا رکات لونډه سجیده مې لیدونکې لیدلې، نو اوس تْرې تا نۀ غواړم.هغه ځان ترې غواړم، چې ستا وي.
لیونے دې ـــــ

## هغهٔ ته

دغسې ښهٔ يو.

تهٔ زما په خْلهٔ کښې ګوره ګورې اؤ زما خپلې مالګينې اوښکې په څهٔ اؤ چا پيرزو کيږي نهٔ.....

نو د ګورې د چکې نه مالګين کاڼې جوړ شوے.

ګبينه ګبينه خبرې ګبين ګبين خلک خوښوي. مرچکي اؤ شکرې مهٔ ګډوه!

دا دواړه ذايقې چې ګډې شي، نو يوه بله ذايقه زيږوي، چې نړيوالو ور له لا نوم تر اوسه نهٔ دے ټاکلے.

دغسې ښهٔ يو.

زهٔ هاغه څهٔ نهٔ لرم، چې ستا پکار دي اؤ تهٔ هاغه څهٔ نهٔ غواړې، چې زما سره دي.

نه نه نه!

ريښتيا خطا شوم. زهٔ هاغهٔ څهٔ لرم، چې ستا پکار دي، خو تهٔ هاغه څهٔ نهٔ پيژنې، چې ستا د کار دي.

نو دغسې ښهٔ يو۔

نور په لاره نۀ ځو۔ دا ټولې لارې سرونه لري اؤ زۀ د داسې لار درک هم نۀ کوُم، چې سر نۀ لري ۔ ځکه دغه لټون هم په سر لرونکو لارو تګ غواړي اؤ دغه مې شين زړۀ اؤ سور فکر نۀ مني۔

نو دغسې ښهٔ يو۔

ټوسبېږه! څۀ وايه! خو د چا د مخې را ته مۀ وايه! چې زۀ په انداز نۀ ـــ پۀ نياز هم نۀ ـــ پۀ راز مئېن يم اؤ راز لا تراوسه راز دے۔

نو دغسې ښهٔ يم۔

چې ستا په داسې څۀ مئېن يم، چې تۀ ئې لرې، خو خبر تُرې نۀ ئې۔نو مدعي ئې هم نۀ ئې۔لکه د غُرۀ د غار د کاڼو سلاجيت چې د تيارو خوراک شي۔

دغسې ښۀ ئې۔

کۀ په راز پوهه شوې، نو زما په خُوا کښې به ژاړې اؤ اوښکې چې په مالګو تُوې کړې، نو خُوند بائيلي۔

نو دغسې ښهٔ يو۔

تۀ د سيند له غاړې د سيند د ژورتيا اندازې لګوه اؤ زۀ به د سيند له منځه غاړو ته فاصلې کچ کوُم۔

ليونے دې ـــ

# پاڼې!

پاڼې!
د څانګې اؤ ګل د ښکلا برخه ئې. خلک په خبرو اؤ لیکوال په لیکلو کښې ګل اؤ څانګه ستائي، خو ستا خاموش کردار چا ته نۀ ښکاري
پاڼې!
په خزان کښې ګل رژیږي اؤ څانګې لغړیږي اؤ د وختونو سیلۍ دې کله د دوه مئینانو د پښو لاندې کړي اؤ کله دې لاروي ؤچ شوے وجود ریچې ریچې کړي.
پاڼې!
د سپرې په څانګه ویښول کوې، د ښکُ په څانګه خمار بخښې، د غوز په ښاخ شونډو ته رنګ ورکوې، د ریدي د ډنډر په څنګ کښې د نیمګړي سپرلي اؤ د ګل د مرګ تماشه کوې اؤ د بېوفا بلبل په سندره کښې د ګل چرچې اؤرې.
پاڼې!
نه نه نه!

یۀ څوک خو شته، چې هر سحر دې مخ وینځي! په مخ دې له چربانګه تر نمر ختلو پورې هم زیږي، هم مُري.
پرخې!
پوهه ئې کړه!!!!!

پښتو
pukhto.net

## ما ته یاد شي

ما اؤ هغۀ به په یوه کوڅه کښې لوبې کؤلې.هو! دغه وخت ؤ، چې له هر رنګ بند بزونو بې خبره وو.نۀ به بابا قارېدۀ، نۀ د چم مولاي صېب .نۀ به مشر ورور را ته بد بد کتل، نۀ به د چا په سترګو کښې راتلم. کۀ پېزار به نۀ ؤ، نو مور به را ته قارېده، خو سر به مې هر وخت سرتور ؤ.هېڅ به ئې را ته نۀ وئېل.

هغه هم له هر بندېزه ازاد وو۔ زمونږ په کوټه کښې به دننه ناست وو اؤ لوبې به مو کولې۔ پټ پټونې به مو کول اؤ د کلي په کوڅو کښې به مو تؤدې منډې وهلې۔ ښوونځاي ته به هم يؤ ځاے تللو اؤ د کور سره به مو وړانه وه۔ مور اؤ ورونړو به په زور کور ته راوستلو۔

زما به څنګ هېر شي؟

وختونه په ادم څۀ څۀ نظارېويني؟

پرون مازيګر د مور کور ته تلم۔ خپل يؤ ماشوم مې په غېږه کښې نيولے ؤ اؤ مشر ځوي مې د سړي سره مخکښې روان ؤ۔ د ګودر سره څېلمه لار کښې بيخي په زيږ مازيګر هغه مخې له راغے۔

ناشنا کيفيت سره مخ شوم۔ کۀ غږ مې پړې کوۀ، نو سړے مې زۀ ښۀ پېژنم، چې وژلم ئې اؤ کۀ نۀ مې کولو، نو تېنګېدے نۀ شوم، چې هغه د لوبو وختونه رانه نۀ هېرېدل۔ پۀ سرې ئې سلام واچوۀ اؤ زما غږ هم د شونډو سر له راغلے ؤ۔ هغۀ هم را ته په يؤ نظر کښې دومره تېنګ ؤکتل، چې زۀ اؤ زما زړۀ پړې ؤرسيدو۔ حالاتو خو زۀ غږ ته پړېښښودم، خو هغه ئې هم دوېم نظر کتلو ته جوړ نۀ کړو۔ ما ورته څو کرته په شا ؤکتل، خو هغه ګړندے ګړندے په يوه کوڅه کښې ورک شو۔

ژوند څومره ازاد مارغۀ دے اؤ ژوند څومره تړلے بندي دے؟

# د کوه طور سېل

د "کوهِ طور" د نوم سره د نړۍ د هر مذهب خلک اشنا دي اؤ دا هغه غر دے، چرته چې موسیٰ علیه السلام د خدائے پاک سره خبرې کړې وې. د مصر د سینا په صحرا کښې مو اوږد سفر ؤکړو، چرته چې کوم شین بوټے مې تر سترګو نۀ شو اؤ سپېنتې کېتهرین درې ته ؤرسېدم. په دې اوږد مزل کښې ما ته داسې محسوسه شوه، چې لکه زۀ یواځې کس یم، چې دلته راغلے یم اؤ نور هېڅوک نشته. د سپېنتې کېتهرین درې د پېل کېدو سره د تورو اؤ سرو غرونو یوه لړۍ پېل شوله. دغلته خپل مصري ملګري فاروق سره مې لیدنه ؤشوه اؤ د رسېدو سره سم هغۀ زما له مزاجه خبر ؤ، نو یؤ کوهې اړخ ته ئې ګوته ؤنیوله اؤ ما ته ئې ؤوئېل، چې دا د هارون علیه السلام کوهے دے اؤ بل اړخ ته ئې غرۀ کښې را ته په اشاره د هارون علیه السلام قبر

ؤښودلو، په کوم چې یوه کوټه جوړه وه.زه نن بیخي هک پک ؤم، چې د کوم پېغمبر په حقله چې ما قران پاک کښې لوستي وو، نن ئې بیخي کلي ته رارسېدلے یم.د دې غرونو شا ته مشهور تاریخي کوهِ طور (ماؤنټ سیناي) یا (ماؤنټ موسز) پروت دے. سفر سْتړے کړے ؤم، نو ویدهٔ شوم اؤ سبا سحر وختي مې له فاروقه غوښتنه ؤکړه، چې زهٔ کوه طور ته نن ارومرو تګ غواړم.فاروق را ته ؤوئېل، چې زهٔ خو ځو کرته دغه غرْهٔ ته ختلے یم، بیا مې تګ ته اراده نشته. البته په لار به درته زرګونه خلک نور هم ښکاره شي، چې سېلګري به وي اؤ دغه غرْهٔ ته به خیژي اؤ زهٔ د پښو ناروغي هم لرم، نو تهٔ به یواځې لاړ شې. ورومبے خو لږ قار راغے، خو بیا پوهه شوم چې په دې لاره کښې کومه ستونزه نشته، ځکه فاروق هم ما ته یواځې د تګ وائي اؤ ما ته ئې تګلاره په نخښه کړه اؤ ځو احتیاطي خبرې ئې را ته ؤکړې.زهٔ ورمبې پړاؤ سېنټ کېتهرین بازار ته ورغلم اؤ ځان ته مې عربے لباس (اغوستن) اؤ د سر د پاره له تود نمره د ساتنې سپین اؤ سور رومیال واخستو.لکه د نړۍ د نورو مسلمانانو دغلته هم په دغه وړوکي بازار کښې د لوټ کولو دنده وه اؤ د یوې روپۍ ځیز به په سېلګرو په شل خرڅولے کېدلو. سېنټ کېتهرین ته دا نوم په دې وائي، چې له اسلامه اګاهو دغلته یوه فرانسوي یهودنه ښځه سېنټ کېتهرین زرګونه میلونه لار وهلې وه اؤ را رسیدلې وه اؤ دې سیمه کښې ئې د یوې مونیسټرۍ ورومبۍ تیګه ایښې وه. مونیسټري د یهودیانو اؤ عیسایانو ښوونځا ے وي، چرته چې مذهبي زدکړې کولې شي اؤ پادریان اؤ نن (Nun) پکښې تربیه کولے شي. ددې

ځاے ځانګړتیا دا ده، چې دلته "برننګ بوش" (هغه ؤنه) شتون لري، چې د یؤ جومات خواته ولاړه ده اؤ ښاخونه ئې له غنو ډک وو اؤ حضرت موسیٰ علیه السلام د دې ؤنې په څوا کښې رڼا لیدلې وه اؤ هم دلته ورته د پېغمبرئ زېرے شوے ؤ۔زۀ د دغې ؤنې نه چاپېره تاؤ شوم، خو نزدې ورسره ګڼې غنې وې، نو لاندې ورتګ نۀ کېدلو۔ یؤ ساعت دغلته ؤم اؤ بیا له دغه ځایه جوپې جوپې خلک کوه طور ته تلل اؤ هلته ولاړو بدوانو به اوښان په کرایه ورکول۔ما پوښتنه ؤکړه، چې له دې ځایه کوه طور ته څومره واټن دے، نو هېچا د کوه طور نوم نۀ پېژندلو، ځکه هلته ګڼ شمېر یهودیان وو۔نو بیا را ته یؤ سړي ؤوئېل، چې ماؤنټ موسیٰ ته تګ غواړې، نو دوه ساعته پېدل لار ده اؤ کۀ په اوښ لاړ شې، نو یؤ نیم ساعت کښې به ؤرسېږې۔ دغلته ټول مالدار خلک وو اؤ بدوانو به ترې سل ډالره د یؤ اوښ اخستل اؤ ما فکر ؤکړو، چې د غرۀ سړے ئې، نو غرونو کښې مزل درته کوم ګران نۀ دے اؤ پیاده روان شوم۔سخته ګرمي وه۔زما سره د اوبو بوتل کښې اوبۀ هم خلاصې شوې اؤ چاپېره تر لرې لرې کوم سیورے هم نۀ ؤ، نو بیا ډیر خفه ؤم، چې په اوښ راغلے وے، ښه به وه۔دواړه پښې مې بوټانو کښې دننه سټړې شوې اؤ ؤچ کلک غر اؤ سور نمر د پړبوتو کړم، خو چې د کوه طور سر راته ښکاره شو، نو بیا مې زړۀ سټر کړو اؤ ګړندے شوم۔د ډېر زیار اؤ کړاؤ وروستو کوه طور ته ؤختلم۔ما ؤلیدل چې دغلته یؤ مسلمان هم نۀ ؤ، ټول یهودیان وو اؤ خپلو عبادتونو کښې بوخت وو۔د کوه طور په سر یؤ چرچ ؤ اؤ بل هاغه تاریخي جومات ؤ، چې په غولي کښې ئې هغه

تاريخي غار ؤ، په کوم کښې چې موسیٰ علېه السلام څلوېښت ورځې چېله کړې وه اؤ دغلته ئې هم دغه غار کښې وخت تېر کړے ؤ. زۀ دغه غار کښې کښېناستم. د سفر سُتړيا مې هم ؤويستله اؤ يوه چپتيا مې محسوسه کړه، چې دغلته سلګونه خلک وو، خو هيچا هم خبرې نۀ کولې اؤ هغه غار کښې مې دننه ځان يؤ خونېکمرغه انسان ؤګڼلو، چې په کومو ځايونو موسیٰ علېه السلام ګرځېدلے ؤ، شپې ئې پکښې تېرې کړې وې، عبادتونه ئې کړي وو، نن په هغه ځاے کښې زۀ ناست ؤم اؤ د کلي د مولانا استاد صېب هغه اوږدې کيسې به مې مخې مخې ته کېدې اؤ د قران پاک ايتونه به مې لوستل، په کومو کښې چې د موسیٰ علېه السلام يادؤنه شوې ؤ. مازيګر شو اؤ ټولو خلکو نمرخاتۀ اړخ ته مخونه کړل. ما هم دغسې ؤکړل اؤ بيا دغه جومات کښې مې مازيګر نمونځ ؤکړو اؤ راستون شوم. د راتګ په وخت بيا هم د نرۍ تر ټولو زوړ چرچ کتلو ته ورغلم اؤ ماسخوتن هم د فاروق خوا ته مې د پښو تڼاکې ماتې کړې.

pukhto.net

پښتو
ukhto.net

## ساه

هغهٔ نوے کور جوړ وهٔ، نو په هغه ځائے ولاړه ؤنه ئې ؤوهله اؤ ځان ته ئې ځائے تړې ؤزګار کړو. پوخ کور ئې جوړ کړو. سیمتې اؤ خښتې ئې په فرشونو کښې ؤلګولې، خو څهٔ موده وروستو د غولي په فرش کښې چؤدونه ؤشول اؤ د وهلې شوې ؤنې ځېلو پکښې سرونه راپورته کړل. سیمټو اؤ خښتو له ئې ماتې ورکړه.

هغه مې ؤليدو، چې هاغه پورې غاړه لوي اؤ دنګ غر ئې نيم مات کړو. په سينه کښې ئې ورله سورنګان ؤويستل، خو غر هغسې غلے ؤ. کهٔ چا ئې ټول وجود يؤړلو، خو خوځيږي نهٔ.

هو! زړهٔ را ته په غوږ کښې ؤوئېل،

"عندليبه! ژوندي ژوندي وي اؤ مړهٔ مړهٔ".

پښتو
pukhto.net

## بله پلوشه

هغه زما وژلو له راغلے ؤ۔ له ډېره زحمته وروستو چې زما کوټې ته ئې سر را ښکاره کړو، نو په مېز يوه شمع بلېدله۔ خوا کښې ئې يؤ مړاوے ګل پروت ؤ اؤ زۀ په پرانستي کتاب اودۀ ؤم۔

توره ئې په تيکي کښې کېښودله، په ژور فکر کښې لاړو اؤ د ځان سره په ګونګېدلو شو،

"نادانه! دا مۀ وژنه! ولې پرې ځان بدناموې؟ دا خو به د اوسني چاپېريال د وحشت اؤ بربريت تماشې پخپله مړ کړي۔ دا لېونے دے چې په داسې وخت کښې چې ټکو معنې بائېللي اؤ هندسې ګويانه شوې دي، اوس هم په ټکو کښې معنې لټوي۔

# عمر له وړوکي وي انسان ـ ارمان دي

له ماښامه به د ټول کلي په کوڅو کښې ګڼه ګوڼه وه، شور شغرب به ؤ ـ په کور کښې به مور اؤ خوېندو نکريزې په لاسونو اؤ پښو لګولې ـ چرګان به حلال شوي وو. وڅکې اؤ چوارې به وينځلې شوې اؤ چڼ شوې وې، نوې جامې اؤ پېزار به را ته پلارجان جوړ کړي وو. په خبرو اؤ چغو چې به ستړي شو، نو خوب به واخستو اؤ بيا سحر د ملا د بانګ نه مخکښې به مور راويښ کړو. نمونځ له به ټول په شريکه د داجي سره جومات ته لاړو. مشرانو به د سحر نمونځ ته نوې جامې اغوستې، خو مونږ چې به له جوماته راستانۀ شو، نو مور به را ته سر د شړشمو په تيلو غوړ کړو اؤ سترګې به ئې را له تورې کړې، نوؤ جامو اؤ پېزار ته به سم خوشاله وو اؤ پلار مشر ورور اؤ مورجانې به را ته روپۍ راکړې اؤ هرچا ته به مو ښودلې ـ د چم په بلنو کښې به د هر کور کره لاړو اؤ سوچه غوړې، وڅکې، پولاؤ اؤ کوپرې به مو ؤخوړې ـ مور به را ته د وريژو غورۍ ډکولې اؤ د چرګ يؤ پوټے به ئې پرې ايښودلو اؤ د چم د خلکو کره به مو وړلې ـ چې غرمه به شوه، نو د نورو وړو سره به د کلي مېلې ته لاړو. هلته به ټالونه وو، باندېچغې به وې ـ خلکو به پکښې شربتونه، کهيرونه، پيکوړې اؤ خوارۀ شربتونه خرڅول ـ بيا به هم درې ورځې دغه سېل ؤ. د کور د مشرانو اؤ خپلوانو به مو پېسې اخستې اؤ سيل کښې به مو په ټالونو اؤ کهيرونو الوزؤلې.

وادهٔ شوې خوېندې اؤ تروريانې به شپو له راغلې وې اؤ بيا به سټنېدلې، نو مور به ور له غونزاخې پخول اؤ مونږ به ورته د نغري خواته ناست وو. تود تود غونزاخے به مو تږې خوړو اؤ د هغې سترګو ته به مو په غلا کتل، چې قارېږي که نهٔ؟ زما د تيلې نوې ټوپۍ اوس هم ما ته ياده شي، چې د اختر د پاره به را ته خوېندو په ګوتو د تېرې يوې مياشتې نه جوړولې اؤ اختر ته به ايله جوړې شوې. جينکو به تمبلونه وهل اؤ سندرې به ئې وئېلې.

عمر له وړوکے وے انسان، نهٔ لوئېدے، ارمان دے ــــ

پښتو
pukhto.net

پښتو
pukhto.net

## د نغارې لاسکیه!

په ګوتهونو اؤ برګو کښې پروت ئې یا د کوټې د ښیرنې سْتنې کوږ شوي مېخ ته د ځْوړندې نغارې د څرمنې په لړونو کښې پروت ئې.
په کلي کښې چې کله وادهٔ، اتڼ، غوبل یا اشر وي، یا د کلي د خان ځْوي ووتونه ؤګټي یا څو سرمستان د شْپې څهٔ برخه مستۍ ته ؤسپاري، نو ستا ضرورت راشي.

د نغارې لاسکیه!

نو تا راواخلي اؤ نغارې درباندې ډنګوي. ستا دومره زور دے،

چې د نغارې د ځرمنې نه ئې تپوس پکار دے یا د هغه سټړي مزدور نه چې له دیاړي راغلے وي اؤ خوب ته ئې زړۀ کیږي۔
اؤ هاهاها ریښتیا! سم تپوس ئې له هغه ګډېدونکي پکار دے، چې د نغارې په وجود کښې ئې رزق پروت دے۔
د نغارې لاسکیه!
چرې دې ځان ته کتلي چې لوښت لوښت دوړه درباندې پرته وي اؤ کلونه کلونه دې ځوک په ډډه نۀ اړوي اؤ د حاجت په وخت در ته د نائي اؤ کلیوالو پام شي؟
هاهاهاها!
د نغارې لاسکیه!
کرداري رنګونه دې زما وروڼو هم خپل کړي اؤ د غټانو د حاجت په وخت له دوړو رابهر شي اؤ خپلې ځرمنې غړبوي، خو کړنګ ئې تر بله له دې کبله نۀ رسي، چې تن سبا هر سړي سره یؤ رنګ نغاره ده۔
د لاسکو کمے هم نشته، خو بې سوره ساز ته موږ ملنګ هم نۀ ګډیږي ـــــ
د نغارې لاسکیه!
زۀ لېونے دې ځکه یادوم، چې ضمیر ته مې بې پته نۀ شم ـــــ
ځکه چې د خپلې کوتې د نغارې لاسکے هم خپل ملکیت ګڼم۔

## هغه

هغۀ خپلې مور ته ؤوئېل،
"مورې! دا سړے څوک دے، چې زمونږ کوټې ته راغلے دے؟ ما خو چرته دا سړے نۀ ؤ ليدلے؟"
اؤ هغه به ما ځان ته رانزدې کولو اؤ کوشش به مې کولو، چې غېږه کښې ئې کُلک ؤنيسم اؤ مخ ئې سم سم ښکول کړم، خو ځان به ئې را نه خلاصولو.
هغۀ د لرې نه زما تماشه کوله اؤ چې مابه ورته ترېې ترېې ؤکتل، نو زر به د خپلې مور غېږې ته ورؤلوئېدلو اؤ هغې ته به ئې په غوږ کښې څۀ ؤوئېل.
"مورې!مورې!مورې! دا سړے څوک دے اؤ زمونږ د کوټې نه ځي ولې نۀ؟"
مور ئې ما ته په زړغوني انداز ګوته ؤنيوله اؤ هغۀ ته ئې ؤوئېل،
"بچيه! دا دې پلار دے".

پښتو
pukhto.net

## زۀ درغلے ؤم

خدایه چې ستا رضا زما خطا ګڼي، ریښتیا ده، چې خدا ے دې نۀ ګڼي، خوښه دې خپله.

زۀ درغلے ؤم. یخه اوږده کوټه وه، قالین غوړېدلے ؤ. د عودو معطره خوشبو وه. د یخو اوبو یخې یخې بوتلې مخامخ پرتې وې. چاق چاق ماشومان وو. ټولو ته مې کتل. بیا ټول په قطار ؤدرېدل اؤ زۀ پکښې هم ښکته پورته شوم. خلک ټول په وار وار بهر لاړل اؤ هلته زۀ یواځې پاتې شوم، نو فکر مې کولو، چې څومره ښکلے کور لرې. څو ځل مې د ورځې راغواړې اؤ چې رانۀ شم، نو بیا وروستو به مې وهې هم.

نو زۀ درغلے ؤم ـــــ
زۀ درغلے ؤم ـــــ
خو دا ځل يواځې نۀ ؤم ـ خپل چينجن احساس هم راسره ؤ ـ ستا له کوره بهر مې ؤليدل، چې په قطار جوړ شوي ښکلي ښکلي کورونه وو ـ د کجورو اوږدې اوږدې ؤنې وې اؤ د ماشومانو د لوبو د پارک نه شور پورته کېدلو اؤ بيخي په څوا کښې مې يو تک سپين سړے چې د ګل په رنګ يؤ ښکلے ماشوم له ګوتې نيولے ؤ اؤ تېر شو ـ هغه ماشوم به ما ته په شا شا کتل ـ په ځان شکي شوم اؤ له هغه ځايه زر زر لاړم ـ
زۀ درغلے ؤم ـــــ
تا ته ستا په قالين ولاړ ؤم، خو دا ځل مې تا ته ستا ستائنه هېره شوه ـ نشه نشه اؤ ځنګېدلے ځنګېدلے ؤم ـ وجود مې موجود ؤ، خو روح مې سره له فکره په يوه خاؤرينه جونګړه کښې لے په لے د انتظار په جل وهلو مظلومو سترګو پسې ګرځېدلو اؤ بيا ئې بهر دغه خاؤرينو کوڅو کښې د هغه چا لټون کولو، چې د هغۀ ګل ګل ماشوم نه ئې يوه ګوته ټوروړلې ده ـ
زۀ درغلے ؤم ـــــ
خو دا ځل د دروازې نه راستون شوم، چې دننه ولاړ پاک سپين اؤ ښکلي ښکلي خلک چرته زما د خولې د بوي نه تنګ نۀ شي ـ
زۀ اوس نۀ درځم، چې ستا رضا خپله خطا نۀ ګڼم اؤ تا ته.... تا ته ـ... اؤ خاص تا ته خدا ے وايم ـ

پښتو
pukhto.net

## اوښکه

د درد ملګرې وه، ګرد ئې ځائے شو ـــ
د بې وجوده څیز مینه وجود ختموي. د سترګې د ګاټې په څوا کښې
د چا مزاج ته داسې ؤرسېدله، چې هم وه، هم نۀ وه.
هاهاها!!!
چا راته وئېل، "د ګل ژوند لږ وي"، خو خطا ځکه ؤ، چې ـــ
چا ورته د اوښکې د ژوند قېصه نۀ وه کړې.

پښتو ورلډ
pukhto.net

## یۀ سرې ته

زما خبره خبره نۀ وه، کۀ ستا د اؤریدلو صفت د غوږونو د غوږ پورې محدود ؤ؟ــــ

زما په نغمه کښې خوند نۀ ؤ، کۀ ستا ذوق شډل ؤ؟ــــ

زۀ نشه ؤم، کۀ تۀ خوبېدلې؟ــــ

هاهاها!

لوګے دې شم خو د انا انا په بوربنونکې تیاره کښې به ګانه شوې سترګې زما د ګوګل لوګے څنګه ؤوینې؟ــــ

راځه وجوده!

راځه! راځه!

دا نۀ دې ــــ تۀ ما سېزه اؤ زۀ به تا، چې د یؤ بل لمبې اؤ لوګې را ته په خپلو وجودونو کښې ګنې معنې لرې.

# دادم خان اؤ درخانۍ په کلي کښې مشاعره

کۀ د نورو ژبو ليکوالان لېلا اؤ مجنون يا شيرينه اؤ فرهاد يادوي، نو پښتانۀ ليکوال خپل مشهور روماني کردارونه ادم خان اؤ درخانۍ چرې هم نۀ شي هېرولے ـ د ملاکنډ سيمې په خپله غېږه کښې ډېر تاريخي خلک روزلي دي، خو د ريښتينې مينې په حواله د ادم خان اؤ درخانۍ نومونه به تر څو چې پښتانۀ د نړۍ په مخ وي، هېڅکله هېر نۀ شي ـ د [مورې] د غرۀ په لمن کښې د کوزې بازدرې کلے هغه تاريخي کلے دے، چرته چې ادم اؤ درخو زېږېدلي اؤ لوي شوي وو۔ د "تانه ادبي ټولنه" ملګري هر کال د دوي په يادګار د هغه چينې په خوا کښې، چرته چې به درخانۍ اوبو اؤ جامو وينځلو له راتلله، لويه اولسي مشاعرۀ کوي. اؤ د پښتنخوا د لرې لرې سيمو نه ورتۀ شاعران د ګډون د پاره راځي ـ د تانې ادبي ټولنې ملګرو شېر زمان سيماب اؤ ډاکټر غلام حسين ياس را ته د مشاعرې بلنه لس ورځې وړاندې رارسولې وه ـ زما په زړۀ کښې هم ارمان ؤ، چې دا ځاے به ارومرو ليدل غواړي ـ په ټاکلې نېټه د "تالاش ادبي کاروان" د ګڼو ملګرو سره دغه مشاعرې له روان شوم ـ په لار را ته اخترحسين اختر په خپل خوږ اواز خپلې غزلې واؤرولې ـ ډېر خوندور کلامونه ئې واؤرول اؤ په لار هډو پوهه نۀ شو۔ چې کله د تانې د بازار نه په لږه فاصله د مورې غر ته ګاډے ورسم شو، نو دغه تاؤ را تاؤ سړک د شنو اؤ ګورو ؤنو په

مینځ کښې نۀ هېرېدونکې ښکلا لرله۔ لاندې ترې د سوات د سیند شنې چپې ښکارېدلې۔ کله چې ګاډے د غر بل اړخ ته ور ؤختلو اؤ د غرۀ نه کوزېدلو، نو د مالټو شنۀ شنۀ باغونه شروع شول۔ د دغو باغونو په مینځ کښې سړک تېر شوے ؤ اؤ ځاے په ځاے د مشاعرې مېلمنو ته د هرکلې بېنرونه لګېدلې وو۔ کله چې د مالټو د یؤ اوږد باغ په مینځ کښې ؤوتو، نو خوړ ته ؤرسېدلو اؤ د لرې لرې نه ګڼه ګونړه په نظر راتلله۔ چې نزدې ورغلو، نو د تانې ادبي ملګري را ته په خنداګانو کښې راغاړوتل۔ دا هغه چینه وه، چې درخانۍ به ورته اوبو د پاره راتلله اؤ چینې ته مخامخ هغه ګړنګ ؤ، چې د خداے پاک په قدرتونو په مینځ چاؤدلے ؤ۔ د دغه ګړنګ شا ته به ادم خان د رباب تارونه چېړل۔ د کلي سپین روبو را ته ددې حقیقي داستان په حقله رنګ رنګ اؤ خوندورې خبرې ؤکړې۔ د دغې چینې خوږې اؤ یخې اوبۀ مې د تندې له حده ډېرې ؤڅښکلې۔ د ګپونو نه وروسته دغه خوندوره مشاعره پېل شوله۔ خلکو به شعرونه اؤرېدل، خو زما سترګې له هغه ګړنګه بلخوا نۀ اؤړېدلې۔ د مشاعرې مشري د پښتو اکېډمۍ پخواني مشر ښاغلي پروفېسر محمد نواز طائر کؤله۔ په څنګ کښې ورسره خالقداد امید اؤ نور د علاقې ایم پي اے اؤ ناظمان ناست وو۔ د سلو نه زیات شاعران راغلي وو۔ هر رنګ شعرونه مو ترې واؤرېدل۔ د مشاعرې په دوران کښې به د دغه ځاے ملګرو د دغه باغونو تازه مالټې په مېلمنو ویشلې۔ ډېرې خوږې وې، خو د خلې خوند را له پروفېسر فضل کریم ناشاد هله خراب کړو، چې د اردو غزل ئې ؤوئېلو۔ پروفېسر

صيب په کالج کښې د پښتو ژبې استاد دے.زۀ خو د خپل عادت نه مجبور يم، نو تکرار مې ورسره ؤکړو، خو هغۀ په خندا کښې خبره ګول مول کړه.د مشاعرې نه وروستو د مېلمنو د پاره د پولاؤ دېګونه پاخۀ شوي وو.داسې ښکاربدله، لکه د چا وادۀ چې وي. ټوله ورځ مو د دغه تاريخي چينې اوبۀ ؤڅښکلې اؤ د ماښام په تياره کښې خپل کلي تالاش ته راؤرسېدو.

خو دا ورځ را نه کله هم نۀ هېرېږي.چې د چا په شعر کښې د ادم اؤ درخو ذکر واؤرم يا ؤلولم، نو زړ مې هغه چينه اؤ د هغه چينې يخې اوبۀ رايادې شي اؤ نواز طائر صيب مې مخې تۀ ؤدرېږي.

پښتو
pukhto.net

## شلغاتي

د هاړ په سْره غرمه کښې ئې ګورګوره راڅنډله. فکر واخسته، چې د ګړنګ په کْلکه اؤ ؤچه سینه کالوسر په شْنو پاڼو کښې پټه ؤنه د ګرمۍ په انتها کښې مېوه داره شوه؟

سْرو شونډو له ئې تور ماتمي رنګ ورکړو اؤ د نخښتر سیوري ته په پستو برو ډډه شوله.

مخامخ سېرۍ پخپل ښاخ تماشه جوړه کړې وه ـ د ګبینه مچو د ګبین غنډوسکے جوړ کړے ؤ اؤ د غْړۀ د ګلونو خوږ رس ئې د سېرۍ په ازغنو پاڼو څڅولے ؤ.

د غْوریجه په چڅچۍ یوه ښکلې رنګینه لولکۍ کښېناسته. په یوه وزره کښې ئې سلګونه ګلونه جوړ شوي وو، چې دواړه وزري ئې پْرانستے، نو هغې ته ئې د رنګونو اؤ ګلونو کتاب مخې ته کېښودلو.

په پښه ئې مېږے روان ؤ، پام ئې شو ورته، چې د څۀ په لټون کښې سرګردانه ؤ. په وړوکي سر کښې ئې دوه ټيغې سترګې، د ټېنکۍ په شان اوږده خېټه، بې شمېره پښې اؤ د امبور په څېر خُلۀ کښې ئې د خوراک توکي کُلک نيولي وو اؤ تېز روان ؤ.
هغې د ګورګورې په دانه کښې، د سېرۍ په پاڼه کښې،د لولکۍ په وزر کښې اؤ د مېږي په خُلۀ کښې د چا ديدار ؤکړو.
مازيګر ساه ورکؤله.د کاجان ماما له کوره د تنور شين لوګے پورته کېدلو.د توت ؤنې ته ئې پام شو، چې مرغۍ خپلو ځالو ته راستنې شوې اؤ وړو بچو ئې ورته د خوشالۍ نه پخپل مخصوص ترنم کښې سندرې وئېلې، نو هغې د خپل مسافر ملګري په قسمت ترمې ترمې اوښکې تُوي کړې.

pukhto.net

# لېونتوب

ددې ټکي یا سرې کوټلے تعریف مې تر اوسه ؤ نۀ موندلو. کۀ بازار کښې ګرځېدونکي، کنځلې کوونکي یا ترې ویشتونکي ته ئې وایم، نو غني خان به خفه شي اؤ کۀ غني خان ته ئې وایم، نو دا ټکے د سوچ ور دے. بیا چې فکر ؤکړم، نو یوه نکته مې مخې ته شي. چې نور لېوني ځان ته پخپله لیوني نۀ وائي اؤ له دې خبر هم نۀ وي، چې مونږ لېوني یو اؤ دا نور خلک روغ دي، خو غني خان ځان ته پخپله لېونے وائي؟ د سوچ کړی مې بل ځاے ته ؤرسي اؤ د خپل کلي یؤ لېونے شاکر مې نبغ مخې ته ؤدرېږي. د ؤنو د یؤ ګور ټل نه د "کُو. کُو. کُو. ګُو" غږ راتللو. ما مې خپل ملګري سپفور ته ؤوئېل، چې په دې تور ماښام اؤ د څلې په یخه شپه کښې دغلته انسان څۀ کوي؟ زما شک ؤ اؤ د سپفور پوخ یقین ؤ، چې دا غږ د انسان دے، نو زۀ اؤ سپفور په وېره وېره د ؤنو ټل ته چې څو پخواني لوئېدلي قبرونه هم پکښې وو، نزدې شو. چې ټل ته دننه شو، نو وېرې واخستلو، ځکه چې دغه غږ د قبرونو د څوا نه پورته کېدلو. زما په مزغو کښې هغه د منکیرنکیر سوال ځواب اؤ د تبلیغي ماما د قېصې هغه غټې غټې ګرزونه تاؤ راتاؤ شول. سپفور ښۀ ډاډه ؤ، خو چې ما ورته د قبر د عذاب خبره ور یاده کړه، چې "دا خو را ته دغه قېصه ښکاري، هسې نۀ څۀ زیان را ته ؤرسي،

مخکښې نۀ ورځو"، نو د سپفور نه هم زړۀ ؤوتو. رنګ ئې تک زيړ شو او خپله اراده مو بدله کړه او بېرته راستانۀ شو او سپفور ته مې وئېل، چې مونږ هم لېوني يو ،چې په غرونو پسې ګرځو او منډه مو کړه ـ په منډه منډه کښې د سپفور په زړۀ څۀ چل ؤشو او را ؤغورځېدلو. ما ورته ډېرې چغې ؤوهلې، خو څوند ئې ؤ نۀ کړو. سپفور مې اوږو ته پورته کولو، چې ؤنو اړخ ته مې ؤکتل، نو څوک راروان ؤ. د زړۀ دُرزا مې نوره هم تېزه شوه. سپفور مې په هغه ځاے پرېښودلو او منډه مې کړه. په منډه منډه مې ځان د سپفور کور ته ؤرسولو او په ور مې راباندې کړل. خو له دننه را ته د سپفور مور غږ ؤکړو، چې ور خو بېرته پرُوت دے، څوک ئې؟ چې دا تمبې دې را ته ماتې کړې. زۀ چې کور ته ورغلم، نو ټول را ته اکه پکه شول، خو څوک مې خبرې ته پرېښې نۀ وو او د سپفور مور ته مې ټوله خبره په زر زر کړې وه. د سپفور د مور په چغو او زوږ خپلوان او د چم ټول خلک راغونډ شول او د ؤنو ټل ته مو مخه کړه ـ چې د سپفور خوا ته ورنزدې شو، ناست ؤ. زړۀ مې لړ په ځاے شو، چې بلا وه، خو برکت ئې نۀ ؤ. د سپفور د خلې نه خبره نۀ ختله ـ د کلي هلکان د قبرونو اړخ ته ورغلي وو، چې هم هغسې د بنيادم غږ ترې پورته کېدلو او څۀ هلکانو د قبرونو د خوا نۀ چغې کړې،

"راشئ راشئ! وګورئ!"

او ټولو خلکو ورمنډې کړې او زۀ هم ور ؤرسېدم او څۀ ګورم چې په يؤ سوري اؤ لوېدلي پخواني قبر کښې شاکر لېونے ناست دے، په مخامخ شونډه کښې ئې نسوار لګولي او د کلي په خلکو پورې

ئې په بْرق بْرق خاندل. هلکانو د لاسونو نه ؤنیولو اؤ کلي ته ئې راوستلو. دغه روغه شپه مې د اور غاړې ته ؤویستله اؤ په ځان پورې مې سم ؤخاندل. سبا چې د سپفور خْوا ته لاړم، نو ټول خپلوان تْرې چاپېره ناست وو. بْرستن پْرې خْوره وه اؤ د کلي ډاکټر هم راغلے ؤ. په دغه حال کښې پْرې لس ورځې تېرې شوې اؤ بیا ئې د سیمې روغتون ته ؤرسولو. د څو میاشتو علاج نه وروستو هغه د ګرځېدلو جوګه شو، خو په لېونو کښې ځکه شمار شو، چې حافظه ئې ختمه شوې وه اؤ بې له ژړا اؤ خندا به ئې هېڅ نۀ وئېل. په ګرېوانۀ ئې لاړې بهېږي. هر څوک تْرې کْرکه کوي اؤ چې په کوڅه یا بازار کښې ئې د کلي د ماشومانو په مینځ کښې ؤوینم، نو ژړا راشي اؤ ځان را ته وحشي ښکاره شي، چې ګوره! دا ستا هغه خوږ ملګرے دے، چې ستا د یؤ وهم له کبله پوخ لېونے شوے دے. خو له دې وېرې په ژور سوچ کښې نۀ ځم، چې هسې نۀ، زما نه سپفور جوړ شي. اوس چې د سپفور لېونتوب ته ګورم، نو د دۀ د لېونتوب انداز ناشنا دے. د شاکر لېونتوب خو را ته باغي اؤ بې پروا لېونتوب ښکاري، خو خبره د غني د لېونتوب کوو. زما په خیال ځان ته ئې لېونے په دې خبره وئېلو، چې د زړۀ په سترګو ئې د دې دنیا دا روغ خلک نزدې نه لیدلي وو. له عملي سیاسته ځکه لرې ؤ چې سم ئې لیدلے ؤ. کاروباریان وکیلان ډاکټران اؤ د ژوند د هرې طبقې خلک ئې لیدلي وو. مال اؤ دولت ئې خپل ډېر ؤ اؤ د دې نړۍ د زمکې اؤ جسماني ډولونو ننداره ئې له هرچا ډېره کړې وه. د دې زمانې د روایتي فنکار تماشه ئې د ډېرو ډېره کړې وه. څو مذهبونه

اؤ د څو ژبو ادب ئې لوستلے ؤ اؤ چې د دې ټولو خبرو باوجود ئې ځان له د لېوني نوم خوښ کړے ؤ، نو فکر پرې پکار دے۔ لکه چې هرڅوک وائي، چې يره! فلانے سړے له خدايه نۀ وېرېږي۔ نو غني وائي، چې ياره! وېرېږو تُرې څۀ د پاره؟ وېرېږي خو سړي د ضررې څيز نه۔ چې زيان رسوي لکه مار، لړم، سپے اؤ نور څيزونه اؤ خدا ے پاک خو په خپل بنده له موره هم ډېر خفه کيږي اؤ غني به خپل رب ته "جانان" وئيلو. لکه خلک چې د قبر د بوي اؤ نومه وېرېږي، خو شاکر پکښې نسوار لګولي وو اؤ پروا ئې هم نۀ وه اؤ په مونږ پورې ئې خاندل۔ غني د روايتي اؤ ګوتې مُلا ملګرے ځکه نۀ ؤ، چې د وهمونو تخمونه کري، له ژونده منکر وي اؤ دا خوږه نغمه ورته سانده ښکاري۔ د استاد د خلې وتلې خبره لکه د ټېپ ريکارډر يؤ نسل نه بل ته منتقل کوي اؤ د عملي اؤ علمي تحقيق ګڼ کتابونه ورته بکواس ښکاري۔ د کتاب نه خبره شخص ته ؤرسي اؤ شخص يا فرد خو خپل انساني مفاد هم لري، نو دغلته تيندک ؤخوري اؤ دغه تيندک غني خان په ځانګړې فني بڼه د شعر په ژبه په ګڼو پردو کښې نغښتے بيان کړے دے اؤ له دې کبله چې هغۀ رب ته جانان وئيلي، ځان ته پخپله لېونے وائي۔ خو د مُلا په خبره کښې ورته څۀ نا څۀ خلک هم لېونے وائي۔ د لوړې تندې ذکر ئې په کلام کښې د نيشت برابر دے، دا ځکه چې هغه د انسان له مقامه خبر ؤ اؤ جانان ته ئې نۀ د ځان د پاره اؤ نۀ د بل د پاره د دنيا سوال کولو اؤ يواځې د مينې په نوم ئې د مينې سوال کولو، خو هغه هم په کوزو سترګو نۀ۔ اؤ دا د خودئ پنډوکے ئې د لوستنې

وروستو بیا لوستونکي ته د دنیا له هره ګوټه ځلیږي. خبرې ډېرې اؤ سر ئې يؤ، خو غني پوهېدلو، چې ګڼ ناپوهان مې لولي، نو لېونے به را ته وائي اؤ چې کوم رسېدلي اؤ پوهه خلک مې لولي، نو هغوي ته به دا نور خلک لیوني ښکاري. نو د احتیاط د پاره ئې هم ځان ته لېونے وئېلے دے اؤ د دې خبرې ثبوت ئې هم ورکړے، چې ځان له قامه بېل نۀ ګڼي، نو د لېونو سره چې دې کلے شي، نو د لېوني د نامې نه انکار کول هم بیا لېونتوب وي.

پښتو
pukhto.net

## خر

چې څوک چرته د کم عقلۍ مثال ورکوي، نو خر یادوي ـــــ چې څوک د بېوقوفۍ کار وکړي، نو خلک ورته خر وائي ـــــ

چې د نزدې نه مې خر ته وکتل، نو خفه شوم پرې ـ اوږد مخ، هواره پوزه، نېغ اؤ ږقېدونکي غوږونه ـ په غټ وجود کښې وړوکے سراوهغه هم له عقله تش ـ د خپل ساتونکي بې کچه منونکے اؤ په خوراک مئېن ـ په سوچ کښې ځم ځم ځم، چې د خپل کلي اینځرګل مې مخې ته نېغ ودرېږي ـ د موصوف څو اوصافِ حمیده د خر نه کم نهٔ دي ـ د ملک بابا د ځوي چې کله هم جلوس یا جلسه وي، نو اینځرګل پکښې له هرچا وړاندې وړاندې وي ـ توغ ئې په لاسونو کښې نیولے وي اؤ خپله مرۍ په چغو وشلوي ـ په پردي وادهٔ اؤ خېرات کښې زر زر مجمې چلوي اؤ په ناظرۍ کښې ئې ثاني نشته ـ

ukhto.net

د مړي د کور وړومبې اؤ اخيرې مېلمه موصوف وي اؤ د قبرونو کنيستلو کښې مشهور دے۔ په سياسي مباحثو کښې ئې د چا پلار نۀ شي پړ کولے۔ د جارج بوش د مور اؤ پلار نومونه، د طالبانو په حقله کره معلومات، د اسامه د اوسېدو ځاے، د چين اؤ روس د ايټمي بمونو شمېر د اينځرګل نه پټ نۀ دي۔ خو کۀ څۀ تْرې پټ دي نو هغه د اينځرګل خپل ذات دے۔ څلور ځامن ئې دي۔ دوه په پْردي هوټل کښې لوښي وينځي، يؤ په ګاډي کښې کلينډر دے اؤ يؤ د کلي مشهور جوارګر اؤ پوخ چرسي دے۔ پخپلو بچو کښې ئې په يؤ هم سبق نۀ دے وئېلے اؤ کۀ چرته ئې په کوڅه وريښن شوې، نو د اينځرګل کور به د شور شغرب اؤ شرونو له کبله له وْرايه ؤپېژني۔ نو بيا را ته خر راياد شي۔ لکه د اينځرګل بلا اوصاف لري۔ له سحره تر ماښامه دْرانۀ پېټي چلوي اؤ چې د کار ځاے ورته يؤ ځل په نخښه شي، نو بيا ورپسې شا ته د چق چق حاجت نۀ وي، خو پېټے پْرې رډه اؤ ځاے ته به ئې رسوي اؤ بيا به ځان رارسوي۔ چې چرته شين فصل يا خْرۀ ؤويني، نو لکه د اينځرګل خپله مرۍ په هڼ ؤشلوي۔ خو په هڼ کښې ئې پټ موسيقيت هوښياران خْرۀ لټولے شي۔ په ځانګړې توګه چې د غْرۀ په لمن کښې ئې غږ په غْرونو کښې تمبيرږي راتمبيرږي، نو ما ته د پاپ موسيقۍ د ګډېدونکي سندرغاړي غږ مخې ته شي، چې خوږلت پکښې بيخي نۀ وي اؤ د ځان سره ټول اؤرېدونکي هم په حرکت مجبوروي اؤ ټول مېلس ټالۍ وهي۔ خر چې په جلال کښې راشي، نو کله کله د خپل ساتونکي نه بغاوت ؤکړي اؤ ما ته د خپل

وطن پوځي حکمران رایاد کړي، لکه خر چې لتې اؤ دانګوچې پېل کړي، نو شنۀ فصلونه اؤ پردي ماشومان هرڅۀ چقوي ـ دغسې پوځي واکمن د وطن ټولې ادارې ؤچقوي اؤ د انصاف په ځوکۍ بې غوړونو خر کښېنوي اؤ هغه ورله دغه ټول غوبل روا کړي ـ د دې حالاتو په ليدلو څۀ سياسي خرۀ هم د خپلو غوجلو نه هڼ پېل کړي اؤ د خر امامتې ؤمني اؤ بيا ئې ورشونړونه په کلونو کلونو په شنۀ خيد کښې پټ وي ـ ځم ځم ځم! بېرته مې عقل د خر په وجود کښې ورک شي اؤ وايم، چې کۀ خر ته هر څوک کمعقل اؤ خر وائي، خو زړۀ مې دا خبره نۀ مني ـ ځکه چې د خر له دې خوبۍ نه انکار د خرو کار دے، چې د خپلو اوصافو د اثر لاندې ئې نيمه نړۍ راوستې ده ـ د هڼ انداز ئې د لتو وهلو د انداز نه زړۀ راښکونکے دے اؤ د خپل پالونکي سره د وفادارۍ انداز ئې د بل هر څاروي نه نور زړۀ راښکونکے دے ـ

pukhtoogle.net

**خان خان دے کۀ زۀ خان یم؟**

د پتي په پوله ناست ؤم ـ د ټولې ورځې سٌتوماني مې د يار په مشغولا اؤ د ريدي د يؤ ښکلي ګل تماشې ختمه کړه ـ د خان پټے نور د خان دے، خو مازيګر پکښې زما خاني وي ـ خان تړې لکه د ثاروي غنم اؤ جٌوار خٌوري اؤ زۀ پکښې لکه د نواب د خمار فصلونه کالوسر شنٌۀ ساتم ـ

زۀ پکښې د نيمې شپې هسکه غړۍ د سٌپوږمۍ په پلوشو لامبم ـ د سٌتورو سره جرګې کؤم ـ د توري شپې د تورې وړې ګټې خٌوا ته د تور کيرړي د اواز په ساز کښې سوز لټؤم اؤ د خالق د تخليق دا کمال مې د جمال د نزاکتونو هغه حد ته ؤرسوي، چې چرته عقل کار پرٌېږدي اؤ سړے جنون ته موتاز شي ـ اوس جنون پخپله داسې راز دے، چې د مجنون په سر کښې نشته، خو په زړۀ کښې ئې شته ـ خبره نوره ګرانه شوه ـ جنون د سر نه ډډه کؤله، ولې چې دغلته د عقل خاني وه اؤ د زړۀ نه بهر ځکه نۀ راوتلو، چې ټولو خلکو ځانونو ته عاقلان ويئل ـ نو په چا به ئې خپل مقام منلو؟ په دې مجبور شو، چې په زړۀ دننه خپله ګوزاره ؤکړي ـ د زړۀ په دشته کښې ئې يؤ کور ؤليدلو ـ د دغه کور دوه اوسيدونکي وو، چې نومونه ئې هم مذکر اؤ مؤنث وو ـ د دغه کور د دغه جوړې تماشه هم عجيبه وه، چې يؤ به ؤ، نو بله به نۀ وه اؤ چې بله به وه، نو بل به غيب ؤ ـ يوه ورځ دواړه يؤ ځاے شول، خبرې ئې کولې، نو دۀ ته ئې نومونه معلوم شول، چې دا نر غم ماما ؤ اؤ دا ښځۀ خوشالي مامي وه ـ د دغو دواړو د تګ راتګ تماشې هم سٌترړے کړو اؤ دغه ځاے

ئې پرېښودلو. چې لږ وړاندې لاړلو، نو د زړۀ د دشتې بل ؤسېدونکے ئې ؤليدلو. د هر څۀ نه بې نيازه يواځې ناست ؤ، چې په جنوني نظر ئې ورته ښکته پورته ؤکتل، نو د وجود ځېلې ئې په ټوله دشته کښې خورې شوې وې. د دۀ نوم "درد" ؤ. جنون پوهه شو چې د دۀ په وجود کښې زما د وجود بقا ده، ځکه چې کۀ دے د زړۀ له وجوده بهر شي، نو زړۀ خپل اصلي وجود بائيلي. نو ورځېلمه شو. دلتۀ ئې ډېر زړۀ دردونکے محفل ؤليدلو. د درد نه شاؤخواته د زغم قالينونه غوړېدلي وو. د خواهشونو ګڼ کوربانۀ د ارمانونو د شاميانو سيورو ته ناست وو. دغه محفل ته د جنون ورتګ ډېر ګټور شو. د اوږد انتظاره ستړو د جنون د شکل په رنګونو کښې د خپل منزل نخښې ؤليدلې. د درد په مشرۍ کښې په شريکه د جنون ملاتړيان شول اؤ بيا جنون د خپل لښکر په زور د زړۀ په دشته کښې خاني کؤله اؤ په ترتيب ترتيب ئې د رګونو په لارو د وجود نورو اندامونو ته خپلې سرې لښکرې ؤلېږلې. عقل داسې ماتې ؤخوړه، چې د دغه لښکر مقابله ئې نۀ شوه کؤلې، نو د سر د سيمې نه ئې هم کډه ؤکړه. عقل چې څۀ غوښتل، د جنون د پاره هېڅ نۀ وو اؤ جنون چې څۀ لټول، د عقل په هغې کار نۀ ؤ. نو جنون ئې خپل باچا ؤمنلو.

اوس خان لکه د ښاروي د غنمو اؤ جوارو فصلونه خوري، ځکه چې عقل ورته دغه وائي اؤ زۀ پکښې په زېړي مازيګر کښې د خمار تخمونه کرم، ځکه چې جنون را ته دغه وائي.

اوس تاسو ؤوايئ، چې خان خان دے کۀ زۀ خان يم؟

# چینجي

د سمندر په غاړه بنده سیپۍ پرته وه. په ګوتو کښې مې زور ورکړو، خو ډېره کلکه وه، نو په کاڼي مې کېښودله اؤ بل کاڼے مې ورته رو غوندې را واچوۀ. دننه پکښې یؤ چینجے ؤ، چې سترګو مې چرته داسې رنګ چینجے لیدلے نۀ ؤ. په سر ئې یو څو زیړ وېښتان وو اؤ په ملا اؤ ګېډۀ ئې تورې اؤ برګې کرښې وې. سوچ مې ؤکړو، چې د اوبو مخلوق دے، نو د اوبو نه بهر به تر ډېر وخت ژوندے پاتې نۀ شي، نو د سمندر چپو ته مې ؤسپارلو. کور ته چې راغلم، نو ماښام ؤ. د خوړلو څښکلو اؤ د بچو سره د مشغولا نه وروستو اودۀ شوم. په خوب کښې مې هغه چینجے ؤلیدلو. خوږې خوږې خبرې مې ترې واورېدلې. ما ترې پوښتنه ؤکړه، چې په دغه ځاے د کله نه پروت وې اؤ زما د کاڼي ګوزار خو خوږ کړے نۀ

وي؟ چینجي ؤخندل اؤ را ته ئې وئېل، چې د وختونو په حساب خو نۀ پوهېږم، خو ستاسو د دنیا هنګامه مې لیدله نۀ، خو اؤرېدله مې ـ ستا راتګ نه اګاهو مې بلها خلک په خوا تلل راتلل ـ چا به د مینې محبت قېصې یؤ بل ته کولې اؤ چا به د دنیا د سودا بحث کولو ـ د مینې بحث ته ډېر ؤپسخېدم اؤ په زړۀ کښې مې له خپله ربه شکوه ؤکړه، چې ربه! انسان دې ولې نۀ پېدا کولم؟ خو دغه ارمان مې لا زوړ شوے نۀ ؤ، چې د سوداګر د سود اؤ زیان ؤچې اؤ بې مینې خبرې مې واؤرېدلې، نو پخپل وجود مې شکر ؤویستلو ـ زۀ لا په دغه تلوسو کښې ډوب ؤم، چې ناڅاپه تۀ ښکاره شو اؤ تا له سیپۍ نه رابهر کړم ـ تا ما ته کتل اؤ ما ستا د مخ تماشه کوله ـ ستا سترګې ښکلې وې، خو په تندي دې بلا ګونځې وې ـ زۀ وېرېدم، چې چرته مې په سرو غرمو نهرو مرغیو ته ؤ نۀ غورځوې ـ ساه مې رو رو بندېدله، خو تا اوبو ته راؤشغولم ـ دلته بیخي ناشنا حالاتو سره مخ شوم ـ خپل وړوکے وجود مې د یوې سمندري ځېلې په جاښ کښې پټ کړو اؤ تماشه مې کوله ـ غټو کبانو به واړۀ کبان ژوندي تېرول اؤ وړو کبانو به زما غوندې چینجي خوړل اؤ چینجو به د ځانه واړۀ چینجي، لښې اؤ د لویو کبانو د مړو اؤ وړستو شوؤ بوټو وړستې غوښې خوړلې ـ دا ناروا دلته د تېرو څو ساعتونو نه وینم اؤ د را روان وخت هېڅ پته نۀ لګي، چې څۀ به راسره کیږي ـ

ما ورته ؤوئېل، چې زما چینجي ملګریه! انسان خو له سمندري مخلوقه ډېر وحشي دے ـ ځکه چې دغه مخلوق خو یؤ بل خوري، خو دا مخلوق کبان، غوا، بیزې، چرګان اؤ د دې نه سېوا شین

بوتې خو ئې د زمکې په مخ پرېښښودلو اؤ لکه دغلته چې غټ کبان وړه کبان اؤ چینجي خوري، دلته د دې ځاے زورور د کمزورو وینې څښکي۔ چې څوک څومره زورور وي، هغومره ظالم وي۔لوي اؤ طاقتور ملکونه د کمزورو ملکونو په ماشومانو بوډاګانو اؤ ښځمنیو باندې د ؤسپنو اؤ هلاکونکو ګېسونو اؤ بارودو جوړې وسلې استعمالوي۔ يؤ اړخ ته خرمستیانې کيږي اؤ خوراکي توکي ذخیره کيږي اؤ بلخوا ځنې انسانان د لوږې نه مري۔ لکه تا چې ؤوئېل، چې لږ ساعت پس پته نشته، چې څۀ به راسره کيږي؟، والله ما ته هم پته نشته، چې لږ ساعت پس به راسره څۀ کيږي؟ کېدے شي، چې د بې پایلته الوتکې (ډرون) د توغندي ښکار شم۔ نو چینجي را ته ؤوئېل، چې تۀ هم د دې ظالم نظام برخه ئې، نو نور نۀ غواړم چې خبرې دې واؤرم نو لاړو اؤ سر ئې جانب ته دننه کړو۔

pukhto.net

# کرکڼې

ګله! ستا په زېړ رنګ کښې مې د چا زېړ رنګ ؤلیدلو.

دانه ئې، تیغې شې، ډنډر شې، غوټۍ شې اؤ ــــ

اوبۀ یم، غوښه شم، هډوکې شم، وجود شم اؤ ــــ

ښائسته ئې ـ په پرخه مخ ؤوینځې ـ چې نظر ؤکړې، نو وجود دې د غنچې برخه وي ـ خپله کوړمه ؤپېژنې اؤ د سپرلي باد ته وږمې بخښې ــــ

ښائسته یم ـ د شعور په درشل چې قدم کېږدم، نو د کور خلک اؤ خپلوان ؤپېژنم اؤ د ژوند په ښکلا نړۍ ته ځلا بخښم ــــ

سپرلے لاړشي ـ په پاڼو دې تور داغونه ؤلګي ـ د هر راختونکي نمر سره دې وجود په ؤچېدلو شي ـ یوه یوه پاڼه دې بې وفاي کوي اؤ ــــ اؤ ؤچ شې، ؤرژېږې ـ خو د خپل چاؤدلي زړۀ نه په زمکه د راتلونکي سپرلي د پاره څو زڼي ؤشیندې ــــ

ځواني لاړه شي ـ وښتهٔ مې سْپين شي ـ په مخ کښې کُوتونه جوړ شي ـ مرضونه مې راګېر کړي ـ ملګري مې يؤ يؤ فنا کيږي اؤ ـــــ اؤ د اولاد په شکل کښې د نړۍ د راتلونکو هنګامو د پاره خپلې نخښې پرېږدم ـ

ښکلي ګله!

ښکلي ګله!

اوس خو خبر شوې، چې په تاکښې زهٔ يم اؤ په ما کښې تهٔ ئې ـ

څومره لنډ ژوند لرو ـ چې د چاپېرچل سره اشنا کيږو ،نو فنا کيږو ـ دا څهٔ چکر دے؟

ددې تماشې تماشبين خبر دے، چې دا تماشه د څهٔ د پاره ده اؤ د دې تماشې مداري اؤ شادوګي به تر څو لوبوي اؤ د بلې لوې تماشې د ورځې نمر به کله راخېژوي؟

pukhto.net

# تړ ے تړ ے

درې کلونه شوي وو، چې د هغې سترګې مې نۀ وې ليدلې. خدا ے شته، مخ ئې را نه داسې هېر هېر ؤ. د درې ورځو نه خبر شو ے ؤم، چې هغه وطن ته راغلې، چرته چې زۀ ژوند کوم، خو زما نوکري هم عجيبه ده، چې رخصتي پکښې په ګرانه کيږي. بيا هم هر څۀ مې هېر کړل اؤ د ملګري سره موټر کښې کښېناستم. ترهغه ځايه زر کلوميټره سفر داسې ؤ، چې ما به ملګري سره چا ے هم هوټل کښې څښکلې وي، بلها کيسې به هم شوې وي، خو زما سترګو ته هغه دوه سترګې نېغې ولاړې وې، د کومو د ليدلو ارمان چې ما اؤ هغې د هر نمانځۀ نه وروستو دعا ګانو کښې ژړلو. زېړ مازيګر شو. ما لکه د کفن دوه سپين څادرګي واغوستل. زما اؤ د هغې ترمنځه څو دقيقې وې. د زړۀ درزا مې زياتېدله اؤ خُولې مې د مخ نه څڅېدلې. لږ وخت د حرم شريف په پوړو کښې سوري ته شوم اؤ د هغې نه مې په فون ځا ے مالوم کړو اؤ نور کله چې زۀ حرم شريف ته لاړ شم، نو نفلونو اؤ طوافونو کښې بوخت شم. خو دا ځل را نه هرڅۀ هېر وو. تر درېم منزله په پوړو په توندی توندی ؤختلم. هلته ډېره ګڼه وه. ټول يؤ رنګ سپين لباس ؤ، نو زۀ پکښې اوتر اوتر تاوېدم. يؤ ځوا بلخوا مې کتل. د سترګيا له کبله مې اغوستے احرام له اوږو خوئېدلے ؤ اؤ پښې مې په نمر وهلي سيمنټي فرش سوزيدلې، چې يؤ غږ مې واؤرېدلو.

هو! هو! د دې غرې سره زما غوړونه د ځانګو د الله هو د ورځې اشنا وو ـ اؤـــــ اؤـــــ اؤ بيا د هغه شوندو يخوالي مې په خوله خوله تندي لکه د واؤرې پرېوتلو اؤ د مودو نه د مورجانې ترې مينې هېڅ نۀ ليدل ـ لکه ما چې به تے خوړلو. چاپېره ناست اؤ ولاړ خلک په تماشه وو. زۀ ئې ځان ته راجوښت کړے ؤم اؤ د درې کلونو زما برخه اوښکې ئې را ته په مخ لړې لړې کړې ـ

"څنګه ئې زما بچيه؟!!!!!"

پښتو
pukhto.net

## هاها!!!

زۀ درتلم، خو پاکې جامې مې نۀ وې. تا وئېل، ډېر پاک انسانان راغلي دي. فکر مې کولو، چې په ګونجو ګونجو جامو اؤ سُتر ښيرن پکول کښې درشم، نو بيا هغه نوې بوررګي راپورې خندا کولے شي، نو هغه پتلون اؤ شرټ، کوم چې زۀ اکثر د ډيوټۍ د پاره اغوندم، وا مې غوستل. زما سره ګاډے خو نشته، خلکو ته پته ده، اکثر رانه قافيه ورکه وي، نو ځان بې وخته وژل نۀ غواړم. تا را ته هغه خېټا ياد کړو، چې هغه راځي، نو تۀ ورسره ګاډي کښې راشه! خېټا هم په توندۍ کښې ؤ اؤ ترڅو چې ور رسېدم، نو تلے ؤ را نه. بيا يؤ ټيکسي موټر کښې کښېناستم، نو ستاسو د مارې د ځاے درک را ته نۀ ؤ مالوم اؤ ستا فون بند ؤ، نو هغه ټيکسي نه کوز شوم اؤ هغه بنګالي ډرائيور را ته خپله ژبه کښې څۀ ؤوئېل. پوخ يقين مې دے، چې کنځل به وو، ځکه چې ما د هغۀ وخت خراب کړو.

هاهاها! کور ته راغلم اؤ د شپې چې کوم مضمون ما روغه شپه کښې سر ته رسولے ؤ، خاندل مې ورته۔ خبټا به هلته څومره ډُرقې کړې وي اؤ څو ډبې سيګرټ به ئې وهلې وي۔ خپل پاک شرټ اؤ لږ پاک پتلون مې د کوټې يؤ ګوټ ته ؤشغول، خو د دې نه مخکښې مې د يادګار د پاره يؤ عکس هم جوړ کړو ـــــ اؤ د نن نه وروستو ستا سره نۀ د خپل پښتون زړۀ سره ژمنه کؤم چې، د نمايش اؤ ښودنې د نړۍ نه يؤ ملنګ منفي کړه!

ما پخپل حال پُرېږده!

څۀ بې ځايه، څۀ ارزان ارزان مې وېشي
دا زما واړۀ واړۀ ضرورتونه

pukhto.net

# د غني فکري غنا

د غني خان فن ته کۀ روايتي نقادان د فني قالبونو له مينځه په هره سترګه ګوري، خو يوه خبره لکه د نمر روښانه ده، چې غني خان پښتون اظهار له نوې لاره ورکړې ده. د ليکوالانو احساساتو اؤ کيفياتو له ئې ژبه ورکړې ده. د احساس هغه پټ غږ چې د فني باريکيانو په سْتوني کښې رُوستېدلو، د اؤريدونکو غْوږونو اؤ زړونو ته ؤرسېدلو. هغه خبرې چې ډيرو ځيرکو لوستو اؤ نالوستو خلکو وئېل يا اؤرېدل غوښتل رامخې تۀ شوې اؤ يؤ نۀ ليدے کيدونکے ادبي جمود له مينځ لاړلو. لکه پخوا چې به څۀ ملايانو وئېل، چې د قران ترجمه به هله کوئ، چې وړومبے فلانے فلانے علم سر ته ؤرسوئ، دغه رنګ له شعره هم څۀ ليکوالانو يؤ ناشونے اؤ نامکنه عمل جوړ کړے ؤ. اوس کۀ په تېره لسيزه کښې د پښتو ادب په ژور نظر ؤکتلے شي، نو دا خبره تْرې څرګنديږي، چې د غني خان د فکري اؤ نوي فني اثر يوه حلقه وجود لري، چې دا زمونږ په نالوستې يا نيم لوستې ټولنه کښې اسان اؤ عادي کار بيخي نۀ دے اؤ وينم، چې ډېر غزل ليکونکو کښې هم دا رنګ بْريښي اؤ نظم خو له دې اثره برجق دے اؤ يؤ پټ د کمترۍ احساس د ځانباورۍ په رنګ کښې رنګ شو. تخليقي قوتونه په نوې بڼه راؤټوکېدل اؤ هغه داخلي اؤ خارجي احساسات هم د شعر له لارې اولس ته ښکاره شول، چې دوه يا درې لسيزې اګاهو ئې په پښتو ادب کښې تصور هم نۀ شو کېدلے اؤ کۀ تصور ئې کېدلے هم شو،

ukhto.net

نو د فلسفې اؤ منطق په درنو اؤ سْترو نثري کتابونو کښې کېدلے شو.
زۀ په شخصي توګه غني خان د ځانباورانو لیکوالانو امام ګڼم اؤ د لوي څښتن داسې استازے ئې ګڼم، چې په فکري نړۍ کښې ئې سرتېټؤنه شْتون نۀ لري اؤ فن ئې د انساني عظمت هغه شاهکار ګڼم، چې د خالق د تخلیق جلال اؤ مستي پکښې په مغرور پښتون رنګ کښې لمغړې وهي. د وېرې نوې مفکوره، د انساني ژوند د تقدس اؤ نیاز ناشنا محسوسېدونکې مفکوره اؤ د جانان د پاره د داسې چا ټاکل، چې ورکړې ئې ریښتیا هم د یؤ پوره جانان ورکړې دي. هغه زما د پاره د اشنغر خان نۀ، خو داسې پښتون غني دے، چې د فکري غنا د غْرۀ په سر ئې د جانان مسکن دے اؤ د پښتون غرور په نشه کښې نۀ د جمود تور اؤ سْتر ګړنګونه ویني اؤ نۀ د تړلو اؤ غلامو سماجي رویو شیندلې تېرۀ تېرۀ ازغو تۀ ګوري، خو خپل جانان ته ځان رسوي. فن ئې په داسې تله د تول وړ نۀ ګڼم، چې چاپېرے د مخښلو روایاتو زنګ وهلے وي اؤ پرې ئې وْراستۀ شوي وي.
روح دې ئې ښاد وي.

# د حیات روغاني په نثري ټولګه

# "حیاتونه" څو ټکي

داسې مې محسوس کړل، لکه منظوم نثر ـــــ
د یؤ تړقیدلي زړهٔ بې تقلیده پړقېدلي کلیوال خیالونه ـــــ
په مکالماتي انداز کښې، د زړهٔ د تارونو په ناشنا انداز ټرنګول اؤ اشنا نغمه وئېل. نهٔ د اشنا سړي کار دے نهٔ د ناشنا. اشنا هغو ته چې اشنا دي اؤ ناشنا هغو ته چې ناشنا دي.

د "پخښو" په شکل کښې درسره زهٔ هوبهو موجود یم. د معاشرتي رویو یؤ ساده فلسفیانه اؤ د ژوند په ائینه کښې ځان ته کتلو واله انداز مې نېغ زړهٔ ته کوز شو. ما پکښې ځان ؤلیدو اؤ کېدے شي ډېر پکښې ځانونه ؤویني. د مُلا خطبه، د باغي کریکه، د مزدور د خُولې د څاڅکي ټپ، وُریت ادیب، مرور ساقي، سُتړے رندان، د ذاتونو خولونه، د شملو غوټې، په ازغو خوب، د ګانۍ د ګوړې بُوي، د مانۍ د سړي خُوي، د نائي چاړهٔ، د دېقان بوساړه، د تانېدار رشوت، د روغاني منت ـــــ

دا سامان اؤ دا لاروي اشناؤ تهٔ اشنا دي اؤ ناشناؤ ته به اشنا شي.

پښتو
pukhto.net

## لوپټه

زۀ چې له کوره د اوږد سفر په موخه راوتلم، نو هغې ته هېڅ مالومه نۀ وه ـ زما سترګې له اوښکو ډکې وې او له ښکلي سور وږوکي مخه مې ورلره بوسه واخستله ـ وختونه تېرېدل ـ څو کلونه وروستو چې کور ته سُتنېدلم، نو هغې له مې ښکلې ګوډۍ واخستله، خو چې هغې ته مخامخ شوم، نو له وېرې مې خپل راوړے سامان نۀ شو سپُړدلے ـــــ ځکه چې هغې رانه لوپټه غوښتله ـ

# ممانې

خوب يوازې هغه نۀ وي، کوم چې د خوب په حالت کښې کيږي، بلکې اصل خوب هغه وي، چې په ويښه د خپل سبا د پاره ؤليدلے شي. د شپې د خوب په تعبير پسې به د بل دروازه ټکوې، خو د ويښې د خوب تعبير به پخپله جوړوې.

ښکاره خبره ده چې تعبير جوړوونکي د تعبير لټونکي نه غوره دي. اوس د هر چا تعبير جوړونکے انداز بېل بېل وي، خو کۀ د فن ټکے ترې ؤباسو، نو هر انداز به شډل ښکاري. لکه د ناجاړه مصور نه د شاهکار تصوير جوړؤلو هيله کول ناداني ده.

اوس د اديب نه بغير داسې څوک شته، چې په پرون اؤ سبا ئې ژور نظر وي؟ اؤ کۀ شته، نو د ادب اؤ اديب هومره افاقيت، وسعت، لطافت، حساسيت اؤ زړۀ راښکون لري اؤ که نۀ؟

د دنيا نورو قومونو د ادب بنيادي روح تر ډېره حده خوندي اؤ بچ ساتلے دے، خو د پښتون په خاؤره د ډېرې مودې نه د شر لوبه روانه ده، چې په اوسني پښتو ادب ئې ډېرې بدې اغيزې پرېښودې. هاغه غزل، چې په نازکۍ به ئې ګلونه هم بوج کېدل، لاړو، بارودي شو. هاغه نثر، چې د قام د روښانه سباؤن د پاره به ليکلے کېدلو، قام ته خپل دښمن هم په ګوته نۀ کړے شو. شعر کسب شو اؤ نثر دياړي شوه.

هاغه شڼۀ پتې، چې تخليقي بزغلي به پکښې را ټوکېدل، د مېلو مېدانونه شول، دوکانونه پړې پرانستلے شول . هغه سړي لوي حسابېږي، چې لوډ سپيکر ئې تېز وي اؤ اواز ئې تر لرې لرې رسيږي . اوس د دې مېلې نه لرې اؤ په تنهايانو کښې ناست داسې کسان شته، چې د فن ښکلا ئې په ځاے ساتلې ده . د ځارونکو نه پټ نۀ دي، خو کتونکو، بې ذوقه اؤ وخت تېروونکو تماشګيرو ته ئې هډو پته نشته . په دغو دوکاندارانو کښې ډېرو د سياسي نعرو اؤ خوږو کنځلو نوي نوي ټکي د خرڅ د پاره ايښي وي . دلته دا ملاوټ عام دے، چې شعارونه [ناره بازي] د شعرونو په نوم ياديږي اؤ بې ذوقو بلکې بدذوقو خلکو د بې ذوقو اؤ بدذوقو اوربدونکو اؤ د فن نه خپلو غرضونو پوره کوونکو خلکو نه لقبونه اؤ ايوارډونه واخستل، خو د وخت تېرېدلو سره به دا فن لکه د ځږ ښکته شي اؤ د راتلونکي زمانې ځيرک اؤ لوستي لوستونکي به پخپله د شعر اؤ شعار فرق وکړي .

ګرانو پښتنو ليکوالانو!

د ادب لوي وجود د سياست په وړه اؤ زړه ګېډه کښې نۀ ځائيږي اؤ د سياست ټولې قېصې د ادب د لوي وجود د برې شونډې د لاندې د نسوارو د چونډې برابر دي . لکه د لوي سياستدان اوږد اؤ مدلل تقرير د شعر په يوه مصرعه کښې په تخليقي اؤ هنري کمال ځائېدلے شي، خو د شعر په يؤ بېت کۀ د دنيا پوهان ډېرې خبرې اؤ تقريرونه وکړي، خو په ادب پوهه خلکو ته به نيمګړې ښکاري . فن همېشه زمونږ اؤ تاسو سره وفا کړې ده، خو مونږ اؤ تاسو د فن

هغه حق ادا نۀ کړو، کوم چې پکار ؤ. پکار ده، چې مونږ د فن تقدس ته نور زيان ؤ نۀ رسوو.
د سْتر خوشحال، حميد، رحمان اؤ غني پټ سترګي تقليد کؤنکي نۀ شو اؤ د هنر پټې خزانې ئې دې قام ته په نوي انداز کښې مخې ته کېږدو اؤ خپل فن د چا د نعرو قېدي نۀ کړو اؤ د انسانيت د ښېګړې اؤ د کائنات د تسخير د لارو لاروي شو.

چې رنګونه پْرې راغونډ شي، پيمانه شي
نو رنګونه تْرې راتوي شي، ترانه شي
عندليب

ژړا مې د ژړا په څيره نۀ وه، نو دا ځکه
خندا را نه په سوؤ اسوېلو بدله شوه
عندليب

پښتو
ukhto.net

## هو!

خبر شوم، چا وئېل، اختر دے۔
جامې د ټولو کليوالو نوې وې، خو زړونه زاړهٔ۔
ور غاړېوتم، خو رسم ؤ۔
د اختر نمونځ ته دې هم روح اودس ؤنهٔ کړو۔
تا لامبلي؟ لالا!
ما وئېل، لېونے اودهٔ ښهٔ دے۔
چې په دې مېله کښې څهٔ خرسيږي، پکار ئې نهٔ دي۔
ابې!
د سر سپين تارونه دې زما د سترګو د ګنډلو د پاره پوره دي۔
لورکې!
نکريزې په دې کلي کښې ډېرې دي، خو لاسونه پرېکيږي۔
مُلا!
ښهٔ دې ؤوئېل۔
لېونيه!
اودهٔ شه اودهٔ! چې مابنام پورته شې، مېله به نهٔ وي۔



Pukhto.net

# قامي ليکني

پښتو
pukhto.net

# پ

زه د قام په نوم هر ډولګي ته ګډ شوم ـــ
زه د مذهب په نوم د هر توغ لاندې ودرېدم ـــ
زه د حق د هر لښکر په سر کښې ودرېدم ـــ
زه د خپلې خاورې په سر د هر غاصب سره وجنګېدم ـــ
زه د نړۍ د هرې سيمې د ادم په فرياد وژړېدم ـــ
زه چې ډېران هم کنم، نو د پېړيو پېړيو زاړه تاريخونه او تهذيبونه پکښې راښکاره کيږي ـــ
زه فصلونه لرم، خو دانې نه لرم ـــ
زه په خزانو ناست نهر يم ـــ
زه د سيند په مينځ کښې ولاړ تږے يم ـــ

زۀ د ژوند د هرې مېلې نه تش لاس راؤځم ـــ

زۀ ـــ

زۀ ـــ

زۀ د ننګیالو بې ننګه میراثي یم ـــ

زۀ د وفادار خلې د خاوند بې وفا منجور یم ـــ

زۀ چغه مشرقۍ لرم اؤ توره مغربۍ لرم ـــ

زۀ د یاغي نیکۀ غلام نمسے ـــ

زۀ ـــ

زۀ د غلیمانو کوربه ـــ

زۀ د خپلو رازونو خرخوونکے ـــ

زۀ د کتاب ازار وهلے ـــ

زۀ په زړو قېصو مئېن ـــ

زۀ بې منزله لاروے ـــ

زۀ له نظریاتو لرې په شخصیاتو سر ورکونکے ـــ

زۀ پټ سترګے مقلد ـــ

زۀ ـــ

زۀ ـــ

زۀ بې لکۍ ښاروے ـــ

هاها!

ماما په سوچ کښې لاړې. زۀ نور هم ډېر اوصاف لرم، خو نن به دومره پوره وي. کېدے شي، پېژندلے دې یم اؤ کۀ نۀ دې یم پېژندلے، نو د نوم وړومبے تکے مې "پ" دے.

# ادبي جمود ـ څو خبرې

زموږ د قام اؤ د نن د لوستي پښتون ځلمي ادبي تيندک هم دا دے، چې موږ څۀ رنګ د ژوند نورو شعبو کښې شخصيت پرست يو، په ادب کښې هم شخصيت پرست يو. وجه ئې له کتابه لرې والے دے اؤ ګڼ ناپوهان وينم، چې څۀ ادبي بتان ئې ځان له جوړ کړي اؤ پوجا ئې کوي. لکه د مثال په توګه، يؤ ليکوال د يؤ ادبي صنف له کبله څۀ جايزه واخلي يا په ميډيا بيا بيا راځي، نو د هغوي خبرې پوخ دليل ګڼي. د مطالعې د کمي دا مرض دومره زيات شو، چې سړي به کتاب هډو لوستے نۀ وي اؤ کتاب به ليکي اؤ بې توله شاعرۍ خو د پښتون قامه شعري افيميان جوړ کړل. اوس هډو څوک نثر ګوري نۀ. چې تخليق داسې ؤشي، نو د تنقيد معيار به هم دغه وي. کۀ يؤ ډېر هوښيار سړے هم بيخي د کتاب له مينځه خبره کوي، خو شهرت يا نوم ناموس نۀ لري، نو موږ ته سپکه اؤ د منلو وړ نۀ ښکاري. دا بيا وايم. دا ځکه چې موږ د کتاب ازار وهلي يو. زموږ ادب لا موږ د خپلې انا له خوله نۀ يو راويستې. د خدا ے د خدايۍ حدونه اؤ د انساني عظمت رازونه خو لرې خبره ده. تنقيد د فني ټوټکو نه د

فکري رڼا تول ته نهٔ دے رسېدلے اؤ دا فکري جمود تر هغه وخته نهٔ شي ماتېدلے، چې ترڅو مونږ د لکیر فقیري نهٔ وي پرېښودې. نوې لارې نوي نظرونه غوارې اؤ نوے کاروان د تیرو څلورو سوؤ کلونو نه د یؤ ادبي سرلښکر لکه خوشال په انتظار ناست دے، خو څلورو پېړیو څوک خوشال پېدا نهٔ کړو.

دا ولې؟

په اوسني پښتون ادیب کښې خود اعتمادي نشته. د نوي اؤ پرمختللي فکر خیال اؤ تدبر ځاے ښکلو ټکو، لفظونو یا لفظي کرتبونو ؤنیولو اؤ د دې کرتبونو ښهٔ لوبغارې د نن ښهٔ لیکوال ګڼلې شي. نو ځکه څو پېړۍ به نورې هم واؤړي، خو مونږ به هم دغسې خپلو خپلو خولونو کښې سره د ورستو اؤ مښلو فکرونو پراته یو.

pukhto.net

# د چینجو ټوکرۍ

ukhto.net

نن هغه د کبانو مارکیټ ته تللې ؤم. د کبانو ښکاریانو به ډکې ډکې ټوکرۍ راوړې اؤ دغلته به ئې خرڅولې. زما هم لاس کښې سیګرټ ؤ، نو یوې غاړې ته ناست اؤ ننداره مې کوله. زما په څنګ کښې هم یوه له کبانو ډکه ټوکرۍ پُرته وه. دغه ټوکرۍ کښې مې ناشنا تماشه ؤلیده. د دغې ټوکرۍ کبان د چینجو په څیر سرۀ وو اؤ اوږدې اوږدې پښې ئې وې. ټوله ټوکرۍ د دوي د حرکاتو له کبله غونځېده. زما د زړۀ راښکون حرکت پکې دا ؤ، چې ډېرو چینجو هڅې کولې، چې له ټوکرۍ بهر ووځي، خو چې کوم چینجي به هم د ټوکرۍ د دیوال سر ته رسېدل، نو بل چینجي به ښکته د چینجو منځ ته راشغوۀ اؤ په نیم ساعت کښې ما یؤ چینجے هم ؤ نۀ لیدۀ چې له ټوکرۍ بهر لاړ.

سیګرټ مې ؤشغوۀ اؤ له هغۀ پاڅېدم. د شپې مې په خوب کښې ټوکرۍ ؤلیده، خو د دغې ټوکرۍ چینجو به خبرې کولې. انډوخر جوړ ؤ. ما چې د دوي د شور اؤ خبرو اندازه ؤکړه، نو په دوي کښې خو ځنې خبر نۀ وو، چې مونږ چرته یو اؤ زمونږ سره به څۀ کیږي اؤ کوم چې خبر وو، نو هغوي د ټوکرۍ په دېوالونو پورې نخښتي وو. د بهر وتلو هڅې ئې کؤلې، خو په یؤ بل ئې بهر ته وتل پېرزو نۀ وو اؤ چې کوم به هم د دې ټوکرۍ نه بهر وتلو ته نزدې کېدلو، نو بل به ښکته د نورو چینجو منځ ته راشغولو.

زۀ د خوب په تعبیر پسې ملا صېب له نۀ ځم، نو ځکه نېغ په نېغه را ته د خپل وطن خبرې کوونکي چینجي رایاد شول. دقامي ژوند په دې اړخ مې نظر شو، چې له سیاسته واخله تر ادبه اؤ له ښاره واخله تر باندې زمونږ د یؤ بل پرمختګ بدي شي. زمونږ له ځانه ځوار هم بدي شي اؤ له ځانه موړ مو هم بدي شي اؤ د بدبختۍ اقتصادي بربادۍ اؤ جهالت په ټوکرۍ کښې پراتۀ یو اؤ چې کوم ورور هم د وتلو تدبیر کوي یا په محنت د ټوکرۍ د دېوال سر ته ؤرسي نو——
مونږ——

# لیکدود

لهجوي لیکدود زمونږ خوږه ژبه نن سبا ډیره زوري. وړومبے خو مونږ له قلم اؤ کتابه لرې وو، اوس چې ورته څۀ نا څۀ نزدې شو، نو زمونږ د صدیو نه راروان قبائیلي ژوند زمونږ په وینه اؤ ژبه کښې دومره اغږلے شوے دے، چې د ژبې افاقي کېدو ته مو لار نوره اوږدوي. چې فکر ؤکړم، نو نن پښتو شاعر ژوندی هم ساتلې، خو شاعرئې په مرۍ هم غلے شوے دے. هوښیاران د فن تشهیر نۀ کوي یا ئې وسایل نۀ لري اؤ نیمګړو هوښیارانو د قافیو اؤ ردیفونو په چکر کښې په لوستونکو چکر راوستے دے. هر یؤ ښۀ پوهیږي، چې سوچه پښتو لیکدود کوم یؤ دے، خو قبیلوي اؤ سیمئیز لیک باندې فخر کوي. حقیقت ډېر تریخ دے. کۀ فن د قام د پاره دے، نو قام ته خو به رسول هم غواړي. کۀ یؤ لیکوال سیمئیزه یا قبیلوي شعر یا نثر ؤلیکي، نو ښکاره ده، چې د یوې سیمې خلک به پْرې پوهیږي اؤ نور قام به تږې محروم پاتې کیږي. د بیلګې په توګه، زۀ

پخپله د ځینې پښتنو ورونو په لیکنو ځان ډېر په ګرانه پوهؤم. تاسو به د یؤ عادي لر پښتون نه څۀ ګیله ؤکړئ اؤ دوي ته به خپله د زړۀ خبره څنګه رسوو؟ کۀ نظرانداز کوو ئې، نو 33ملیونه پښتانۀ دي. کۀ د یؤ قام خبره کوو، نو دا شمېره د پښتنو تر ټولو زیاته شمېره ده. نو ښکاره خبره ده، چې زمونږ کلاسیک لیکوال چې د لر اؤ بر پښتون په زړونو کومه باچاهي کوي، د هغوي شعر اؤ نثر افاقي ګڼل پکار دي. د نوؤ ستونزو سره به په نوي انداز مقابله کوو، خو لار به نۀ پرېږدو. د ژبې په نورو تحقیقي ځانګو کار پکار دے، خو دا کار به تر هغې خپل سوچه مقام ؤ نۀ مومي، ترڅو چې بنیاد کوږ وي. اوس نور خلک کوم ځاے ته ؤرسېدل اؤ مونږ لا هغسې د کچ اتنا یا وړومبي ټولګي هغه قاعده زؤتوو. بې زر با، تې زر تا شین زر شا. دا څۀ دي؟ اؤ خلک وائي، زمونږ د ژبې نهه زره یا شپږ زره کاله ؤشو. خدائېګو خندا راشي، چې زرګونه کلونه تېر شول، خو مونږ لا اتنا کښې یو. چې دوېم ټولګي ته رسیږو، نو څو صدۍ به اخلي؟

# قامي پرمختګ کښې زما اؤ ستا ونډه

علامه اقبال وائی:

**افراد کے ہاتھوں میں ہے اقوام کی تقدیر**
**ہر فرد ہے ملت کے مقدر کا ستارہ**

له څاڅکو سمندر جوړيږي، ځکه هر څاڅکے دومره ارزښت لري لکه سمندر. د نړۍ يؤ قام هم ترهغه وخته پرمختګ نۀ شي کولے، تر څو چې افراد ئې په قام اؤ خاؤره مئين نۀ شي اؤ د قامي پرمختګ د پاره خپل خپل رول ؤ نۀ لوبوي. زما يؤ خوږ ملګرے وائي، چې زۀ جرمني ته تلے ؤم. هلته د لوخو جوړولو يوې کارخانې ته د سېل په موخه ورغلم، نو کارمندان مې ؤليدل، چې هر يؤ پخپل کار کښې بوخت ؤ. زۀ پکښې د يؤ مزدور خوا ته ورغلم، سلام مې پرې واچوۀ اؤ بيا زر زر مې ترې د کار په حقله څو پوښتنې ؤکړې، خو هغۀ بيخي هېڅ ځواب را ته رانۀ کړو. هک پک شوم اؤ خفه هم شوم، چې زۀ مېلمه ؤم. نۀ ئې د سلام ځواب راکړو اؤ نۀ ئې را ته د بلې پوښتنې. يؤ ساعت وروستو هلته په کارخانه کښې د يؤ ساعت د دمې وخت شو نو هم هاغه مزدور زما خواته راغے اؤ سلام ئې ؤکړو. بيا ترې ما پوښتنه ؤکړه، چې ولې دې هغه وخت زما سره خبرې نۀ کولې؟ نو هغۀ را ته ؤوئېل، چې ولې ستاسو وطن کښې مزدوران د کار وخت کښې ګپونه هم لګوي اؤ له بهره راغلو خلکو سره په خبرو هم وختونه بربادوي؟ مونږ خو د کار په وخت کښې بيخي دا کار نۀ کوو. کۀ زۀ

ستاسره په خبرو بوخت شم، نو زما د وطن په زيان تماميږي، چې د کار وخت په خبرو کښې واړؤم.
د هغوي قامي مينې ته هک پک شوم. داسې وطن به ولې پرمختگ نۀ کوي، چې هر سړے ئې همدغسې فکر لري اؤ د يؤ بل سره ئې د مينې دا حال دے اؤ دومره احترام يؤ بل ته لري، چې دوه ورځې وروستو ما ؤليدل، چې په سړک باندې دوه موټرې د يؤ بل سره ؤجنګېدې اؤ دواړه ګاډي خراب اؤ چيت شول، خو ناشنا کار مې دا ؤليدۀ، چې د دواړو موټرو چلوونکي سړي له ګاډو راکوز شول اؤ يؤ بل ته ئې سرونه ښکته کړل اؤ يؤ وئېل، "زما خطا ده" اؤ بل وئېل، "زما خطا ده". داسې قامونه به ولې پرمختگ نۀ کوي؟ زما يؤ ځيرک ملګرے چشتي صيب وائي، چې زۀ د يؤ قام د سماجي رويو اندازه د دې نۀ لګوم، چې هلته وکيلان څومره دي؟ ما وئېل، "هغه څنګه؟ "وئېل ئې، "خلک تل هغه پېښې ته لاس اچوي، چې ګټه ډېره لري. په کوم وطن کښې چې لانجې بوغمې شرونه فسادونه ډېر کيږي، نو وکيلان به پکښې ګڼ وي اؤ د کوم قام چې سماجي رويې په قامي مينه لړلې وي، هلته خلک خبرې پخپل منځ کښې هواروي اؤ وړې وړې خبرې عدالتونو ته نۀ وړي". لکه هغۀ را ته ؤوئېل، چې په پوره جاپان کښې يوؤلس زره وکيلان دي. هغوي هم لېنګان دي، ځکه چې دوي د يؤ بل سره مينه لري اؤ په يؤ بل خفه کيږي. چشتي صيب وائي، چې زۀ جاپان ته تلے ؤم، نو هلته مې فکر کوۀ، چې دوي به ټول لکه زمونږ امريکا ته کنځلې کوي. ځکه چې په دوي ئې اېټم بم ورغورځولے ؤ اؤ د لکونو په شمېر کښې ئې وژلي

وو، خو د يؤ پوهه جاپاني نه مې پوښتنه وکړه، چې تاسو خو اوس هم د امريکې سره سفارتي اړيکې څۀ چې تر ټولو ډېر تجارت کوئ، نو د غچ يا بدل کوم فکر ولې نۀ کوئ؟ نو هغۀ را ته په ځواب کښې ووئېل، چې وړومبے زياتے مونږ کړے ؤ، چې هغوي مو وژلي وو. ظلم مو ورسره کړے ؤ اؤ بيا را ته هغوي د ايټمي بړيد دړکه هم راکړې وه، خو مونږ په ګپ اړولې وه، نو ځکه دغه کار شوے ؤ. البته يوه بله د کار خبره ئې را ته دا وکړه، چې هغه جاپانے ځيرک ښکاري هم ؤ، نو وئېل ئې چې زمرے کله هم انسان نۀ داړي اؤ ماتوي اؤ چې کوم ځاے انسانان ووينې، نو له هغه ځايه ځي، خو چې کله هم پړې کوم نابلده ښکاري ډز وکړي اؤ زمرے مړ نۀ شي اؤ ژوندے پاتې شي، نو بيا ټېپي زمرے خپل غچ ارومرو اخلي اؤ دغسې د نابلدو ښکاريانو د لاسه اوس زمري د انسانانو دښمنان جوړ شوي دي. نو مونږ د نابلدو ښکاريانو کار هېڅکله نۀ کوو. زمونږ امريکې ته قار شته، خو په سينو کښې مو خوندي دے اؤ چې کله هم مونږ ته مالومه شوه، چې زمونږ په ګوليو (مرميو) دا زمرے مړ کېدے شي، بيا به ګورو ورسره.

ګرانو پښتنو !دا پورته بېلګې وګورئ اؤ خپل قامي شخصي اؤ اجتماعي کردارونه ورسره وتلئ، چې مونږ په څومره اوبو کښې يو؟

(د رابندرناته ټېګور د يوې د کلام منظومه ژباړه)

# دا خپل ناپوهه ذهن وائي ورته

ځان په زاړۀ تاريخ کښې ؤلټوه
خو د يوې لارې درک نۀ لري
د حجرې غولي ته را ؤوتلو
ټول ځنګلونه اؤ پټي ئې چاڼ کړل
په ټيندکو ترې نه لوګي پورته شول
تر اسمانو پورې ئې کريکه کړله
خپل سر ئې ؤنو ته را واچولو
هلته چې لرې ئې رڼا ؤليده
ترې نه چاپېر ئې طوافونه ؤکړل
دا ئې غوښتل چې دا رڼا کړي قبضه
د ماشومانو په خير پرېوتلو
په بې خودئ کښې په کبلو باندې
ټول دي ګډ وډ اؤ بې خبره دي ټول
چې حقيقت څۀ دے اؤ خوب څۀ دے؟

# د پښتنو ښوونځاے

ښوونکي (استاد):
تۀ پاڅه اقباله !ستا پلار څۀ کار کوي؟
اقبال:
استاد صېب !زما پلار سوداګر (تاجر) دے۔
ښوونکے :ډېره ښه ده ۔ ښکلې پېشه ده، ځکه خو دومره ښکلے پاک پاک ښوونځاي ته راځې۔
تۀ پاڅه جاوېده !ستا پلار څۀ کار کوي؟
جاوېد :استاد صېب !زما پلار په لوړه څوکۍ ناست افسر دے۔
استاد :هو کنه جاوېده !زۀ هره ورځ وينم، چې سحر دې يۀ څوک موټر کښې ښوونځاي تۀ راوړي اؤ بيا د رخصتۍ وخت کښې هم هغه موټر درپسې راځي۔
تۀ پاڅه ګل خانه !ستا پلار څۀ کار کوي؟
ګل خان:استاد صېب زما پلار شاعر دے۔
(اؤ په ټول کلاس کښې چاپېره په بُرق بُرق خنداګانې ؤشوې۔ ټولو همځولو په ګل خان پورې په زوره زوره ؤخاندل اؤ ګل خان ژړغونے په خپل ځاے کښېناستلو)۔

# دا ارخ

زمونږ قامپاله روښان فکره سیاسي ګوندونه له پېړیو د پښتنو د وحدت (یؤوالي) سیاسي شعار یا ارمان لري. کۀ د نورو کړنلارو سره ئې پښتانۀ سل په سله ملګرتیا نۀ کوي، نو دا یؤ ارمان خو د هر پښتون په زړۀ کښې شته، چې پښتانۀ دې یؤ شي. ځکه چې مونږ ټول په ګډه د یؤ بابا اولاد یو. ټول مسلمانان یو اؤ دود دستور ژبه اؤ خویونه مو یؤ رنګ دي. زمونږ څۀ نا څۀ موندلے تاریخ کۀ ؤلوستلے شي، نو مونږ قبایل یو اؤ قبیلوي ژوند مو کړے دے. خپلو خپلو مشرانو ته مو احترام کړے دے اؤ د دوي له وېناؤ مو سرغړؤنه نۀ ده کړې. اوږد تاریخ ته به نۀ ځم، خو اوسني حالات له هېچا پټ نۀ دي. زمونږ ترمنځه خو اوس یوه منحوسه کرښه (ډېورنډ) راښکلې ده، چې یؤ ځیرک پښتون ته هم د منلو وړ نۀ ده، خو حالاتو اقتصادي ستونزو اؤ ناپوهۍ مونږ دې ته جوړ نۀ کړو، چې دا کرښه له منځه یؤسو، خو په راتلونکي کښې دا کار هېڅکله له امکانه بهر نۀ دے. اوس نزدې نزدې د پښتنو په ټولو سیمو کښې د امو نه تر اټکه اؤ بیا ګڼ شمېر د کراچۍ اوسیدونکو پښتنو پورې مونږ جمهوریت په څۀ نا څۀ شکل کښې منلے دے اؤ په افغانستان کښې پښتون کرزے، په پېښور کښې اسفندیار ولي اؤ کراچۍ کښې شاهي سید په څوکیو کښېنولي دي. دا ټول مشران کۀ هرې خوا ورسره کومک شوے، خو بیا هم د اولس په رایو د واک څوکیو ته رسېدلي دي. اوس کۀ فکر ؤکړو، نو زمونږ په تاریخ کښې دا وړومبے وار دے،

چې کۀ هر څو ویشلي یو، خو په ځانونو مو جمهوري نظام منلے دے اؤ په راتلونکي کښې هم کۀ څوک په پښتنو واک چلول غواړي، نو د پښتنو رایو ته به ارومرو اړتیا لري. نو یؤ فکر مې واخلي، چې زۀ څۀ نا څۀ د هرې سیمې د پښتنو د رویو سره بلد شوے یم اؤ نور پښتانۀ هم دا خبره ښه پېژني چې زمونږ څۀ ورونه ځانونه ښۀ اؤ کره پښتانۀ ګڼي اؤ نورو پښتنو ته کره پښتانۀ نۀ وائي. زۀ د کومې سیمې نوم نۀ اخلم، ځکه چې مونږ ټول پوهیږو، چې زما اشاره کوم خوا ده. نو جمهوریت کښې خو د یؤ سړي یا ښځې یوه راې وي. کره سوچه اؤ ناسوچه پکښې هېڅ توپیر نۀ لري، نو کۀ چرته زمونږ د وحدت ارمان سر ته ؤرسي، نو لر پښتانۀ د ټول افغانستان د ټولې ابادۍ یا سرشمېرې نه څو چونده زیات دي. په سیاسي توګه ویښ هم دي. قامپاله ګوندونه هم لري اؤ رایو راغونډولو کرتبونه ورله هم له هرچا ښۀ ورځي اؤ دا خو ناممکنه ده، چې په اوسني یا راتلونکي عصر کښې په نړۍ کښې ژوند کوو اؤ جمهوریت دې نۀ منو اؤ د برو پښتنو ناخوالې، بې اتفاقي اؤ د یؤ پوخ ګوندي سیاست نیشتون په دې خبره دلالت نۀ کوي، چې څو پېړۍ به دوي د پېښور، مردان یا سوات واک په ځانونو مني؟ اؤ د پېړیو خبره هم نۀ ده، بلکې ټول عمري خبره ځکه ده، چې سرشمېره ؤګورو، نو 37 ملیونه پښتانۀ په پښتونخوا کښې ژوند کوي اؤ دغسې 17ملیونه پښتانۀ په افغانستان کښې ژوند کوي. نو دا خو له سره په جمهوري نظام کښې شونې نۀ ده، چې اقلیت دې په اکثریت واک ؤچلوي. نو دا خبره به افغانانو ته د منلو وړ وي؟ زۀ چې د خپلو ورونو فکري اؤ ذهني

حالت ته ګورم، نو دا را ته بيخي ممکنه نهٔ برېښي، ځکه چې زمونږ ځنې ورونه اوس هم په زاړهٔ تاريخ کښې ورک دي ـ امپراطوري ذهنونه لري ـ د شاهي نظام له سِحره بهر نهٔ دي وتلي اؤ نسلي تفاخر ئې په ذهنونو اؤ فکرونو راج کوي ـ خو دا خبره دې نهٔ هېروي، چې اوسنے پښتون لوستے اؤ د نړۍ له حالاتو ښهٔ خبر دے ـ په پوهه اؤ تعليم سنګار دے اؤ څو پېړۍ زوړ شاهي نظام نهٔ نړۍ ته د منلو وړ دے اؤ نهٔ نوي پښتون نسل ته ـ نو کهٔ فکري شعور لرو، نو د سبا دا نوي اؤ منلي حقيقتونه به له نظره نهٔ غورځوو، چې نن اؤ سبا به سرونه شمېرلي کيږي، فکرونه اؤ خيالونه نهٔ ـ

پښتو
pukhto.net

# شپږم اکست

بیخي هم دا ورځ وه ـ په1945 ء کښې د نړۍ د ټولو غټ منصف اؤ د انساني حقونو دعوه کوونکے د امریکې الوتکې د جاپان په هیروشیما اؤ ناګاساکي ایټمي بمونه غورځولي وو اؤ یؤ نیم لاک انسانان ئې وژلي اؤ یؤ لاک انسانان ئې ټپیان کړي وو ـ نن نړۍ په ښکاره دوه برخو کښې ویشلې شو ،یوه برخه د امریکې مرسته کوونکې اؤ بله ئې مخالفین دي ـ په دې تفصیل کښې نۀ ځم، چې امریکه د چا په مرسته تر دې مقامه راؤرسېدله، ځکه چې اوسني د امریکې مخالفین د امریکې پخواني یاران وو اؤ اوسني د امریکې مرسته کوونکي د امریکې پخواني دښمنان وو ـ دا دواړه کردارونه داسې دي چې هېڅوک ترې هم بهر نشته ـ خپل چاپېریال کښې ؤګورئ ـ هغه جهادي تنظیمونه اؤ سیاسي مذهبي مشران چې د روس د ختمولو د پاره د امریکې پکار وو ، هغه وخت کښې ئې ښۀ استعمال کړل اؤ په لکونو پښتانۀ ځلمي د جنګ د اور خشاک شول اؤ هغه قامپاله قوتونه اؤ د روس ډله کوونکي چې د امریکې خلاف به ئې چغې ویستلې، نن د امریکې په پټ اؤ ښکاره کومک د واک د چوکیو مزې اخلي ـ

فکر وکړئ !داسې څۀ خو شته، چې مونږ ټول ئې د بارودو په غرُونو کښېنولي يو؟

هو ــــ

د سرمائې سامراج په نړيوال کچه له اولسونو غږونه ؤتروړل اؤ د نړۍ ټولو ټولنو ته ئې داسې منحوس زهر ګډ کړل، چې د هر دولت لرونکي سياست کولے شي اؤ دولت نۀ لرونکي کۀ قابلان اؤ د اولس له سُتونزو خبر هم وي، اولسي سياست نۀ شي کولے.دا هغه فلسفه وه، چې امريکې په نړۍ لاګو کول غوښتله اؤ لاګو ئې کړه.اوس کۀ څوک چغې ؤباسي يا په ښېرو اسمان ماتوي، نو هېڅ ګټه نۀ لري، ځکه چې مونږ په نظرياتو يا تهيوريانو کښې ورک وو اؤ هغوي بيخي د ميږي په چال خپل منزل ته روان وو.نن کۀ هروخت امريکه ؤغواړي، د نړۍ په هره سيمه بُريدونه کوي.د ټولې نړۍ واکداران د امريکې په لاسونو کښې ګوډاګيان دي.دوي پوهيږي کۀ د امريکې خبره ؤ نۀ مني، نو واک به ؤبائيلي اؤ د امريکې اوسني مخالفين هم بې د معجزې د انتظاره هېڅ تګلاره نۀ لري.په ټينګ خوب اودۀ وي اؤ د غرُونو په څمڅونو کښې د توغندي ښکار شي.دا هغه څۀ دي، چې هوښيارانو پخوا راهسې ليدل، خو ناپوهان چې د خپلو پوزو نه ئې اخوا نظر نۀ لګېدو، د هوښيارانو خبرې ورته ګپ ښکارېدلې.

راتلونکي حالات به څنګه وي؟ پتہ نۀ دي.چې مونږ به نور هم د زوال کندو ته غورځېږو اؤ د سرمائې سامراج به را ته خپل ګوډاګي بيخي په کورونو دننه روزي اؤ په راتلونکو ورځو اؤ کلونو کښې به

امریکې ته د بمونو غورځولو حاجت نهٔ وي ـ له دې نظامه ګټه اخستونکي به د اولسونو وینې دومره ؤڅښکي، چې اولسونه به بې له دې کومه لاره نهٔ لري، چې په ګېډو پورې به بمونه تړي اؤ د ښْمنو په کورونو اؤ کاروبارونو به ځانمرګي بْریدونه کوي اؤ نړیوال سامراجي قوتونه به هیڅ جنګي خرچې نهٔ کوي اؤ مونږ به یؤ بل وژنو.

دا سوچ هم اوس ډیر مخښلے شوے دے، چې مونږ به دې سامراجي نظام له شکست ورکړے شو اؤ دا خوب هم بیخي دروغ دے، چې مونږ به یؤ داسې مشر ؤمومو، چې له دې افته به مو خلاص کړي اؤ لامل ئې دا دے، چې مونږ ټول بدلون غْواړو، خو د بل په وجود اؤ کار کښې ئې غْواړو ــــ پخپله کۀ نهٔ غواړو هم د سرمائې د نظام برخه یو اؤ په ځان کښې بدلون نهٔ مونږ غوښتلے، نهٔ ئې راولو، نهٔ را ته ځان کښې کومه نیمګړتیا ښکاري.

ukhtoo.net

# اے پښتنو شتمنو!

چې خپل پښتون چاپېريال ته ؤګورو، نو زمونږ په سيمو کښې په مليونونو ارب پتيان کرب پتيان کارخانه دار اؤ جاګيدار پښتانهٔ شته ـ په يوه يوه ورځ کښې مليونونه ډالرې اؤ روپۍ ګټي، د کروړونو روپو په ګاډو کښې ګرځي اؤ په يوه يوه مېلمستيا په لکونو روپۍ الوځوي ـ په يؤ يؤ وادهٔ اؤ کوېژدن کروړونه روپۍ لګوي اؤ يوه يوه بنګله چې ؤويني، نو د سر نه ورته ټوپۍ غورځيږي ـ په دېوالونو کښې ئې ناشنا ناشنا کاڼي لګېدلي وي اؤ د اربونو روپيو په خرچو ئې د بنګلو ډيزائنونه جوړ شوي وي ـ په بنګلو کښې ئې ناشنا ناشنا چمنونه اؤ رنګارنګ د ګلونو بوټي اؤ مرغيو پنجرې شتون لري اؤ چې ؤغواړي، د بهر وطنونو چکرې لګوي اؤ کروړونه الوځوي ـ نو کران ترې چاپېره چورلي اؤ روغ غړونه ښارونه اؤ کلي د دوي ملکيتونه وي، خو ـــــ

په پښتونخوا کښې 37 مليونه پښتنو د پاره يواځې ايکي يؤ پښتو چېنل" خېبر "دے، چې د هغې مالک هم پنجابے دے ـ په ټوله پښتونخوا کښې يوه پښتو وېبپاڼه نشته ـ په خبرو چې راشي، نو د بحث وړومبي د فخر (وياړ) ټکے ئې دا وي "زهٔ پښتون يم".

هۍ هۍ!

د پښتنو قامي فکره !څومره شنډ اؤ بې باره ئې!

د پښتونخوا په اوسنو اؤ پخوانو واکدارانو کښې يؤ هم پنجابے يا سيندهے نشته اؤ نۀ ؤ۔ د يؤ يؤ وزير امدن ټولو پښتنو ته مالوم دے۔ ټول ارب پټيان دي اؤ قامپال خو په خوب کښې هم پښتو پښتو کوي، خو افسوس اؤ صد افسوس چې دومره بې عمله اؤ قامي بې ننګه مشرانو کښې يؤ هم د دغه پنجابي هومره روپۍ نۀ لري، چې پښتون قام ته يؤ سوچه پښتون ټي وي چېنل پرانيزي۔ د پښتون کلتور په مرګ د مګرمچهـ اوښکې بهوونکو !تاريخ به مو کله اؤ چرته هم ؤ نۀ بخښي۔

پښتانۀ ليکوالان لکه ملنګان د نړۍ د نورو قامونو ليکوالانو ته پسخېږي۔ په قرضونو کتابونه چاپ کوي اؤ خپلې مورنۍ ژبې پښتو ته کار کوي، خو تر څو؟ تر څو؟ تر کومې به ئې کوي؟

زما بې ننګو قامپالو!

پښتو لکه چې ستاسو ژبه نۀ ده؟ دا کلتور لکه چې ستاسو نۀ دے؟ کۀ نه تاسو يوائې د ووټونو غوښتو د پاره څو ګوټه کړې نعرې د قام د غولولو د پاره وهئ؟

زما بې ننګو ارب پټيانو!

په کفن کښې جېب نۀ وي۔ چرته به دا دومره دولتونه وړئ؟

زما د ټولې پښتونخوا بې ننګو جاګيردارانو ملکانو اؤ خانانو!

پښتو اؤ پښتون کلتور سر خوړي اؤ انجام به ئې دا شي، چې زمونږ د ملنګيانو سره سره به ستاسو ملکيانې نوابيانې خانيانې اؤ واکونه هم سر ؤخوري۔

# اعتدال

دا هغه صفت دے، چې مونږ پښتنو په ټولنیزه توګه بائېللے دے. زمونږ چې کوم خوا مخه شي، نو بیا د سْتنېدو عادت نۀ لرو. کۀ په روا یو کۀ په ناروا، خو خپله خبره ځایول زمونږ زوړ عادت دے.

ببلګې ئې تاسو لیدې شئ، چې مونږ کۀ د چا سره بحث کوو، نو ښۀ پوهېږو، چې په ناروا یو، خو تر هغې اړم یو، چې خبرې مو کنځلو ته ؤرسیږي. د ژوند په هر کار کښې مونږ جذباتیان یو اؤ ځکه خو مونږ پر مختګ هم نۀ شو کولے. کۀ د یؤ سیاسي ګوند سره ملګري شو، نو د خپل مشر هره ناروا خبره هم روا ګڼو اؤ کۀ څوک نیوکه پرې ؤکړي، نو یا خپل سر ماتوو یا د نیوکه کونکي.

کۀ زمونږ د ټولنې کوم سړے تبلیغي شي، نو نور ټول مذهبي کارونه ورته عبث ښکاري، لکه جهادیان ئې سخت بدي شي اؤ کۀ کوم سړے د جهادي ګوند غړے شي، نو تبلغیان ورته ټول ؤزګارخېل ښکاري. کوم سړے چې دیني علم ؤکړي، نو عصري زده کړې ورته کفر ښکاري اؤ کوم چې عصري زدکړې ؤکړي، نو دیني پوهه ورته د وخت بربادي ښکاري. معاشي حالات مو داسې دي چې په یوه پوهه کښې هم د کمال تر بْریده رسېدے نۀ شو، نو نیمچه دیني پوهانو ته نور خلک نزدې نزدې ټول لار ورکي ښکاري اؤ نیمچه عصري زده

کوونکي ته مذهبي طبقه ګمراهه ښکاري. حکيمانو ته ډاکټران په شاړه سر ښکاري او ډاکټرانو ته حکيمان غوايان ښکاري او نن سبا خو را ته هغه د دوه لسيزو زړه د پښتونخوا د کوڅو کرکټ فوبيا په افغانانو کښې څليږي، چې د جمعې په مونځ ولاړ وو او يو هلک په غوږ کښې د ريډيو تار لګولے وُ او دومره نشه کښې تلے وُ، چې جومات کښې ئې چغه کړه، "چهکاااا" (يعني شپږيزه) او بيا خلکو پڼې راباندې کړل، سم ئې وُغربوهٔ. نو مونږ لوي وارهٔ اوس په هغه رنځ اخته شو، چې درسته ورځ له سحره تر ماښامه د کرکټ په سر نور قامونه کنځو او لوبه هم لکه د جنګ ګڼو او ټولو سترو د پښتنو فېس بوکي ګروپونو کښې هم دغه شور ماشور دے، چې فلانے ښهٔ لوبغاړے دے، فلانے نن په صفر وُسوزېدو ـــــ هی‌هی افسوس دے !ما ته خو د څو ورځو نه داسې محسوسيږي، چې مونږ ته هېڅ کومه قامي ستونزه نشته، چې زړګونه پښتانهٔ پرې بحث وُکړو. په سور اور کښې ولاړ يو او له خپله بده حالته حيا نهٔ راځي او اړم يو لوس پردی لوبې هم ټوله ورځ ګورو او خپل وختونه بربادوو. لوبه چې مهذبه نړی ئې د خلاصېدو تروخته وُګوري، خوند ترې واخلي او بيا خپل کار کوي خو زمونږ نه د تېرې مياشتې او کال ګټه او بېلات هم نهٔ هېريږي او خپل زړونه مو وُخوړل.

ياره !کوم داسې عمل هم شته، چې مونږ پکښې د ميانه روی يا له اعتداله هم کار اخستے دے؟ کهٔ د چا سره مو دښمني شي، نو د نيکونو نه تر نمسو ئې کنځو او چې نوغے مو ورله ويستلے نهٔ وي نو بخښو ئې نهٔ. کهٔ مونږ په روا يو کهٔ په ناروا يو، خو مخالف ته هم

دغه رویه لرو۔ په وړه پوله یا د زمکې په یوه لوېشت ځاے په کلونو کلونو د عدالتونو چکرې وهو اؤ اوګې مو ټوپکو کړېکړې۔ په دغه وخت کښې را ته بل ورور پښتون ښکاري نۀ مسلمان اؤ نۀ انسان اؤ نۀ را ته د جرګې هغه پرېکړه د منلو وړ وي، چې زمونږ په خلاف کښې ؤشي اؤ د هرې جمعې په ورځ د ملایانو اوږدۀ اوږدۀ تقریرونه اؤرو اؤ لکه د بیم د مارانو ورته غلي ناست یو۔ خپل بچیان د نمونځونو په نۀ کولو وهو اؤ ټکوو خو بیا د خپل تربور خلاف ورته پخپلو لاسونو ټوپک غاړې ته اچوو، چې ورشه اؤ مړ ئې کړه۔ په کوڅه کښې ماشومان د یؤ بل سره په وړه خبره شر ؤکړي نو مونږ مشران پکښې د یؤ بل سرونه مات کړو۔ د خپلو تورسرو حیا را ته ډیره ګرانه ده اؤ مخ ښکاره کول ئې را ته د پښتو اؤ اسلام د نۀ منلو برابر ښکاري، خو کلي اؤ وطن کښې شر هم د اسې کوو، چې مرګونه ؤکړو، نو بیا همدغه تورسرې په پردو کوڅو خېراتونه غواړي اؤ په بازارونو کښې لوڅ سرونه د ټوک ډوډۍ د پاره په دوکانونو ګرځي اؤ یوه یوه روپۍ راټولوي۔ یا په تمبوانو اؤ کوډلو کښې د خپلو یتیمانو بچیانو سره د ژوند شپې سبا کوي۔

مونږ د خپلې پوزې نه اخوا هېڅ نۀ وینو۔ کار کوو، خو پایلې ئې په نظر کښې نۀ ساتو۔ خپله بې عزتي مو بدي شي، خو د خپله لاسه خپله بې عزتي کوو۔ خپلې تورسرې سرتوروو اؤ چړ ته ئې کښېنوو۔ د خپلو اولادونو مونږ پخپله سُتر دښمنان یو۔ د نورو قامونو دښمنۍ ته خو د خبرو تر بُریده بیخي یؤ موټے یو، خو خپل منځ کښې مو د یؤ بل پرمختګ بدي شي اؤ یؤ پښتون د بل پښې راکاږو اؤ کۀ دروغ نۀ

وایو، نو مونږ پخپله د ځانونو تر ټولو سْتر دښمنان یو، خو له حقیقته تل سترګې پټوو. زمونږ د ژوند کوم داسې اړخ هم شته، چې مونږ پکښې لکه د نړۍ د نورو قامونو د اعتداله کار اخستے؟ ما ته خو نۀ ښکاري. په ټولنه کښې له واکدارانو مونږ تل ګیلې کړي، خو د اولس (سیول سوسایټي) یا زمونږ خپل قامي کردار کله مونږ تر سره کړے؟ د هند اؤ پاکستان ترمنځه دوه سْتر جنګونه شوي اؤ زرګونه خلک اؤ عسکر پکښې مْړۀ شوي، خو دلته دا رواج هم تر سترګو کیږي، چې د هند ادیبان وکیلان اؤ صحافیان د واهګه په پوله جوپې جوپې لاهور ته ځي اؤ د اولس سره کښیني اؤ دغسې د پاکستان صحافیان وکیلان شاعران اؤ ادیبان د هند د خلکو سره کښیني اؤ د دې خبرې نه انکار نۀ شي کېدلے، چې دوي د دواړو وطنونو په جنګ بندۍ اؤ روغه کښې سْتره ونډه لري. یاده دې وي، چې دې د سېول سوسایټۍ غړو ته حکومت نۀ وائي، چې تاسو داسې ؤکړئ، خو دوي پخپله خپل اولسي کردار تر سره کوي اؤ دواړو اولسونو تر منځه تاؤ تریخوالے ختمول غواړي اؤ د لوبډلو لوبغاړي ئې د امن سفیران ګڼلي شي. په ګټه تاوان ئې سرونه نۀ خْوري، خو تاؤ تریخوالے ختمول ئې موخه وي.

نو زمونږ په قام کښې څوک داسې صحافي، ډاکټر، لیکوال، شاعر یا نور اولسي خلک نشته، چې د خپل راتلونکي د پاره د اعتدال لاره خپله کړي؟ دا قام د دې سْترې بربادۍ د لارې راستون کړي اؤ د مخالف وطن اولس په دې خبره داده کړي، چې واکدار مو ستاسو په مْرسته تر څوکیو رسېدلي اؤ زمونږ سره ظلم کوي؟

مونږ په وېنا خو د جرګو مرکو قام یادېږو ، خو په عملي توګه بېخي د شر په لار روان یو. د بدۍ ځواب په بدۍ ورکول هېڅکله هم هوښیارتوب نهٔ دے.زمونږ قامي حالات داسې دي، چې مونږ ته یوه صلح حدیبیه پکار ده . زمونږ قامي معاشي حالات داسې دي چې مونږ ته اوږه ښکته کول پکار دي . مونږ ته له زغمه اؤ صبره کار اخستل پکار دي اؤ مونږ ته جذباتي نعرو هېڅ حاجت نشته.مونږ ته په دې سُتونزمنو حالاتو کښې یؤ سُتر اولسي رول لوبولو ته اړتیا ده اؤ دا کار به مونږ اولس کوو اؤ د اعتدال اؤ هوش لار به خپلوو. کهٔ داسې ؤنهٔ کړو، نو مونږ خو غرق یو، خو خپل راتلونکي نسلونه به هم غرق کړو.
وما علینا إلا البلاغ.

پښتو
pukhto.net

# پیران مریدان

لکه د نورو دا مخلوق هم د پښتنو اؤ نورو قامونو سره ژوند کوي. په پنجاب اؤ سیند کښې خو د دوي رول دومره مهم دے، چې حکومتونه جوړوي اؤ وړانوي اؤ د پښتنو په قبائیلي سیمو کښې هم د دوي زور شته. بیا چې کومو سیمو کښې شیعه ګان دي، لکه هنګو اؤ پاړه چنار، دغلته هم دا پیري مریدي ښه په جوبن کښې ده. پنجاب اؤ سنده خو به پرېږدو، چې دوي په دغه ډول اؤ سورني د زمانو نه مئېن دي اؤ د دوي پیر ته دوي سجدې کوي اؤ قبرونو نه ئې په شا را ووځي اؤ د بابا په مالګه څټلو د زړو زړو مرضونو علاجونه کوي اؤ هم دا پیران د دوي واکداران هم وي، لکه ګیلاني، پیر پګاړه اؤ نور په زرګونو سْتر سیاسي نومونه پېژنو، خو راځو خپلې خاوړې ته چې پخوا به دا پیر پرستي ډېره وه. د ټوخي یؤ بابا، د بْرګي بل بابا، د دانو ځان له اؤ د بې اولاده خلکو د بابا په خْوا کښې به وړه غونډې ځانګو وه، چې خلک به ورتلل اؤ منخښتې اؤ نذرانې به ئې پکښې ایښودلې. ما ته یاد شي چې د نْیا به مې پښه ؤټکېدله، نو وئېل به ئې، "پیره بابا !راؤرسېږې". چې زلزله به شوه، نو ابۍ به وئېل، "لویه څْوانه را ؤرسېږې "اؤ کله چې به دْرمن کښې دانې ویشلې کېدلې، نو د لْوي څْوان اؤ پیربابا به پکښې خپله دړۍ وه اؤ په کلي کښې د بابا د جوړ شوي قبر څادر به هره میاشت نوے کېدلو اؤ د هرې جمعې په شپه به مېله جوړېدله اؤ خلک به د بابا نه حاجتونو غوښتلو له راتلل.

لنډه دا چې باباګان نۀ وو، د شرک اډې وې ـ پير بابا خپل کتاب "حجة البالغه "کښې د منخښتې په حقله ليکلي،

"د غيرالله په نوم کۀ چا د مچ د وزر هومره څيز ورکړو يا واخستلو، نو ښځه پرې طلاق ده".

خو د پير بابا په مزار به څۀ نۀ کېدل اؤ څۀ نۀ کيږي؟ د قراني پوهې سره د شرکيات کوم چې نۀ عقل مني، نۀ ئې مذهب مني، رو رو په ختمېدلو دي اؤ د مذهبي خبرې نه پرته دا پيران يوه استحصال کوونکې ډله هم ده، چې نيکۀ ئې مړ شوے ښخ کړے ئې دے اؤ دا ئې منجور دے اؤ خلک ورته ګډان چيلي راولي اؤ د قبر په سينه د سلو شلو زرو اؤ لسو نوټونه پراتۀ دي اؤ بيا د بابا اولادونه ګنيږي، نو د اوونۍ اووۀ ورځې ويشلې کيږي ـ يوه ورځ د يؤ ورور، بله د بل ورور اؤ بله د ترۀ اؤ د ترۀ د ځامنو اؤ په دغه اولسي حرام مال سترې بنګلې، ښکلې ګاډي اؤ دوترونه اخلي اؤ اولادونه ئې لوړې زدکړې کوي ـ

په مذهبي سياست کوونکو ډلو کښې دا خلک ښکاره ليدلے شو، چې د صاحبزاده اؤ پير، سيد يا ميا ټکے ئې د نومونو ورمبنو يا اخيرنو سرونو ته ليکلے وي ـ مخدوم، سجاده نشين اؤ نور نومونه پنجاب سيمو کښې ډېر ليدلے شو، چې د واک خاوندان دي ـ
نو دا پيران اؤ مريدان هم هغه سرمايه داره ډله ده، چې د سياست د لارې د اسلام په نوم د غريب اولس څرمنې ؤباسي اؤ پيړۍ ؤشوې چې تر اوسه هم دا خلک په واک کښې دي ـ د ووټونو ورځې چې

راشي، نو عام اولس د ثواب په نیت دوي له راپ ورکوي اؤ دوي د خپلو نیکونو اؤ ور نیکونو نومونه کېښ کوي اؤ جېبونه ډکوي۔
د ډنگ سرود محفلونه کوي، چې زمونږ د څو لوړ پؤړو لیکوالانو لکه رحمان بابا، خوشحال خټک، حافظ الپوري اؤ نورو نه ئې پښتنو ته خالصه د دوهې ملنگان جوړ کړي ۔ دوکړۍ له کړنگ ورکوي اؤ د رحمان بابا شعرونه ئې چې څو زده وي، د قوالۍ په شکل ئې وائي اؤ چاپېره ناست چرسیان ورته شنۀ لوګي پورته کوي اؤ د پیر څو بالکي د ډولکو غرب ته په ځانونو وجد راولي اؤ راؤلیږي ۔ دغه ټولګے له ماښامه تر سحره یؤ نمونځ ؤنۀ کړي اؤ محفل سماع کښې ناست وي، ثوابونۀ ګټي اؤ د خدا ے په عشق کښې ورک ملنگان د خدا ے کور ته په میاشتو میاشتو نۀ ورښکاره کیږي۔ سپېرۀ مخونه ئې نیولي وي۔ چرسو ورله غاښونه زیړ کړي وي اؤ د خلکو د لاسو راوړي دولت باندې مفت لنګرونه چلیږي اؤ دوي ورته پاخۀ پراتۀ وي۔
د خدا ے اؤ رسول عاشقان بیخي نور خلک دي، چې د دې نمائشي کارونو په خوا هم نۀ ورځي اؤ هر کار ئې په دلیل اؤ قران اؤ سنتو سره برابر وي، خو دغه سوچه صوفیان دې خلکو دومره بدنام کړي اؤ بدناموي ئې، چې اوس په هېڅا باور نۀ شو کولے، چې ګنې دې زمانه کښې لا هم چرته په خدا ے مئېن صوفي هم شته؟
رب دې ؤکړي، چې مونږ نور هم هوښیار شو اؤ دا تش د نوم ملنگان پیران اؤ مریدان ئې اولس ته ښکاره کړو اؤ خپلو کلو کښې د شرک دا اډې ختمې کړو اؤ قران اؤ حدیث په هره ژبه کښې ژباړه شوي

شته، باید پخپله ئې ؤلولو اؤ د چا په اوږه پورې سْپوږمۍ ؤ نۀ ګورو اؤ خپل لوټ شوے مال د دې پیرانو مریدانو نه واخلو اؤ یؤ پیر یا بابا هم په اسلام کښې د سیدنا محمد صلی اللہ علیه وسلم نه لْوړه رتبه نۀ لري- په مدینه کښې مې د هغوي مبارکه روضه څو څو ځله لیدلې ده، چې ډېره په سادګۍ جوړه شوې ده اؤ څْوا ته ورسره د خلفاے راشدینو اؤ بهر هدیرو کښې د صحابه کرامو قبرونه بیخي د زمکې سره هوار دي- نۀ پْرې چا ګنبدونه جوړ کړي، نۀ پْرې څوک شالونه غْوړوي، نو دا پیران کوم حق لري چې مونږ ورله شالونه جوړوو اؤ د زمکې یوه لویه برخه چې د څو غریبانو کورونه پْرې جوړېدلے شي، د دوي قبرونو ته سپارلې ده؟
د خداے د پاره پښتنو کله به کتاب ته ورښکاره کېږئ؟

pukhto.net

# زمونږ ټولنه کښې د هنر بې قدري

د نړۍ نظام خدا ے پاک داسې جوړ کړے، چې مونږ له يؤ بل بغېر نيمګړي يو۔ خپل چاپېريال ته نظر ؤکړئ، چې کۀ نايان نۀ وے، نو زمونږ وېښتان به چا سمول؟ کۀ مستريان نۀ وے، نو کورونه به مو چا جوړول؟ کۀ دېقانان نۀ وے، نو زمکې اؤ باغونه به چا سمبالول؟ کۀ موچيان نۀ وے، نو پېزار به را ته چا جوړول؟ کۀ ډاکټران اؤ نرسان نۀ وے، نو علاجونه به مو چا کول؟ کۀ ترکاڼان نۀ وے، نو کټونه ورونه اؤ کړکۍ به را ته چا جوړولې؟ کۀ اينګران نۀ وے، نو لرونه اؤ تبرګې به را ته چا تېرۀ کول؟ کۀ ډرائېوران نۀ وے، نو بازارونو ته به خوراکي توکي چا رارسول؟ کۀ مزدوران نۀ وے، نو دغه توکي به چا خېژول کوزول؟ کۀ ملايان نۀ وے، نو ختمونه، جنازې اؤ روغې به چا کولې؟ کۀ شپونکيان نۀ وے، نو غرونو کښې به مو څاروي اؤ مالونه چا ساتل؟ کۀ ګوجر نۀ وے، نو شودۀ به را ته چا راوړل؟ کۀ خياطان (ټيلران) نۀ وے، نو جامې به را ته چا ګنډلې اؤ کۀ کولالان نۀ وے، نو لوښي به را ته چا جوړول؟ــــــ

خو بيا ؤګورئ، چې زمونږ په پښتنه ټولنه کښې د پورته يادو شوؤ څو هنرونو نه علاوه ټولو ته په ټولنيزه توګه ډېر سپک نظر کولے شي۔ تاسو به اؤريدلي وي، چې مونږ وايو، پرېږده مړه دا فلانے څۀ د ناي ځوے دے، د کولال ځوے دے اؤ کۀ دروغ نۀ وايو، نو ځان ته چې څوک ډېر سوچه پښتانۀ وائي، نو د دوي سره رشتې هم نۀ کوي

زمونږ پوهه هنرلرونکي لکه شاعر اؤ اديب هم دغه حال لري. مونږ ورته هېڅ د عزت ځاے نۀ دے ورکړے. د نورو ژبو ليکوالان هغوي په سرونو ګرځوي. د يوې يوې ليکلې افسانې ورته لکونه روپۍ ورکوي اؤ ماړۀ ئې ساتي اؤ زمونږ پښتون ليکوال خپلې ليکنې ويړيا وېيپانو اؤ ورځپاڼو ته لېږي اؤ بيا ئې د چاپ انتظار هم کوي اؤ د لوستونکو د کړو وړو خبرو سره هم مخ کيږي.

زمونږ فنکار، کوم چې زمونږ د موسيقۍ فن ژوندے ساتي، د ډم په نوم يادوو. په سازونو مئين يو، خو سازيان مو بدي شي اؤ په مرګ کښې ئې جنت لټوو. مونږ خپل مُلا په سرو ډوډو ساتو اؤ شاګردان ئې د ژمي په يخو يخو سحرونو کښې د چايو د پيالې د پاره زمونږ په کوڅو کښې ګرځي.

کۀ د ټولو خبرې کوم، نو دا ليک به رانه اوږد شي، خو مونږ د احساس برترۍ ښکار شوے قام يو. پښتانۀ خو ښۀ په فخر ځانونو تۀ وايو، خو د پښتنو ځانګړي صفات يۀ هم نۀ لرو اؤ نور قامونه خلک ځانونو ته نزدې کوي، خو مونږ ته پْرې ځانونه سْپک ښکاري اؤ پښتو مو کچه کيږي.

نو کۀ ښۀ ژور فکر پْرې وکړو، نو دا هغۀ محرومې طبقې دي، چې نن تْرې مونږ په خپلو کورونو کښې په ارام ژوند نۀ شو کولې. چې جرم ؤکړي، نو مجرم ئې ګڼو، خو د جرم په اسبابو مو کله هم ژور فکر نۀ دے کړے، چې د دوي په احساس محرومۍ کښې زمونږ پوره پوره برخه شته خو مونږ ئې اقرار نۀ کوو.

# ظفرخان خټک ته ليك

ظفرخانه! كۀ فرض كړه، مونږ ټول قام ټوپکونه راوخلو اؤ تشدد په تشدد ختمول غواړو، نو ختم به ئې كړو؟ اوسنى نړۍ د ښکرورو ښکر په وهلو نۀ، په نورو تدبيرونو مات كړي اؤ د هغې د پاره ئې سرونه په ګړېوانونو ورمنډلي اؤ په دستياب وسائلو كښې دننه ئې خپل مرام حاصل كړے اؤ بنيادي څيز ئې اقتصادي وده ګڼلې. د بېلګې په توګه، كۀ څوک په قام كښې د هرې نظريې خاوند دے، خو دا خبره سپين حقيقت دے، چې نظريه خو د لاګو كولو يا عملي كولو د پاره وي، نو بغير د ښۀ اقتصاده يا مړو اؤ خوشاله خلكو نه څوک څنګه په خوارو مفلسو بيمارو قرضدارو خلكو باندې خپله نظريه عملي كولے شي؟ د مثال په توګه مذهبي حواله به دركړم. يؤ موړ خوشاله تعليم يافته صحت مند سړے ښۀ مذهب باندې عمل كولے شي، كۀ مفلس لاچاره قرضدار ے؟ زمونږ ښۀ عالم چې شل كلونه پس فارغ شي، نو څۀ لټوي؟ د جمات امامتي يا دينياتو استاذي؟ دا ولې؟ ځكه چې مونږ ټولنيز

اقتصادي پلان نۀ لرو. مونږ چغې وهو، کلونه ؤشو، چې یؤ کیږو، کۀ یؤ نۀ شو نو ورکیږو، خو دا خبره را ته بې د عملي پلانه چې د ښمنو پښتنو نه پېل کول غواړي، هسې خبره ښکاري. د څو کسانو راغونډول یا د میډیا د لارې دا رنګ قامي شعور راویښول د 75 ملیونه پښتنو غوږونو ته خبره رسول اؤ بیا ئې قائلول، دا کار دومره اسان اؤ بې د مالي تاوانه کله هم نۀ شي کېدلے. تۀ فکر ؤکړه، چې مونږ تر اوسه د ګوتو په شمار تې وي چېنلونه هم نۀ لرو اؤ کۀ لرو، نو هم شخصي ګټه مو د قامي ګټې نه زیاته په نظر کښې وي. زۀ وینم، چې کوم پښتون سره ایله لږې پېسې ؤشي یا دولتمند شي، نو بیا خپل کلتور اؤ قام ته درونډ نظر نۀ کوي اؤ د داخل نه تر لباسه بدلون پکښې راشي. نو بیا هم وایم، چې کۀ په افرادي قوت ازادي هم لاس ته راؤړو، خو په فکري توګه داسې یو، نو بیا به هغه ازادي ؤ نۀ ساتلے شو. ډېر ازاد ملکونه نن ؤګوره، چې په سوال ګوزاره کوي اؤ په قرضونو چلیږي. نو خپل وګړي ورته هم ازاد نۀ وائي. نو زۀ چې تا ته ظفر خانه! بیا بیا دا تپه کؤم، چې زمونږ مسایل چې دا مونږ ته کوم بیانیږي اؤ ډنډوره ئې کیږي، دا هډو نۀ دي.

پښتو
pukhto.net

# مزدور

هو !وینم ئې چې هره ورځ په خُولو لامبي ـ نۀ پوهېږم، چې ولې هرې دنګې ماڼۍ ته ګورم، نو د خپل مزدور لالي د خُولو وږم تُرې په ما راځي اؤ چې د جنتیانو سره د اے سي یخو کوټو اؤ دفترونو کښې کښېنم، نو ځان را ته مجرم ښکاره شي اؤ د ټکنۍ غرمې هغه د بازار د چوک (څلورلارې) تۆدۀ تپونه مې په اننګو الوځي؟

مزدور نړۍ اؤ نړیوالو له څۀ نۀ دي ورکړي، خو نړۍ اؤ نړیوالو مزدرو له څۀ ورکړي دي؟

دا هغه پوښتنه ده، چې د نړیوال سرمائې د سامراج. لوستے انسان. زبرګ اؤ د مهذب انسانیت د دعوه کوونکي سره ئې جواب بې له اوږدو تقریرونو هېڅ نشته. دا نغري به ساړۀ وي ـــ دا کوډلې به ورانې وي اؤ په دې کوڅو کښې به د ویر راج وي، تر څو چې جل وهلې جذبې ژبورې شوې نۀ وي.

د دنګو مانړو تادې به پخې وي، خو د راؤلېدونکو جونګړو نه وتونکې جړقیدونکې جنازې د یؤ داسې انقلاب زېرے ګڼو، چې د تهذیب د دعوه کوونکو د مخونو نه پردې پورته کړي اؤ د فرانسوي انقلاب پایلې کۀ د سامراج په ګټه تمامې شوې، خو د دې راتلونکي انقلاب رنګ به لکه د څولې د رنګ ښکاري نۀ، خو وږم به ئې د نړۍ تر اخیرني ژوندي انسانه پاتې شي.

اے شل کلن مزدوره! زړۀ دې راله ؤدردوۀ
د ژوند ښکلا ئې درنه څومره په پسته واخسته
تۀ هم قابل ئې، چې کالج یونیورستۍ ته لاړ شې
ظالم غربت درله د غاړې نه بسته واخسته

# اولس ولې اولس دښمني کوي؟

د هند، پاکستان، بنګله دیش افغانستان اؤ شاؤخوا وطنونو اولس ټول یؤ قدر مشترک لري اؤ هغه غربت دے. کۀ څۀ هم په پورته یادو شوؤ وطنونو کښې هند د نړیوالو له نظره چټک پرمختګ کوي، خو پایلې ئې زمونږ د ورانديِ ښکاره دي، چې هلته اوس هم خلک په لارو خوبونه کوي اؤ کۀ سړے مومبۍ یا ډیلي ته ورشي، نو د سترو سترو ودانیو ترڅنګ وړې وړې خیمې هم لیدې شي، چې د اولسي ژوند اندازه ترې ښه په اسانه کیږي اؤ د خلکو په نظر د دې شتمن وطن خلک اوس هم عربو اؤ بهر نورو وطنونو کښې خواري مزدوري کوي اؤ د هند واکداران په سرو سپینو کښې لوبې کوي اؤ د نړۍ دا ستر جمهوریت هم له څو شخصیاتو اؤ کورنیو چاپېره چورلي. کېدے شي په راتلونکي کښې هند پرمختګ وکړي، خو زما په اند څو پېړۍ به نورې هم ؤنیسي، ځکه چې د هند ابادي دومره ډیره ده، چې ترتیبول ئې د اوسني نظام سره ستونزمن کار دے اؤ غریب هلته اوس هم غریب دے اؤ سرمایه د څو کورنیو سره ده. په صنعتونو هم ددغو کورنیو قبضه ده اؤ سترو ادارو کښې هم دغه خلک ناست دي. کرپشن، غبن اؤ د اولس مال خوړل دومره زیات دي، چې تاسو هندي میډیا ؤګورئ، نو سر به مو څۀ نا څۀ خلاص شي. دغه حال ورپسې د پاکستان اؤ بنګله دېش هم دے. پاکستان چې دوه ټوټې شو، نو بنګله دېش په وجود کښې راغلو. د بنګالیانو حال خو له هېچا پټ

نۀ دے ـ کۀ څۀ هم هلته فوځ د واک شوق تر ډېره وخته لرلے، خو اوس بنګله دیش دوه ګوندي جمهوریت پله تلے دے ـ حسینه واجد اؤ خالده ضیا ئې په وار وار مشري کوي، خو دغه جمهوریت داسې دے، چې دوي دواړه ګوندونه د یؤړ بل د وینو تږي دي ـ د یؤ ګوند کارکنان د بل ګوند کارکنان وژني اؤ چې کومه یوه واک تر لاسه کړي، نو بله ئې پښې راکاږي اؤ د څو لسیزو نه همدغه لوبه ده، چې اولس ورځ په ورځ خوارېږي اؤ واکداران شتمن کېږي اؤ بنګالیان په پردو وطنونو کښې لیدے شئ، چې ګڼ شمېر ئې پردۍ کوڅې جارو کوي اؤ په بیخي لږ أجرت له وطنه بهر شپې سبا کوي اؤ د نېستۍ له کبله وړې وړې غلاګانې هم کوي ـ چې څوک له وطنه بهر وي، نو دا حقیقت بۀ ورته څرګند شي چې بنګالیان په پورته یادو شوؤ وطنونو کښې تر ټولو ځپلے قام دے ـ دغه حال بیخي د پاکستان د اولس دے ـ په پنځۀ شپېتۀ کاله کښې دلته تر ډېرشو زیات کلونه فوځ د واک مزې اخستي ـ د تعلیمي ادارو نه واخله، تر صحت اؤ نورو اولسي ادارو فوځي واکمن ناست دي ـ د وطن ټولې شتمنۍ د دوي په لاسونو کښې دي ـ د نورو ادارو لکه عدالت، صحافت اؤ سیاسي واکمنو سره هر رنګ احتساب یا سپکاوے کېږي، خو دوي پکښې سپین هتیان دي ـ کۀ څوک ورته ګوته نیسي، نو د وطن دښمن ټاپه تیاره پرته وي اؤ بیا شرمېږي ـ د سیاسي ګوندونو دا حال دے، چې پلار مري، نو ځوے ئې مشر کېږي اؤ چې ځوے مري، نو نمسے ئې مشر کېږي ـ په ټولو ادارو کښې دوي خپل خپلوان ورټومبلي دي ـ ټولې سترې څوکۍ د دوي

pukhto.net

په لاسونو کښې دي ـ سْترې بنګلې، نوي ګاډي اؤ شاه خرچيانې د دوي پلرنے ميراث دے ـ د بهر وطنونو بنکونه ئې ډک کړي دي اؤ چې کوم يؤ هم له واکه ځي، نو بيا مجرم وي ـ سياسي مذهبي ګوندونه هم د نورو په لاسونو کښې لوبيږي اؤ د فوځ د ضرورت په وخت دوي په اسانه اولس له دهوکه ورکوي ـ جنتونه اؤ دوزخونه د دوي خپل دي، چې څوک غواړي شهيد کوي ئې اؤ چې څوک غواړي، مرداروي ئې ـ قامپاله ګوندونه هم د څو کورنيو چاپيره چورلي اؤ د اولس د پاره ئې تر اوسه هېڅ داسې د ښيګړې کار ؤ نۀ کړو، چې سرے ئې ؤستائي ـ په عدالتونو کښې د دې کورنيو خلک ناست دي، په ټيکس راغونډوونکو ادارو کښې د دوي د کورنيو خلک ناست دي اؤ دوي له هېچا وېره نۀ لري ـ پخپلو کړنو کښې بيخي ازاد دي اؤ بل اړخ ته اولس دے، چې هره ورځ د لْوږې نه ځان وژنې کوي ـ د غربت دا حال دے، چې دوه وخته څْواړۀ په دې وطن کښې پېدا کول ډير ګران شوي ـ د مزدور په دياړى ؤچه ډوډۍ هم نۀ تر لاسه کيږي ـ تعليمي حال هم له چا پټ نۀ دے، چې لکه هندوانو کښې شودر اؤ برهمن دي، په پاکستان کښې واکدار اؤ اولس د دوي بېلګه ده ـ د غټانو بچيان په پرائيوېټ ښوونځو کښې لْوړې زدکړې کوي اؤ افسران تْرې جوړيږي اؤ د اولس بچيان سرکاري ښوونځو کښې زده کړې کوي اؤ بابوګان اؤ چپړاسيان تْرې جوړيږي اؤ تاسو ليدے شئ، چې د وطن ګڼ شمېر ځلمي په نيمه کښې زدکړې پرېږدي اؤ بهر وطنونو ته مزدوريانو له ځي اؤ پْردۍ غلامي کوي ـ په پاکستان کښې د وړو صوبو سره تل زياتے

کيږي اؤ شټمنۍ ئې د شمېر څو ادارې اؤ واکمن څوري اؤ دوي پخپلو شته شټمنيو کښې د غربت په ژرنده دل شول ـ دغه حال بيخي د افغانستان هم دے ـ د تېرو درې لسيزو نه په دې وطن کښې جنګ دے، خو لږ به د دې لسيزو نه اګاهو نظر واچوو، چې اولس سره څۀ کيږي اؤ شوي ـ

مونږ له پيړيو نه دا خبره ښکاره ليدې شو، چې کۀ په افغانستان کښې امن هم وو اؤ واکداران ئې تر هنده رسېدلي وو اؤ د شټمن وطن د سرو سپينو خاوندان وو، خو د پښتنو کلي ددې خبرې ګواه دي، چې په ټول کلي کښې به څو ملکان خانان اؤ نوابان ماړۀ وو ـ د وطن ټولې شټمنۍ لکه زمکې، غرونه، کانونه اؤ ځنګلې د دوي پلرنے ملکيت ؤ ـ دغو واکدارانو د نړۍ د پرمختللو وطنونو نه هېڅ هم زده کړي نۀ وو ـ د قام دا تعليمي حال له هېچا هم پټ نۀ دے، چې په هغه تېرو وختونو کښې په ټول کلي کښې يؤ منشي صېب ؤ، چې کۀ چا ته به چرته چيټۍ راغله، نو منشي صاحب له به ئې څربه چرګه يؤړله، نو هغه خط يا چيټۍ به ئې ورته واؤروله ـ نيم اولس د خانانو نوابانو اؤ ملکانو زمکې سنبالولې اؤ دغو واکدارانو مزې اؤ چرچې کولې ـ لښکرې به هم غريبانو کولې ـ وينې به د دوي توئېدلې اؤ نوم به د واکدار کېدلو ـ په ميلونو ميلونو به چرته يؤ مکتب يا ښوونځاے په نظر نۀ راتلو اؤ د واکدارانو د زده کړو د پاره درباري استاذان ډېر وو، چې دوي اؤ د دوي اولادونو ته به ئې تعليم ورکولو اؤ يا به بهر وطنونو ته هم د زدکړو د پاره تلل ـ مذهبي مشران هم د اولس کوم څواخوګي نۀ وو

اؤ د دوي د شلېدلو جامو اؤ تريخ ژوند هېڅ درد ئې په زړونو کښې نۀ وو. اوس کۀ يؤ سړے را ته د دغو واکدارانو سرونه وينځي، نو دروغ ئې ځکه ګڼم چې هرڅۀ زمونږ د مخې ښکاره دي، چې سړے وړے شي نو د سؤر غوښۀ هم خوري. چې د بهر وطنونو واکدار ؤغواړي، په وړي اولس کښې ښۀ په اسانه ځان ته په پېسو خلک لتولے شي اؤ خپلو شومو اهدافو ته رسېدلے شي، چې ځېلې ئې اوسنۍ کله هم نۀ دي اؤ د پخوانو جرمونو سزا نن مونږ ته رسيږي. کۀ مونږ پړې ستركې پټوو، نو دا بېله خبره ده، خو زمونږ اولس د تېرو درې لسيزو نه غريب اؤ بې سواده نۀ دے، پېړۍ ؤشوې، چې د افغانستان اولس خوار دے اؤ واکداران ملکان خانان اؤ نوابان ماړۀ. د اوسني جنګ کړۍ کۀ د هرځاے سره تړو، خو ستر لامل ئې هم دا دے، چې د وطن په ښمنيو کښې کله هم اولس ته هېڅ برخه نۀ رسېدلې وه، نۀ اوس رسيږي. زۀ هغه بهر مداخله کوونکي هم غندم، خو خپل پخواني اؤ اوسني واکداران هم هېڅکله بخښلے نۀ شم، چې افغانان ئې په وينو ؤلمبول اؤ لا خوا ئې سړيږي نۀ اؤ افغان اولس هېڅ ګرم نۀ ګڼم، چې نهره ګيډه جرم جرم نۀ ګڼي اؤ د اولس دا حال دے، چې د غربت مهاجرت اؤ بې سوادۍ په ژرنده دل شول.

دا پورته اولسي حالات بېخي يؤ رنګ دي. په دې وطنونو کښې اولسونه غرق دي اؤ واکدار اوس هم مزې کوي. کۀ په چا ورانه ده، نو هغه دا خوار اولسونه دي اؤ د ژوند د خوږو نه نۀ پخوا خبر وو، نۀ اوس خبر دي اؤ څو پېړۍ ؤشوې، چې زمونږ د تولو ستونزه

بیخي یؤ رنګ ده اؤ هغه غربت دے، د تعلیم نیشتوالے دے اؤ د سمو اولسي درد لرونکو واکدارانو نیشتوالي دے. نو چرته چې درد اؤ تکلیف مشترک شي، پکار ده چې اولسونه په یؤ بل پسې ټوپکې پورته نۀ کړي اؤ د اولسي فکري بدلون د پاره هڅې ؤشي اؤ د داسې انقلاب (بدلون) د پاره لاره هواره کړې شي، چې مونږ هم د نړۍ د نورو اولسونو په څیر ژوند ؤکړو. زمونږ بچیان هم دومره حق لري، څومره چې د دې سیمو د واکدارانو بچیان لري. مونږ هم چاپېره وینو چې اوس ټول یورپ یوه کرنسي (یورو) کاروي اؤ وطنونه اؤ مذهبونه ئې یؤ نۀ دي. جلا مذهبونه اؤ جلا جلا قبیلې دي، خو له خپلو حقونو خبر دي اؤ واکداران ئې د دوي د خبرو منلو نه پرته بله لاره نۀ لري. هرنوے ساینسي ایجاد د دوي په لاسونو سر ته رسي. د صحت تعلیم اؤ زده کړو یؤ رنګ اسانتیاوې لري. جغرافیائي حالات ئې هم زمونږ نه مختلف نۀ دي اؤ قبیلوي ځانګړتیاوې ئې هم څوندي دي.

له بده مرغه مونږ د یؤ بل پښې راکاږو. د یؤ بل توغونه سیزو. د یؤ بل په مرګ کښې جنتونه لټوو. انساني مینه په دې وطنونو کښې د مرغۍ پۍ یا د اینځر د ګلونو په څیر ده، چې چرته هم نه تر سترګو کیږي اؤ کۀ داسې حالات وو، څنګ چې اوس دي، نو نورې څو پېړۍ به هم مونږ په دې اوسني کړکیچ کښې نخښتي یو اؤ د شمېر څو کورنۍ اؤ واکداران به د یادو شوؤ ټولو وطنونو د سرو سپینو خاوندان وي اؤ اولسونه به خوار وي.

# خبرې

هو!

هر سحر چې له خوبه پورته شم، نو د چایو د پیالیو کړنګ کړونګ مې په غوږو راشي. فکر کوم، چې حمزه مې را ته چاے راوړي، خو چې سم ویښ شم، نو الماري ته ځورنده د غلامۍ توره پټه کومه چې زهٔ د کار په وخت غاړه کښې اچوم، ووینم اؤ سترے سترے مخ لاس وینځلو له ورشم. بهر ډرایور هارن وکړي اؤ زهٔ ځورند سر د کار ځاے ته ورسېږم. بیا هلته په الماري د وخت وېش (ټایم ټېبل) لګېدلي کاغذ ته وګورم، چې نن اتهٔ ساعته به زهٔ کوم ځاے کښې لکه د مشین د پورزې پکار یم اؤ بیا ماښام شي اؤ د خاورو کوټې ته سترے راشم اؤ کله کله د بوټانو سره کټ ته ورپرېوزم اؤ چې ویښېږم، نو نیمه شپه وي اؤ د جمعې مبارکې په ورځ د خپلو پښتنو خواري کښو هغه حال هم مازیګر ووینم، چې نور خو پرېږده خو د سترګو په ښو ئې هم اینچه اینچه دوړې پرتې وي اؤ ستړي ستومانه راشي، چې د صحرا د 50 درجه حرارت ګرمۍ کښې ئې ټوله ورځ په سرو غرمو په شړو اؤ بلاکونو کښې تېره کړې وي اؤ داسې تنکي تنکي ځوانان ووینم، چې زړهٔ مې پرې درد وکړي اؤ فکر کوم، چې دا ئې بېخي د سکول یا یونیورسټۍ ورځې دي، خو لاسونو کښې ئې بېلچې اؤ کرنډۍ وي اؤ زما د قام د خوبونو فصلونه سوزي.

بیا کوم وخت چې ټیلیویژن ته کښېنم، نو خبرونو کښې د واکدارو خْوارۀ تقریرونه واؤرم، چې ډېره په بې شرمۍ دا دعوې کوي چې وطن پرمختګ کړے دے۔ د ترقۍ کارونه ښۀ په ډْرز کښې روان دي۔ وزیران د تختو پْرانستې کوي اؤ بیا له دې هم خبرېږم، چې نن د فلانۍ صوبې وزیراعلے په یؤ نیم کروړ روپۍ د شخصي کارؤنې د پاره الوتکه واخستله۔ د کرکټ د یؤ لوبغاړي د یوې لوبې دومره لاکهه روپۍ دي، د وزیراعظم د کور د مْیاشتې د خوراک اؤ مېلمنو خرچه دومره کروړه ده، فلاني په فلانۍ درګاه کښې فلانو ته دومره کروړه روپۍ منخښته ورکړه۔

بیا ـــــ بیا راشم اؤ خپلې د غلامۍ تورې پټې ته ؤګورم اؤ په دېوال ځړېدلي کاغذ ته ځېر شم اؤ فکر کښې لاړ شم، چې اے د سرمائې د نظام پورزيْ تا ته چا دا حق درکړے، چې دومره اوږدۀ سوچونه کوې؟ خو خْوره! ښکنځلۀ اؤ خټ به دې پیرېږي اؤ ټولنیز دله توب ته لکه د نورو خلکو غاړه کېږده۔ کۀ د لْوږې مْرې، خو خپل سیاسي خان ته زنده باد وایه اؤ نور وږي وژنه! په مرۍ ورله غلے کېږه اؤ د ماشومانو مکتبونه چې یؤ درنه روغ پاتې نۀ شي۔

چې دا دله ګان ټول په دې دله توب کښې له مودو بوخت دي، نو ولې خپل زړۀ خْورې؟ چاتۀ وائې اؤ ولې لګیا ئې؟

"سنډا ته آلاهو"

pukhto.net

# خبرې ـ د ښځو حقونه

مونږ پښتانهٔ د خدا ے په فضل سل په سله مسلمانان یو. زوړ اؤ د نړۍ له هر قامه ښکلے کلتور لرو. حیا اؤ غیرت مو په ختهٔ کښې غځلي شوي دي اؤ د خپل خوږ مذهب اسلام د پاره په هره زمانه اؤ حالاتو کښې د سر په صف کښې ولاړ یو، خو ځو خبرې چې مونږ پکښې تل د شومتوب اؤ بې پروایۍ نه کار اخستے د ے. دغو خبرو کښې د مذهب د تعلیماتو سره سره د نړیوال بشریت د حقونو نه سرغړؤنه کوو، چې یوه پکښې د تورسرو د حق خبره هم ده، چې دروغ نهٔ وایو، نو زمونږ د زړګانو اؤ عامو پښتنو په دې حقله بیخي یؤ حال د ے. د پیړیو نه مونږ د ښځو حقونه خوړو. په جائداد کښې برخه نهٔ ورکوو اؤ په قران کښې په دې حقله ښکاره ایتونه اؤ حکمونه شته اؤ مونږ د ښځې حق هم دغه ګڼو، چې وادهٔ کښې ورته سامانونه جوړ کړو اؤ بیا چرته په کال کښې یؤ ځل د پلار کور ته راشي اؤ غونزاخي یا کپړې ورته واخلو. د تعلیم له حقه مو محرومه ساتلې ده اؤ تر دې حده بې وسه ده، چې د کور خوراکي توکي هم مونږ پخپله خوښه کور ته راؤړو. د لور پیدا ایښت زمونږ په کورونو کښې د ستر غم نه کم نهٔ وي اؤ د ځوي په زېږون ډزې کوو اؤ مبارکیانې اخلو. اسلام ښځې ته پوره پوره حقونه ورکړي، تر دې چې

د رشتې کولو په وخت هم ښځه دا حق لري، چې سړے خوښ کړي اؤ رضا اؤ خوښي ئې مهمه وي، خو دغه کار مونږ بيخي رسمي کوو اؤ ملاصيب چې کله ورله نکاح تړي، نو د شونډو په سر تړې پوښتنه ؤکړو، چې" تا ته قبول دے؟ "اؤ بيا د ښځې د شرم اؤ حيا له کبله کۀ غږ هم ؤنۀ کړي، نو خاموشي ئې هم په" هو "قبوله ده. بيا دا ستونزه هم لرو، چې کۀ کوم سړے يا ښځه د ښځو د حقونو په حقله چرته زمونږ د مخې يا په ميډيا خبره ؤکړي، نو مونږ ورته په ډېر سپک نظر ګورو. د يؤ مسلمان په هېڅ خدا ے پاک مونږ ته د عباداتو نيمګړتياوې خو بخښي، خو د حقونو په حقله خدا ے پاک بيا بيا په قران کښې فرمائيلي، چې د چا ښځې يا سړي حق را ته نۀ بخښي، نو خپل کلي ښار اؤ چاپېريال کښې ؤګورئ، چې مونږ په سلو کښې څو پښتنو ښځو خوېندو اؤ لوڼو ته خپل جائز حقونه ورکړي دي؟ يقين مې دے، چې په سلو کښې يؤ کس هم دا حقونه نۀ ورکوي، نو بيا انجام به ئې څۀ وي؟ په دنيا کښې خو ئې سزا دا شوه، چې مونږ بې تعليمه مېندې تولنې ته سپارو، چې د اولادونو د تربيې اؤ ښۀ راتلونکي نه هډو خبر هم نۀ وي اؤ اخرت کښې ئې زيان دا دے، چې د انسان د حقونو خوړونکي يا د حرامو کوونکي يؤ عبادت هم رب ته منظور نۀ دے، نو مونږ په دنيا اؤ اخرت کښې د ستر زيان سره مخ يو اؤ خدا ے پاک به مو چرته هم معاف نۀ کړي.

د حوا لور دومره بې وسه ده، چې اوف نۀ کوي
څوک تړې څادر کوزوي، څوک ورله څادر ورکوي

# بخشي اؤ سپفور

"بخشي !څنګه ئې ياره؟ زۀ خو چې تا کله هم وينم، نو د تندي نه دې د برمې لاسکي جوړ کړے وي اؤ دې وېښتانو ته دې وګوره !ټول سْپين شول".

"ياره سپفوره !تا ته څۀ تکليف دے؟ زۀ پوهه شه اؤ زما ژوند. سړے چې غريب شي، د هر چا د ملنډو شي. څه ورک شه !خپل کار کوه!"

"ګوره بخشيْ همځولے مې ئې اؤ يار مې هم ئې، نو زړۀ مې در باندې دړديږي، ځکۀ مې خبره ؤکړه. ياد دې دي، چې پلار به دې درته وئيل، چې سبق وايه !چرته لْوي سړے به درنه جوړ شي، خو تا ته به ګپ ښکاريدلو. نن دې همځولي ؤګوره !غټ غټ افسران دي، استاذان دي اؤ تۀ دې دې خپل مخ ته ؤګوره !سم چوپلے ام درنه جوړ شوے دے اؤ ستا په رنګ خلک د دې معاشرې ناسور وي. هر وران کار د جاهلانو اؤ نالوستو د لاسه کيږي. په کور کښې جنګ په کوڅه کښې جنګ په بازار کښې شر".

"بس !بس !بس !بس سپفوره !چې وړاندې لاړ نۀ شې !خُلۀ سمه خُوزوه ! داسې د فلسفې ځُوے راغلے ئې . دا فلسفه دې ځان سره د نُيا په صوندق کښې خُوندي کړه !ړونده !په ړونده !په معاشره کښې خو هرکار ستاسو دې نيمچه فلسفيانو وران کړے دے . دا مونږ چې لکه د ډنګرو ژوند تېروو ، دا خو ستاسو د دې نيمچه فلسفيانو د لاسه کنه !ستاسو تعليم څۀ دے؟ خو بس د غُلا نوي نوي چلونه زدکول دي . تاسو هنري سبقونه هم سُتر تعليم ګڼئ اؤ د ډېر تعليم موخه مو د ډېر دولت ګټل وي . تۀ را ته ؤوايه !چې دې سکولونو کښې غُلاګانې نالوستي خلک کوي؟ د بنکونو نه قرض نالوستي خلک اخلي اؤ بيا ئې ځانونو ته معاف کوي؟

په روغتونونو کښې له ډاکټره واخله، تر کمپوډره نالوستي خلک دي، چې زمونږ د غريب اولس دا وينې څښکي؟ په عدالتونو اؤ کچرو کښې دا انصاف نالوستي خلک خرڅوي؟ په پولسو کښې دا رشوت ټول نالوستي خلک اخلي؟ دا وزيران مشيران کارخانه دار اؤ فوځي مشران ټول ټول نالوستي دي؟ دا د خوراکي توکو ذخيره کوونکي اؤ د دفترونو دا بابوګوټي چې بې له رشوته ټک نۀ کوي، ټول نالوستي دي؟ اؤ دا غريبانو نه چې سرسائې د قربانۍ څرمنې اؤ سُخاتونه اخلي اؤ کوډې تعويذونه څانښتونه اؤ دمونه کوي اؤ دا نيمچه پيران چې مزارونو کښې ناست دي اؤ دندې کوي، دا نالوستي دي؟ اؤ ريښتيا !پرون چې هغه شوره صېب مازيګري سيګرټ له د پولې سر ته راغے، نو د بنګو وهلو نه ئې وروسته له تُرخه يوه ورځپاڼه راويستله، خپل ليکلے مضمون ئې را ته

واؤرولو، په کوم کښې چې ئې د ښاغلي بېغم صېب نه پرتوګ ويستلے ؤ اؤ ليکلي ئې وو، چې ښاغلي بېغم د شوره صېب چاربېته پټه کړې ده اؤ نور ئې هم اوږد کېس پټار کوۀ، سېفوريه !رب دې ؤشرموه !دا ټول نالوستي خلک دي؟ چې بل ټرت ؤنۀ کړې !مازغۀ مې مۀ خرابوه !په دا سې تعليم کښې مې لا"......................

"ظالمه زړۀ دې ډک ؤ. سم شاجر دې تش کړو. ځکه خو زۀ هر وخت درته لګيا يم، چې دا زمونږ سيمو کښې کوم تشدد ښکاري، دا د محروميانو له کبله دے اؤ دا زمونږ د طبقاتي تعليم نچوړ دے، چې اولس ئې طبقاتو کښې ويشلے دے. دلته کوم مذهبي جنګ نشته طبقاتي جنګونه دي اؤ د وسايلو اؤ واک لاس ته راؤړنې د پاره انساني هوس خپل ځان ښکاره کوي، خو خلکو ته ښاخونه ښکاري اؤ ځېلې خاؤرو کښې پټې وي".

"تا ؤګټله اؤ ما ؤبائېلله، ځکه چې ستا په جاهليت کښې د دې نظام چلوونکو سره سره زما اؤ د شوره صېب دوي هم پوره پوره لاس دي اؤ زما په غل جوړېدو کښې هم د دې نظام لاس دے. پکار خو دا ده، چې زۀ تا ته نالوستے اؤ جاهل نۀ وايم اؤ کۀ وايم ئې درته، نو چې ځان درته ورمبے په عملي توګه لوستے اؤ ځيرک ثابت کړم اؤ لاړم بخشي ! ناوخته شو. تۀ هم شرمېږه اؤ زۀ به هم شرمېږم".

# رفيع الله جان ته ليک

رفيع الله خانه!

سلامونه

نورو ملګرو ته هم پېرزوينې، چې د ټولنې د ښېګړې او جوړښت غم په زړونو کښې لري.

رفيع الله خانه !ستاسو د ښکلو دلائلو نه مې ډېر څۀ ياد کړل. زۀ په بحث کښې د خوند د پاره او بيا په دې خوند کښې د نور خوند لټولو د پاره کله کله داسې خبره کوم، چې ځوک ئې نۀ کوي او څۀ تراخۀ حقيقتونه څۀ د شعر په ژبه او څه ستاسو سره دلته په دېره کښې د ملګرو د مخې ږدم. چې يۀ تريخ قامي او روحاني حقيقت دا هم دے، چې مونږ دلائل ډېر لرو ـــ په ګڼو ژبو پوهېږو ـــ دولت لرو ـــ دوستان لرو ـــ ښکلي جماتونه او ودان بازارونه لرو ـــ دود دستور، کلے کلويغي کوو ـــ خو د فکر، ادراک، تدبير او ځغم کمے لرو. هره نظريه عملي کول يا لاګو کول د روحانيت نه علاوه ښۀ اقتصاد ته هم اړتيا لري او دا ټکي دي، چې مونږ په قامي توګه هېر کړي دي. مونږ ته نظريو د تهيوري يا خاکې نه اخوا څۀ نۀ دي راکړي. دا ولې؟ چې سړے مې سر سموي او د خپټې غم مې نۀ ژاړي، نو په نهره ګېډه به دا سر تر څو سم ساتم؟ کېدے شي، څټ مې د کمزورۍ او لوږې نه کوږ شوے وي او نظريه رانه سر په دې تور ؤوهي، چې د قسته دې کوږ کړے دے.

هاهاها!

وړوکے چنړے مدرسې ته لاړ. ښۀ سبقونه ئې تر منطقه ولوستل، عالم شو. خو معاشره ورته د چم د امامتوب نه علاوه نور څۀ لري؟

نۀ لري.

دا ولې؟

دا ځکه چې په کوم زمان کښې ژوند کوې، سم به ورسره ځې. زمونږ ریښتیا خبره د اصحاب کهف روپۍ وي، چې راښکاره کیږي، نو پیږۍ وتلې وي. اوس کۀ دغه امام صیب د سبق یادولو په وخت کښې څۀ دنیاوي علم هم کړے وے، نو بیا به ئې علم نور هم زیات کړے وے اؤ د علمي تحقیق درجې ته به رسېدلے وے. خو دا خبره باید باید چې هېره نۀ کړو، "دنیاوي یا عصري علمونه هم د انسانیت د ښېګړې، ودانئ، نوؤ علاجونو، رابطو اؤ نورو انساني عالي خدمتونو ذریعه ده اؤ خدائے پاک وائي، چې د انسان زړۀ زما حرم دے ـــ نو د انسانیت خدمت لوي عبادت دے اؤ د روحانیت دوېم رنګ دے.

نو ګرانه وروره!

خبره به له ځانه اؤ کوره پېل کوو. د پښتنو کورونه د پېړیو نه لکه زما کورکښې دا رواج لري، چې په سحر کښې لوي واړۀ د قران سبقونه وائي، چې کومې مشرې ښځې له د قران ترجمه ورځي، د چم نورې ښځې ئې قدر کوي. کوچ غوړي او شودۀ ورله راوړي اؤ دا لړۍ د ختمېدو نۀ ده. جینۍ وړوکې وي، بیا رو رو لوئیږي. چې دروغ نۀ وایو، نو هلک ته ډېر تاوانونه کیږي. چې سړے وس لري، نو ښۀ

سکول ته ئې لیږي، ښې جامې ورله اخلي اؤ جینۍ یا لور خور چې وړه وي، نو بیا هم چرته د ماما، ترور، نیکهٔ یا ګاونډ ته لاړه شي یا د نورو وړو سره ښهٔ سکول ته هم ځي، خو چې ایله پېغلوکۍ شي، نو د غلته ئې بدبختي پېل شي۔

اوس ګوره !دا معاشره اؤ نظام خو د هلک د ځلمیتوب سامان اؤ سهولتونه لري، خو د جینۍ د پاره هغه اسلامي اؤ انساني حق نهٔ لري، چې کوم ورته پکار دے۔ بیا زمونږ نیمګړي روحانیت ته ؤګوره، چې د دنیا په وېش کښې دا مخلوق د خوراک نیمګړے حق اؤ پوره جنسي ضرورت نه علاوه هېڅ نهٔ لري۔ یعنې د کور ترکاري، اینګولے هم سړي په خپله خوښه راؤړي۔ یعنې یعنې یعنې یعنې مونږ ورله ورکوو هېڅ هېڅ هېڅ نهٔ اؤ غواړ ترې هرڅهٔ۔

جانانه!

نو ما له ژړا راشي اؤ ځان راته هم وحشي وحشي وحشي ښکاره شي۔

ukhto.net

# خړاوه

کله چې ګلتېر سپي د بل سپي په خُلهٔ کښې هډوکے ؤليدلو، نو ورشغ ئې کړل پُرې اؤ بيا دواړو د يؤ بل غوړونه اؤ مخونه په وينو لت پت کړل۔ هډوکے هم ورک شو، خو دوي ترهغې يؤ بل ؤخړولو، چې څومره زور ئې لرلو اؤ بيا خلکو په کاڼو ؤويشتل، نو له هغه ځايه لاړل۔

تېرو ورځو کښې يؤ فېس بوکي يار يؤ توغ نېغ کړے ؤ، نو يؤ ملګرے ئې راغلو اؤ تبصره کښې ئې ورته سپوره سُتغه ؤليکله اؤ لاندې بيا خړاوه پېل شوه۔ يؤ بل ته ئې داسې پېغورونه اؤ کنځل ؤکړل، چې هک پک شوم اؤ يؤ بل د کورونو تورسرې ئې پکښې هم ؤستائيلې۔ قامي مشرانو اؤ قامونو ته پکښې کنځلې ؤشوې اؤ د دوي په ملګرتيا اؤ خلاف کښې ورته نور هم راؤرسېدل اؤ تر نيمې شپې لوبه تؤده وه۔ د دواړو ملګرو پروفائيلونو ته ورغلم، نو يؤ لندن کښې ناست ؤ اؤ بل سويډن کښې مسافر ؤ اؤ خپل ځانونه تُرې هېر وو، چې د ټوک ډوډۍ د پاره له وطنه څومره لرې تلي وو۔ په فکر کښې لاړم، چې د خپل وطن د يؤ سياسي مشر جلوس (لاريون) راياد شولو، چې دغه لاريون کښې خو زرګونو خلکو برخه لرله، خو توغونه پکښې د يؤ څو کسانو سره وو۔ هغه هم داسې ډېر جذباتي غوندې اؤ بيخي ځلمي عمر کښې ووأ نور خلک لاريون کښې روان وو، خو کوم توغ ئې نهٔ لرلو۔ نو بيا مې فکر ؤکړو، چې ګوره !دا کوم خلک چې لاريون کښې بيخي په سُره غرمه کښې د

زرګونو په شمېر کښې روان وو، ټول د دغه ګوند خلک وو اؤ دغه مشر ته ئې دومره مينه لرله لکه چې توغ والا ورته لرله. بيا د دغه ګوند د مشر سره هم کوم توغ نهٔ ؤ اؤ په موټر لګولے توغ ئې هم د څرمنې په پوش کښې بند کړے ؤ. نو ما خو ليدلي وو، چې کله د واک د ګټلو وخت شو اؤ سرشمېره کېدله، نو دغه توغ لرونکي اؤ توغ نهٔ لرونکي دواړه يؤ شان وو، ځکهٔ چې جمهوريت کښې د يؤ سړي يوه رائې وي. توغ لرونکي دوه راي خو نهٔ شي ورکولې. بيا مې فکر ؤکړو، چې نه !مونږ لا دومره قابل نهٔ يو، چې فکرونه مو سوچه جمهوري شي، نو زمونږ د چاپيرپال سياست هم لا علامتي دے. د وطن قام اؤ ګوند سره مينه را ته توغ اؤ ترانه کښې ښکاري. يعنې کهٔ په شخصي توګه تهٔ قام ته هيڅ کول نهٔ غواړې يا دومره ئې چې ځان هم نهٔ شې پخپل وطن کښې ساتلے، نو سټر توغ ؤلګوه، شنه سره لونګۍ په عکس کښې په سر کړه اؤ سټر وطنپال قامپال اؤ ملتپال به درته خلک وائي. هره ورځ رسنيو اؤ ولس ته نوې نوې نعره اؤ مدح يا لطيفه جوړوه اؤ په وال ئې تپه يا د ګڼو خلکو خوا ته ورځه اؤ غروب غروب جوړوه !نو قام ته ئې څهٔ ګټه رسي؟ دې عکسونو کښې مو چې دا هره ورځ نوي نوي درې غبرګي (ټري پيس) سوټونه اغوستلي وي، چرته مو د وطن يؤ يتيم ته يؤ ګز جامې اخستې؟ دا عکسونو کښې مو چې شل شل ګزه لونګۍ په سر کړي، چرته مو د ژمي په جړۍ کښې خپل يؤ غريب وطندار له وړوکے څادرګے اخستے دے؟ د خبرو جنګ کهٔ څوک ؤګټي، نو فاتح نهٔ وي، زهٔ ورته قړتو وايم. د عمل مېدانونه نور دي ـــ بل رنګ دي اؤ څوک چې کار کوي

اؤ د زړۀ له تله ئې کوي، نو تشهيري مهم ته هېڅ اړتيا نۀ لري ـ په تاريخ کښې ئې نومونه د خپلو کارنامو له کبله ترقيامته ژوندي پاتې کېدے شي۔

د پيو مجنونانو !مجنون چې لېلا خپل منزل ګڼلې وه، نو کومه ډنډوره ئې نۀ وه کړې، خو نوم ئې دغه دے، زۀ اوس ليکم چې حقيقي مينه ئې کړې وه ـ زۀ د وطن د هغه خاموش اؤ توغ نۀ لرونکي قامي مينه هېڅکله نۀ شم هېرولې، چې په کلي د خړو اوبو سېلاب راغے، نو درې شپې نۀ ؤ اودۀ شوے اؤ اولس کومکونه ئې کول ـ تا نه مې هغه اينګر ماما خوښ دے، چې د دېقان ايوه سسپار ئې تېرۀ کړي اؤ د شپون د لور غاښونه ئې تېرۀ کړي ـ تا نه مې شپون خوښ دے، چې د څادر په پيلسکي پورې ئې د ګوړې چکۍ يا پياز غوټه کړي، خو د غرونو اؤ مالونو ساتندويه مې دے۔

توغ والا !په قام اؤ وطن مئينه !دا کوم خلک چې تۀ رتې اؤ سپورې سټغې ورته وائې، دا څوک دي؟ د پښتونولۍ اؤ قامپالۍ دعوې خو ډيرې کوې اؤ د پښتنو د وحدت علامتي ارمان هر وخت ځلوې اؤ دربم ټکے دې د خلې نه د جرګې ووځي، خو !خو !خو !کله دې پخپل ورور چرته جرګه هم کړې؟ تر اوسه دې ډېر خلک خفه کړي کۀ خوشاله کړي دي؟ څومره ځلمو ته دې د رسنيو د لارې قامي تاريخ زده کړے دے؟ څومره لوستونکو سره دې د يؤ قلم ورکولو کومک کړے دے؟ کومې کونډې ته دې چرته يوه کاسيره ورکړې ده؟ د کوم يتيم په سر دې کله لاس ايښے دے؟

غږیږه !هره ورځ نوې نعرې جوړوه !خو خلک هم درباندې وخت اړوي ـهسې نۀ فکر دې شي، چې دا خاورۀ د سبا څوک اتل نۀ لري.هسې نۀ، فکر دې شي چې دا قام شوده دے.هسې نۀ، فکر دې شي چې د دې خاؤرې زمري سترې شوي دي.هسې نۀ، فکر ؤکړې چې دا سیمه داسې ځلمي هم لري، چې قامي مینه ئې د علامتونو له پړاوه ډېره لرې رسېدلې ده، چې بیا به دې تۀ له توغه شرمیږې اؤ توغ ستا نه.

pukhto.net

# چې دروغ نهٔ وایم ـ

راځه راځه !زهٔ ملک بابا د زمانې نه پېژنم، چې دغه خوږې خبرې کوي، خو چا ته هېڅ نهٔ ورکوي. په سلام پېسې نهٔ لګي، هرچا ته ئې کوي اؤ د کلي شودګان خو ورته بنهٔ سړے په دې هم وائي، چې یوُ نمونځ نهٔ قضا کوي، ځکه چې هېڅ کار نهٔ لري. د مُلا د خلې نه لا غږ نهٔ وي وتلے، چې ملک بابا په مخکښې صف کښې حاضر وي اؤ کهٔ په صف کښې ئې په مخصوص ځائے چرته بل څوک ؤدرېږي، نو ملاې صېب ورته قارېږي، چې اخوا شه !دا د ملک بابا ځائے دے.

دلبره !بېګا مې فکر کولو، چې دا په کوم کتاب کښې راغلي، چې زمونږ نیم کلے اؤ غرونه د ملک بابا دي اؤ خمبې ئې له دانو ډکې وي ـ د شیودو اؤ غوړو نهرونه ئې په کور کښې بهیږي. په سر ئې چې درد شي، نو مولنا صېب ئې سر ته دمونه وائي اؤ ډاکټران ترې چاپېره چورلي. په ټولو غټو څوکیو ئې بچي نمسي اؤ خپلوان ناست دي اؤ هر سیاسي ګوند کښې خپل خپلوان لري، چې کله هم وینم، نو اؤ د هر سیاسي ګوند واک وي، نو د دوي د کوره پکښې ارومرو څوک واکدار وي؟

حېران شم، چې مولانا صېب د هرې جمعې په ورځ را ته په منْبر د حقونو مسئلې څېړي، خو د ملک بابا دا دومره غټ جائداد اؤ د کلي د خْوارانو دا لْوږې تندې ورته بيخي نۀ ښکاري اؤ بيا په دې هم حيران شم، چې شرع وايي چې سړے مجبور شي، نو د لْوږې په وخت د خنزير غْوښه هم خْوړلې شي، خو کۀ يو مسکين چرته د ملک بابا له باغه د الوچو په غْلا ؤنيولے شي، نو قانون ورله لاس پښې ماتوي اؤ کۀ د مولانا خبره منو، نو لاس ترې پْرېکوي.

دلبره !ما اؤرېدلي، چې خدا ے پاک په بنده د خپلې مور نه هم ډېر خفه کيږي اؤ د رزق وعده ئې هم راسره کړې ده، خو زمونږ په سيمه څۀ خلک دا خبره بيخي غلطه ثابتول غواړي. مولانا را ته وائي شکر ؤباسه، نو شکر په څۀ ؤکړم؟ لور مې پېغله شوې، ښه ښکلې ده، خو څوک ئې په دې تپوس له نۀ راځي، چې زۀ دله ورته مالوم يم چې جېب کښې کاسيره نۀ لرم. ځوے مې پوخ چرسي په دې شو، چې زما وس نۀ رسي، چې د نېکانو نېکانو اؤ مسلمانانو سکول ته ئې بوځم. کور د ملک بابا دے، چې کرايه را سره نۀ وي، نو بْړستې اؤ کټونه مې بهر ترْې شغوي اؤ نور خو څۀ کوې، چې اوس راسره ښځه هم په راستۍ نۀ ځملي اؤ وائي را ته چې د راؤړو ئې ئې اؤ د سمبالولو ئې نۀ ئې.

روژې؟ هاهاهاها !روژې. د دې څيز سره خو عادت يم، ولې چې لْوږه اؤ تنده خو مې جامه ده، خو چې د روژې ماځيګر بازار ته ورشم اؤ دا مومنان ؤوينم، چې غټې غټې کسوړې ئې د ګرانو خْوراکونو نه ډکې کړې وي اؤ روان وي اؤ زۀ ورته لکه د سْپي تپ تپ کۀم.

اختر؟ هاهاهاهاها !اختر.

اختر دې په شړق شي، سم مې خفه کوي دلبره !د مومنانو د بچو نوې نوې جامې مې بچيويني او پسخيږي ورته. مولانا صيب په ځان شل رنګه بوييناک تېل لګولي وي او اعلان وشي چې په خطبه کښې خبرې مه کوئ، دوزخ ته به ورسئ.

دوزخ؟ هاهاهاهاها !دوزخ.

دلبره !د دوزخ خو څه ښکر نه وي او اورېدي کيسې به درته څه کوم خو ملک بابا دلته هم د شيودو نهرونو کښې غوپې وهي او هلته به هم ځکه وهي، چې هرکال عمرې له ځي او د مولانا د قول مطابق هلته سړے د ګناه نه داسې پاکيږي، لکه په اګې چې وېښته نه وي او دوزخ او دوزخي؟ هاهاهاهاها !لرې مه ځه !بيخي ما او تا يو.نه د دين شو نه د سادين.

ukhto.net

# غېرتي

چاپېره زما د نوم چرچه وه. چا مې مېړانه ستائېله، چا مې مېلمستيا اؤ چا مې غېرت اؤ داسې فکر مې کولو، چې زهٔ د نړۍ تر ټولو مقدس سړے يم. خُوا ته مې يؤ خاموش ملګرے ناست ؤ، چې زما په تندي ئې د فخر سرخۍ ته په غور غور کتل اؤ پټه پټه موسکا ئې ما د شونډو په سر محسوسه کړه. پوښتنه مې تْرې ؤکړه چې څهٔ پورې خاندې؟ نو وئېل ئې، "ستا په سادګۍ پورې خندا راشي، خو پټه پټه ئې ځکه کؤم، چې د دغه سادګۍ تشريح مې درته سل ځله کړې ده، خو تهٔ پْرې نهٔ رسې.

ګوره !دا خلک چې تا ته دا نر اؤ غېرتي وائي، نو هم له دې خبرې شا ته ستا سادګي پټول غواړي. لکه ؤګوره !چې تا د خپل ورور سره جنګوي اؤ په شا دې ټپوي. تا ته ښهٔ مسلمان هم ځکه وائي چې ستا د پوهې له حده خبر دي، چې تهٔ ميراثي مسلمان ئې اؤ نور د کتاب په خْوا نهٔ ئې ورغلے، نو کوم څهٔ ته چې هغه اسلام وائي، هو بهو هغه تهٔ سوچه مسلماني ګڼې. لکه ګوره !تهٔ شيعه ته کافر وائې، خو د شيعه د يوې فرقې يا عقيدې نه هم خبر نهٔ ئې. نهٔ له دې تاريخه خبر ئې، چې شيعه څهٔ رنګ جوړ شول اؤ نړۍ کښې ئې رول څهٔ دے؟ تا ته وهابيان مجاهد ځکه وائي، چې خپلو شومو اهدافو ته ستا په سر ځانونه رسوي. تا ته قام پرست قامپاله ځکه وائي، چې د شمار څو کوړمې په دغه نوم تا ته ستا د شْتمنيو درکولو په بهانه خپلې ګېډې ډکوي. تا ته جمهوريت خُوښي جمهوري ځکه وائي چې د ووټ

ورکولو په وخت ورله تهٔ سر مات اؤ خپله مرۍ په چیغو ؤشلوې اؤ بیا چې کله دغه خلک څوکیو ته ؤرسي، نو څو کلونه بیا د هغوي مخونه نهٔ وینې اؤ څو کسان ستا په سر ښهٔ مارهٔ شي اؤ تا غریب هم له دې کبله ساتي، چې د دوي په درونو حاضري لګوې اؤ تل ئې محتاج ئې ـ تا ته پوځي جنرالان هم ځکه احترام لري، چې د دوي بچي افسران به د راتلونکي جنرالان وي اؤ تهٔ به ئې سپاهي ئې ـ تا ته ملایان هم ځکه احترام لري، چې د درمندونو دانې سْخاتونه، اړې اؤ منخښتې ورکوې اؤ دومره ساده سړے ئې چې د دوي په کورنۍ کښې چرته د دوي نیکهٔ ورنیکهٔ علم کړے وي اؤ تهٔ ئې تر نمسو اؤ کړوسو د ملایانو سېدانو اؤ میاګانو په نومونو احترام کوې. تا ته ملک اؤ خان هم ځکه په ډْرنه سترګه ګوري، چې جائدادونه ئې سمبالوې، سْپي اؤ کتي ورله لمبوې اؤ د بْریدونو اؤ مالونو پالنه ئې کوې، فصلونه ئې کرې اؤ ریبې ـــ نو زما غېرتي ورورہ !ستا په غېرت پورې کله کله پټ پټ په دې خاندم، چې تهٔ خو د دغو ټولو خلکو د لاسونو ګوډاګے ئې ـ خو کله اؤ چرته دې هم خپل کور خپل وجود اؤ د خپلو اولادونو په حقله فکر ؤنهٔ کړو چې ستا څهٔ حال دے؟

خفه کېږه مهٔ !خو کهٔ غېرت د دغې څیز نوم وي، نو ما په بې غېرتو کښې حساب کړه!

اوهاهاهاها !دا واخله !نن مې درته په ښکاره ؤخاندل. کېدے شي د دې خندا سره ستا دا د نوم غېرت مړ شي اؤ قامي اؤ ځاني اؤ سوچه غېرت دې راژوندے شي.

پښتو
pukhto.net

# دریم څواب

زمونږ رویو اؤ فکرونو ته ننوتلے تشدد خو چرته زمونږ د چاپېرچل د تشدد سبب شوے نۀ دے؟ سُتغو مزاجونو تشدد زېږولے کۀ نه، زمونږ نه چاپېره تشدد زمونږ فکرونو اؤ رویو ته تشدد (شرخُوښي) دننه کړي؟

دا هغه سوال دے، چې زۀ ئې دوه څوابه لرم.

ورومبے څواب:

زمونږ په سيمه د نزدې نيمې پېړۍ نه د شر لوبه تؤده ده ـ بهرني لاسونه مو لاسونه ماتوي ـ ځوانان مو مسافر دي، د ښۀ تعليم اؤ صحت اسانتياوې نۀ لرو، په وسائلو مو نور قامونه مزې کوي، په سياست مو ځو کورنۍ قابضې دي، د سر د سړو مو سرونه غوځيږي يا سر نۀ لري، شڼۀ غړونه له سنګرو ډک دي، د نيمچه علمونو لرونکي مو پوهان دي اؤ کۀ دروغ نۀ وايم، بې له تېر شوي تاريخه هېڅ نۀ لرو اؤ هغه هم را ته نيمچه پوهان د تورو اؤ زغرو نه ډک ثابتوي ـ شعر مو د جنګ بارودو اؤ شهيده ډک دے اؤ قيصې را ته د ملالۍ، درياخان اؤ ايمل خان بيا بيا د سترو عکسونو سره وړاندې کيږي اؤ نوي نسل ته زمونږ د هوښيارو اؤ علم لرونکو ذکر کله کله کيږي ـ زمونږ په پښتنه سيمه شوے علمي کار اؤ تحقيق بيخي پټ پروت دے ـ

نور هم ګڼ لاملونه شته، چې زمونږ د قام ذهنونو اؤ فکرونو ته تشدد ننباسي اؤ د هرچاپېرچل خپل اثر وي ـ مونږ هم له دې اغيزې ځانونه نۀ شو ساتلے ـ

دوېم څواب:

کۀ ورومبے څواب بيخي سم وګڼم، نو ضمير مې ملامتوي ځکه چې په مونږ فطرتي هم له خويونو تاودۀ يو ـ لکه زما سره کۀ څوک په لار ځي، نو کۀ سپے ئې ؤليدۀ، نو د ثواب د پاره پړې يؤ د کاڼي ګوزار کوي ـ ؤچ په ؤچه ئې ازاروي ـ د خپل ورور سره وړه وړه د شر يا اختلاف خبره په کلونو کلونو نۀ هېروو ـ د پولو اؤ بړيدونو شرونه

خو مونږ له پېړيو پېړيو کوو. د ماشومانو د شرونو په سر لوي مېدان ته رادانګو اؤ خپل ګاونډي مو خوار خوښ وي . په ګڼو ځلمو ويارو اؤ تاريخ کۀ ؤګورئ، نو د يؤ بل خلاف مو لښکرې کړې دي . ښځې په کورونو کښې د ښځو سره وړانې دي اؤ د خوانښې نږور هره ورځنے شر خو زمونږ ماشومان هره ورځ ويني اؤ اؤري . نو فکر کوُم، چې زۀ خطا نۀ يم، چې مونږ فطري هم په رويو کښې سختي لرو اؤ دغه تشدد اؤ ستغوالے بيا زمونږ د فکرونو نه چاپېرچل ته رسېدلے دے اؤ يؤ بد رنګ ئې مونږ قامي سياست کښې وينو، چې مونږ زغم اؤ برداشت کۀ لږ لرلو هم، اوس را نه ورکيږي . ناشنا اؤ بربادونکے بد رنګ ئې دا شو، چې مونږ يؤ بل وژنو. نظرياتي اختلاف مو د جرګې نه سنګر ته ؤرسولو. د مرمۍ په ژبه خبرې کوو. د اصلاح يؤ کوشش هم نشته اؤ کوم چې ښکاري هغه هم په شخصي مفادو لړلے دے. قاتل اؤ مقتول دواړه د يؤ بابا اولادونه اؤ دعوه په نړۍ کښې د ښۀ مسلمانۍ کوو، چې زۀ ئې د امن محبت اؤ مساواتو نه ډک اسلام باندې د الزامه کم نۀ ګڼم اؤ زمونږ دغه کورنۍ ستغه روزنه اؤ فطري ستغې رويې مونږ ته د ژوند کولو د پاره داسې ماحول راکوي، چې بې له شرخوښۍ تشدده، شره اؤ خپګانه هيڅ نۀ لري .

دربم ځواب کۀ تاسو لرئ، نو راسره ئې شريک کړئ .

# د ریدي ګل اؤ غانټول خبرې

"غانټوله !تا ته حېران یم، چې د هرچا بدي شې، خو د چا ښکاره اؤ د چا پټ.دا ولې؟"

"ریدي ګله !زهٔ یؤ مشکل لرم.چې په چا پسې وروستو تللے نهٔ شم اؤ د چا نه وړاندې تګ نهٔ غواړم".

"ستا په خبره مې سر خلاص نهٔ شو غانټوله"!

"ریدیه !دا خو ساده خبره ده، چې په چا پسې وروستو ځکه نهٔ ځم چې خپله خودي راباندې ګرانه ده اؤ د چا نه مخکښې ځکه نهٔ ځم چې د نورو خودي اؤ عزت راباندې هم ګران دي".

"غانټوله !کهٔ ځان د ژوند د لښکر برخه ګڼې، نو دا لښکر خو دغه دوه کردارونه لري.یا به شا ته تګ کوې اؤ یا به سرلښکر ئې".

"ریدي ګله !تهٔ ډېر ساده سړے ئې.تا ته د دغو دوه کردارونو نه علاوه نور کردارونه نهٔ ښکاري، ځکه خو د پېړیو نه د لښکر د شا ته تګ کوونکو برخه ئې.تهٔ له خپل دې ارزښته نهٔ ئې خبر، چې تهٔ نهٔ ئې، نو ستا سرلښکر به خپل وجود ؤبائیلي.تهٔ د پېړیو پېړیو نه په دې شا ته تګ کښې داسې بوخت ئې، چې ډېر سپېځلي کردارونه درنه پټ دي.د دې لښکره ګڼ وګړي غاړې ته شوي اؤ په دغو وګړو کښې داسې هم شته، چې د دې لښکر اؤ سرلښکر دواړو ښېګړه غواړي، خو لښکر تږې نهٔ دے خبر اؤ د سرلښکر دا کردارونه په دې

خبره بدي شي، چې د خپل حيثيت اؤ وجود بائېللو خطر پکښې وينې".

"غانتهوله !خبرې دې ښې دي، خو زۀ چې کله هم ستا سره ناست يم، نو تۀ را ته همدغه بوسو کښې پټې اوبۀ بوځې . تۀ چې کوم دغه کردارونه يادوې، د لښکر ملگري پرې کله کله خبرې کوي اؤ په زړۀ کښې دننه زما هم دغه کردارونه خوښ دي اؤ غواړم چې د دغو خلکو برخه شم، خو زۀ د ځان په څنګ کښې تول ملگري پېژنم، چې زما ملگرتيا به ؤنۀ کړي اؤ دا فکر اؤ وېره ترهه هم لرم، چې کۀ له کاروانه ووځم، نو دا خپل اوسنے حيثيت به هم ؤبائېلم اؤ د لښکره بهر به هم لکه ستا تش تماشبين پاتې شم".

"ريديه!نن دې را ته ايله د زړۀ خبره ؤکړه، قربان دې شم . تا ته د لښکره بېليدونکي ځکه تش تماشبين ښکاري، چې ستا په زړۀ دننه موجودې وېرې اؤ ترهې تۀ فکري غلام جوړ کړے ئې . په تا کښې ځانباوري(خوداعتمادي) ختمه شوې ده اؤ دا فکري غلامي ده، چې تۀ له وېرې خپله د زړۀ خبره خپلو نزدې ملگرو ته هم نۀ شې کولې اؤ دې غلامۍ تۀ دومره ځپلے ئې، چې د چاپېرچل تول ملگري درته د ځان په څير ښکاري اؤ دغسې دې فکري غلامۍ تول لښکر په ولقه کښې اخستے دے.تاسو ته خبر نشته، چې چرته روان يئ، خو روان يئ اؤ تاسو ته له لښکره بغاوت کوونکي کردارونه ځکه تش تماشبين ښکاري، چې لښکر تول د فکري غلامانو ډک دے.کۀ تۀ په خپل ارزښت خبر شوې، نو د انساني عظمت په فلسفه به دې سر خلاص شي اؤ خپل فکر به نورو ملگرو ته هم ؤرسوې اؤ د اودۀ

لښکر هغه خاموش اؤ غلے ملګرے چې په بې مرامه مزل کښې ئې پېړۍ تېرې کړې، د ځانونو په معنا اؤ ارزښت پوهولے شې ـ نو بيا دغه فکري بدلون په عملي بدلون کښې بدلېدلے شي اؤ سرلښکر خو به يا له مجبورۍ نه غاړې ته شي اؤ يا به د لښکر په رنګ کښې رنګ شي".

"غانټوله ياره !اوس لږ لږ پوهه شوم اؤ ستا دا کردار مې هم ډېر خوښ شو اؤ ريښتيا هم تۀ له لښکره وړاندې هم مۀ ځه اؤ وروسته هم مۀ ځه، چې په وړاندې تګ کښې درته زمونږ توهين ښکاري اؤ وروستو تګ کښې خپل توهين وينې ـ خو زۀ به ستا پېغام ارومرو د لښکر په ملګرو کښې خپور کړم اؤ په زړونو اؤ فکرونو کښې به ئې بدلون ځکه راځي، چې تۀ ځان سرلښکر جوړول نۀ غواړې اؤ په لښکر کښې خاموش بدلون داسې غواړې، چې لښکر ته د مرام درک هم ورکوې اؤ سر لښکر هم په دې لښکر کښې لټولے شې".

"ريدي ګله !ځه ورشه !اؤ خپل کار په تدبير سره سرته ؤرسوه !زۀ به هم دلته يم ـ کۀ چا ته زما خاموش کردار هر رنګ ښکاري، خو زما رب ته مالومه ده، چې زما مغزو ته ئې زما اؤ ستا د عظمت فلسفه سْپارلې اؤ منزل د موندلو جنون ئې زما سر ته خېژولے ـ

ژوندژوندژوند !!!

تر بله وخته دې په خدا ے سْپارم".

# نوے جنګ

کۀ مونږ منو کۀ نۀ منو، خو راتلونکي څو کلونه زمونږ د قامي وجود د پاره ډېر مهم دي. حالات چې اوس څۀ رنګ دي، دغسې به نۀ وي اؤ پښتنه سيمه د نوي جنګ په درشل ولاړه ده. سړے کۀ په راتلونکو وختونو ښۀ ژور فکر ؤکړي، نو اغيارو چې څۀ غوښتل، هغه ؤشو. مونږ ئې پخپلو کښې په شر کړو او دوي به را نه ؤتښتي. بيا به زۀ تا وژنم. تۀ به ما وژنې اؤ خبرې به د ټوپک د شپېلۍ په ژبه کيږي. خبره په اصل کښې د قام يا خاوړې نۀ ده د واک ده. زمونږ د سيمې د جنګ خاموش نړيوال کردارونه اولس ته نۀ دي ښکاره. زمونږ جغرافيائي حيثيت مونږ دومره نۀ پېژنو، چې له پوزې مو اخوا نظر نۀ لګي، خو نړيوالو ته مونږ مهم نۀ يو. زمونږ خاؤره ورته مهمه ده. زمونږ سره بيخي دېوال په دېوال د چين اؤ ايران شتون هم زمونږ د تور راتلونکي لامل دے. چې مهم پکښې چين دے، چې د امريکايانو او غربيانو سياسي نظرياتي اؤ اقتصادي ګټې اؤ زيانونه ورسره تړلي دي اؤ راتلونکي کښې څوک د غربيانو او امريکايانو سره ښکر اړمولے شي، هغه چين دے. نو ناټو خو کۀ سل واره ؤوائي، چې دائمي اډې ئې د اوسني

افغان سياسي سستم يا د کوم قوت په خلاف غوښتلې يا جوړولې ئې، خو پوهانو ته دا خبره دومره ساده نۀ ښکاري اؤ پېچلې دۀ غربيان چې کوم کار کوي، سل کاله وروستو حالات يا راتلونکي حالات په نظر کښې ساتي. اوسني د جنګ کردارونه بدلېدلے هم شي. لکه څو کلونه پخوا چې د جنګ کوم کردارونه وو، اوس ئې څوک په تسبه کښې هم نۀ اړوي، خو زمونږ بدبختي دا شوه، چې زمونږ قامي نړيوالو اؤ د ګاونډ دښمنانو ته داسې کردارونه په لاس ورغلل، چې کوټلې تنظيمي ډانچه هم نۀ لري اؤ کۀ دغه دښمنان قوتونه هرڅۀ کول غواړي، د يؤ جنګي کردار په کاته کښې ئې ليکي. کۀ په يادو شوؤ کردارونو کښې څوک روغ يا خپلې کړنلارې ته سوچه کارکوونکي هم شته، خو په اقتصادي توګه داسې هم نۀ دي، چې خپل مرام ته ؤرسيږي اؤ دا کمزوري ده، چې اغيار ئې کېش کوي. لکه د بېلګې په توګه مونږ اؤرو، چې فلانې مکتب ؤسېزو. خو ثبوت يا روڼ دليل د هيچا سره نۀ وي، چې د شپې په تياره کښې مکتب چا ؤسېزلو اؤ د ټيليفون د لارې ئې يؤ کس پړانه په سر واخلي اؤ دغسې چې کوم سړے يا مشر د دغه قوتونو خوښ نۀ وي، مړ ؤمونډے شي اؤ يؤ څوک ئې پړانه په سر واخلي اؤ د يؤ چا په کاته کښې ؤليکلے شي. داسې حالات کله اؤ چرته هم زمونږ په خاؤره اؤ قام نۀ دي راغلي. مونږ خو ليدلي وو، چې په يؤ پنډال کښې به د بهټو جلسه وه اؤ په بل کښې به د مفتي محمود وه. مونږ خو ليدلي وو، چې ولي خان به هم خپله د نظريې خبره کوله اؤ د اکوړې مولانا صيب به هم خپله سياسي کړنلاره

تعقیبوله. په افغانستان کښې په پېړیو پېړیو خلقیان پرچمیان اؤ اسلامي ګوندونه وو. په یؤ کلي به مو ژوند کولو اؤ چرته د ډېرې سْترې پېښې یا نارامۍ په وخت کښې به خلکو لاریُونونه جلسې جلوسونه کول، خو په یؤ بل پسې ئې ټوپکې نۀ وې راخستې اؤ په تورو مارشلاګانو کښې به هم ظلمونه کېدل، خو قېدونه به ورکړے کېدل، وهل به کېدل اؤ بیا به دغه قېدیان په اولسي مېنه نمانځلے کېدل اؤ د راتلونکي وخت واکداران به جوړېدل، چې بېلګې ئې تاسو کتلے شئ.

سیاستونه پخپل ځاے، خو د یؤ پښتون بچي په حېث زۀ یؤ وْړاندیز لرم اؤ زما موخه اؤ موقف به تْرې روښانه شي. کۀ فرض کړه، مونږ ټول کردارونه پخپلو کړنو کښې رېښتیني یو اؤ د خپلې نظریې سره مخلص یو، نو هره نظریه په اولس د لاګو کولو یا په وطن کښې د عملي کولو د پاره وي، نو چې مونږ وطن وران کړو. اولس وځپو، شْتمنۍ ؤسېزو، یؤ بل چړ ته کښېنوو، نو دا نظریې به چا اؤ چرته لاګو کوو؟

د کوم وخته پورې چې زمونږ اولس په اقتصادي شعوري اؤ علمي توګه وده ؤنۀ کړي اؤ نړیوالو سره سْیال نۀ شي. مونږ خپله نظریه په مثالي توګه څنګه لاګو کولے شو؟ یؤ خْوار قرضدارے اؤ بې تعلیمه سړے به نظریه یا فکري اؤ قامي کړنلاره په ښه توګه ؤمنلے شي. کۀ هوښیار لوستے اؤ موړ پېټ سړے؟

دا هغه حقائق دي، چې مونږ له نظرونو غورځولي اؤ نن مونږ په نړۍ کښې د شریانو اؤ جنګ ببرو په توګه معرفي کوي. زۀ خو نظر

لرم، چې اوس هم مونږ کولے شو، چې خپلو ګرېوانونو کښې ؤګورو اؤ لکه غربیان چې نن راغلي، زمونږ سره زمونږ په خاؤره د خپلو راتلونکو نسلونو د ساتنې جنګ کوي ـ مونږ ولې نۀ شو کولے، چې پخپله خاؤره د خپلو راتلونکو نسلونو راتلونکے خوندي کړو؟

په نړۍ کښې داسې سړے یا ښځه نشته، چې خپل بچي ئې په بدو ورځو پېرزو شي ـ زما پوخ یقین دے، چې د پلار اؤ مور مینه خو په څاروؤ کښې هم شته، چې د لنګې چرګې چرګوټي له ګوتې ور وړې، نو په لاسونو دې پنجې او مخوکه ښخوي ـ نو ولې مونږ نۀ کوو، چې خپل پښت له بربادۍ ؤژغورو؟

مونږ د مشرانو په تاریخي خبرو څېړلو نۀ سُتړي کېږو، خو خپل اوسنے تاریخ په مړو وجودونو د سپو په غاښونو اؤ د کارغانو په مخوکو لیکو؟

د خداے د پاره لوبه نۀ یؤ کردار ګټلے شي نۀ بل ـ په هډوکي جنګ دے اؤ هډوکے دربم لاس ته وخت هم وړے شي اؤ مونږ ئې په وینو لت پت کړو ـ لکه د جنګي چرګانو مو د یؤ بل مخونه وران کړل ـ

په دې خبرو نۀ سُتړي کېږو، چې فلاني راسره دا ؤکړل اؤ فلاني را سره دا ؤکړل، خو چرته اؤ کله هم مونږ په ځان کښې نیمګړتیا نۀ وینو اؤ زمونږ د بربادۍ سُتر لامل هم دے ـ

وَمَا عَلَيْنَا إِلَّا الْبَلَاغْ

# بابا په چورنګۍ کښې

جګ جګ وېښتان ـــ شلېدلي سپينه ټوپۍ ـــ د پلاسټک زاړۀ چپل ـــ بې تڼو ګريوان ـــ د دوړو ډکه ږيره ـــ په يؤ لاس کښې بيلچه، په بل لاس کښې کرنډۍ اؤ د نسوارو پوڼۍ. د سړک په غاړه په داسې حالت کښې ناست دے، چې د موټرو د سلينسرو نه وتونکے تور لوګے ئې نېغ سږېږمو ته ننوځي اؤ د نامعلوم ګاک په انتظار د څلور لارې سرکونه څاري. چې کله کوم موټر ؤدرېږي، نو بابا ورمنډه کړي، خو ددۀ نه بې شميره ځوانان وړاندې د موټر خوا ته وررسېدلي وي، نو مايوسه خپل ځائے له راشي اؤ کښېني.

دا تماشه مې د احساس اؤ نازک مزاج هره ورځ د عربو په مشهور چوک] الشميسي [کښې ګوري اؤ بيا دا تماشه هله لږه نوره هم دردوونکې شي، چې يؤ تورپوستے افريقن په موټر کښې راشي اؤ د چوک په مينځ کښې هسې په برېک زور کړي. دا سپينږيري اؤ ځوانان چې پرې څنګ راټولېږي، نو هغه تړې موټر تېز ؤځغلوي، په دوي کښې څۀ پښتانۀ راؤغورځېږي اؤ څۀ ورته د شا نه تېزې تېزې کنځلې ؤکړي اؤ بيا خپلو ځايونو ته لاړ شي اؤ تر مازيګره د مزدورۍ دغه سترې انتظار کوي.

هۍ هۍ هۍ پښتنو وروڼو!

ukhto.net

چا را ته وئېل، د پښتنو په خاؤره د زمرودو اؤ ملغلرو کانونه راڅرګند شوي دي ـــــ چا را ته وئېل، په پښتونخوا کښې برېښنا ]بجلي [پېدا کېږي ـــــ چا را ته وئېل، په کرک کښې د غاز] ګېس [ کويان کنستلي شوي دي ـــــ چا را ته وئېل، په پښتونخوا کښې ګڼې ګڼې اؤ ګُورې ځنګلې دي ـــــ چا را ته وئېل، چې د بورې ]چينو [د نړۍ لويه کارخانه په پښتونخوا کښې ده ـــــ چا را ته وئېل، اباسين زمونږ دے ـــــ چا را ته وئېل، هلته تماکو اؤ ګني ډېر کېږي ـــــ چا را ته وئېل، د پېښور په صدر کښې نوې نورې اؤ دنګې پلازې جوړې شوې دي اؤ نوې نوې اؤ ناشنا ناشنا موټرې اؤړي راؤړي ـــــ

اؤ ريښتيا !چا را ته وئېل، په پښتونخوا کښې پښتنو قام پرستو کرسۍ] څوکۍ [ګټلې دي ـــــ

خو دې مېرمن چېي زړۀ مې د دغه بوډا پښتون سُپينږيري د تندي په کُوتونو کښې د غلامۍ غلامۍ غلامۍ غلامۍ غلامۍ خُوله ليدلې ده۔اوس د چا څۀ کړې د هېچا خبره نۀ اؤري۔

لالا !پام دې دے!

د بابا بچوړي څومره ارزان شوي دي؟

د بابا جي سُپينو ډکو ته مې روغ اباسين لوګي شه!

# لالاجي، کاکاجي اؤ ماماجي

"باباجي !ستاسو نه خو هره شپه خوږې قيصې اؤرم. کۀ دې خوښه وي، چې نن درته زۀ يوه ښکلې قيصه ؤکړم اؤ په اخره کښې به درنه يؤ څو پوښتنې هم کؤم. هيله لرم، په زړۀ پورې ځوابونه به راکړې".

"وايه بچيه !چې نن قيصه ستا واؤرم".

"باباجي !زما د قيصې درې کردارونه، د يؤ يؤ پېژندګلو اؤ د ژوند حالات په دې ډول دي:

1.لالاجي :لالاجي اؤ د هغۀ کورمه سرې کړې غوښې خوري، چرګان کوچ، ګبين اؤ نور خوراکي څيزونه ورکره ډېر تېر دي. بچي ئې په لويو اؤ يادو شوؤ سکولونو اؤ کالجونو کښې زدکړې کوي. ځلمي ئې په اوچتو څوکيو ناست افسران، ښتري کړې جامې اغوندي اؤ نوؤ نورې موټرو کښې چکرې وهي. د ښځو ئې بلها بلها د سرو زرو کالي دي اؤ د دنيا د تؤدو بادونو نه بې خبره دي. غمونه اؤ ښادۍ په ډېرو تاوانونو سر ته رسوي. د وطن د لوړ پؤړو افسرانو اؤ جاګيردارو سره ئې اړيکې دي. په منونو منونو غنم، جوار، شولې اؤ مېوې ورله کيږي. د بهر ملکونو سېلونه کوي. د ناروغتيا په حالت کښې ورته ماهره ډاکټران قيمتي مشورې مفت ورکوي اؤ کۀ په وطن کښې ښۀ نۀ شي، نو په کروړونو مال په بهر ملکونو کښې په علاج لګوي، خو لنډه دا چې دا دنيا د لالاجي د پاره د جنت يوه ټوټه ده.

2.کاکاجي :کاکاجي د لالاجي نه بیخي مختلف ژوند تېروي.په ډېره ګرانه د خپلې کورمې رزق پوره کوي. په قرضونو د بچو ودونه کوي، د کرایۍ په کور کښې ؤسیږي، ماشومان ئې د سرکاري سکولونو په ټاټونو الف بې زده کوي، د خوړلو وخت ئې نۀ وي معلوم، په سرو غرمو ټوله ورځ منډې وهي، چې ناروغه شي، نو د کلي د حکیمانو په کوشتو اؤ د پیر صېب په څانښتونو ګزاره کوي، جامې ئې ښیرنې وي اؤ پردو ودونو خېراتونو پسې درېم کلي ته رسیږي. د قبر ځاے هم نۀ لري، په عدالتونو اؤ تانړو کښې ورته څوک د انسان په سترګه نۀ ګوري. پېغلې لوڼه ئې د ودونو په ارمان زړې شي اؤ ځلمي ځامن ئې د نشو په لعنت اخته شي. هر وخت د ذهني دباؤ اؤ مایوسۍ په پنجو کښې ګېر وي، خو لنډه دا چې د دۀ ژوند د عذاب نه کم نۀ دے اؤ دا دنیا ورته د دوزخ یوه ټوټه ده.

3.ماماجي :ماماجي د لالاجي اؤ کاکاجي نه بل رنګ ژوند کوي. جامې سپینې اغوندي. د لالاجي په خیال غریب دے اؤ د کاکاجي په خیال مالدار دے. اکثر الوګان اؤ ټماټر خوري، خو کله کله پکښې تیکې اؤ پولاؤ هم خوري. قرضدارے دے خو چا ته ئې پته نۀ لګي، ځکه چې دومره اعتبار چې یؤ قرضداري له د بل نه قرض اخستلے شي. غم ښادي د چم ګاونډ د خلکو د خبرو له کبله په ښۀ ډول کوي، خو د خوړو اؤ اغوستو ډېر توکي ئې په قرض راوړي وي. کوشش کوي، چې خلکو ته ځان مالدار ثابت کړي، خو په مینځ کښې هېڅ هم نۀ وي. پخپله یا په اولاد کښې ئې څوک د سکول استاد یا بابو وي، تنخا خوري اؤ د پنشن درې څلورو لاکو روپو ته

پنځويشت کاله انتظار کوي. په سياسي خبرو کښې ډېره دلچسپي ساتي. پرده ے اخبار] ورځپاڼه [د سر نه تر اخره پورې ګوري. د خپلې کورمې د پاره پخپله نيم ډاکټر وي. په ډېرو ناروغو کښې ئې دومره تجربه شوې وي، چې د ټولو داروګانو نومونه ورته ياد وي اؤ ځان د ډاکټرانو د فيسونو اؤ خرچو نه تر وسه وسه ساتي، خو کۀ مرض زور ؤکړي نو په قرض علاج کوي. وړۀ، غوړي اؤ د خوړو نور سامان د تنخا پورې په قرض راؤړي، خو لنډه دا چې دا دنيا د دۀ د پاره نيم دوزخ دے.

باباجي !اوس را ته داسې لار ؤښايه، چې د ټولو ژوند خوشاله تېر شي.

بچيه !ډېره ښکلې قيصه دې ؤکړه، خو د دنيا مالک دا دنيا داسې نۀ ده پېدا کړې. خدا ے پاک خو په مونږ باران يؤ شان وروي —— نمر په ټولو يؤ شان راخيژوي —— سترګې لاسونه اؤ د وجود نور اندامونه ئې يؤ شان راکړي دي —— چې اودۀ کيږو، نو ګز يږ نيم ګز ځا ے نيسو اؤ چې مړۀ شو، نو ټول يؤ شان خاؤرې له ځو. بچيه !د الله پاک نظام خو د مساواتو نه ډک د ے. د دنيا په ټولو وسائلو د ټولو انسانانو يؤ شان حق د ے. زر دي کۀ فصلونۀ دي، اوبۀ دي اؤ کۀ تيل دي، په دې خو د چا نومونه له اسمانه نۀ دي ليکلے شوي. په دې خو د ټولو انسانانو حق د ے. دا خو مونږه انسانانو دا غلط وېش پخپله کړے د ے، چې د لوږې مري اؤ بل ئې ډېرانونو ته غوړځوي، يؤ مغرور د ے اؤ بل محروم د ے. خو بچيه !مايوسي ښه نۀ وي. چې يؤ سړې کړې غوښې خوري، بل ساګ اؤ دال خوري اؤ بل کله خوري اؤ

کله وړے اودهٔ کیږي۔ د دوي خبر په دې کښې دے، چې درې واړه جرګه شي۔ یؤ داسې نظام جوړ کړي یا د داسې نظام پېروي ؤکړي، چې د ژوند بنیادي اؤ انساني ضرورتونه لکه صحت، تعلیم اؤ د سر سیورے د ریاست په ذمه وارو کښې راولي۔ انصاف د هرچا د پاره یؤ شان وي، عدالتونه ازاد وي اؤ د هر چا د راے احترام ؤشي۔ د ریاست ټولې څوکۍ اهل اؤ قابلو کسانو ته ورکړې شي اؤ هر سړے دا محسوس کړي، چې زهٔ یقیني ازاد یم۔ چې هر چا ته د خاؤرې د وسائلو نه خپله برخه په منصفانه توګه ورکړې شي، نو دا یقیني خبره ده، چې وګړے به د وطن اؤ د نظام د پاره د هیڅ قربانۍ نه ډډه نهٔ کوي اؤ دا دنیا به د امن کور جوړ شي۔ نهٔ به غلاګانې کیږي، نهٔ به وینې بهیږي، نهٔ به ذهني بیمارۍ زیاتیږي۔

باباجي !دا را ته ؤوایه، چې کهٔ لالاجي د دې نورو خلکو سره دې خبرې ته نهٔ وي جوړ، نو بیا؟

بچیه !اوس د غرض ټکي له راغلې۔ وړومبۍ خبره خو دا ده، کهٔ لالاجي د خلکو سره دا خبره ؤمني، نو د دهٔ اؤ د دهٔ د کورمې به پکښې خیر وي۔ څکه چې په چاپېرچل کښې د لوږې اؤ مایوسۍ اورونه بل وي، نو دا اور د دهٔ کور ته هم رارسېدے شي اؤ د یؤ خوني انقلاب شکل اختیارولے شي، چې په قلاره خوب به پکښې د لالاجي د پاره هم ګران شي۔ خو بچیه !زهٔ غواړم، چې یؤ شعوري کوشش ؤکړم، چې دا دنیا ډېره ښکلې ده، کهٔ زمونږ فکرونه ښکلي شول اؤ دا دنیا به دغسې د مشکلاتو ډکه وي، کهٔ زمونږ فکرونه دغسې تور اؤ سُخا وي۔

پښتو
pukhto.net

# سیفودین

درزي راله جامې لرېږې اوږدې ګنډلې وې، نو لمن به را نه په اوبو کښې لوندېدله او بل د خوړ په غونډو او خوئېنو کاڼو را ته نور تګ هم ګران شو، نو سیفودین را لره مشوره راکړه، چې ته راسره د خوړ په غاړه غاړه ځه !ما به له ښکاره هم ژنه باسې او تماشه به هم کوې. ما ئې خبره ومنله او کمیس مې لوند و، نو نچوړ مې کړو او په یوه اوږه مې واچولو. سیفودین به جال ویشتو او زۀ به په غاړه روان وم.

اوړې را لره نمر سمې ؤسېزلې، خو د سپفودین په جال کښې یؤ مهے نۀ لګېدلو۔ بیخي مازیګر شو، خو خوند ئې نۀ کولو، نو سپفودین را ته ډېره د معنې نه ډکه خبره ؤکړه، چې داسې خوند نۀ کوي۔ راځه ملګریه !مساله پړې استعمالؤم اؤ بیا ئې یوه توره کسوړه له جېبه راوویسته، اوبو ته ئې ؤشغوله۔ چې وخت تېر شو، نو په ډنډوقو کښې را ته د وړو وړو مهیانو سپینې خېټې ښکاره شوې۔ سپفودین سم قتل عام ؤکړو اؤ ما چې دا ظلم ؤلیدو، نو خپل پښتون قام مې مخې ته نېغ ؤدریدلو، چې په مونږه د سامراجانو دغه لاس نۀ رسېدلو، چې څنګه د دنیا نور خلک په اسانه په خپلو جالونو کښې راګېروي، نو اوس ئې زمونږه قتل عام شروع کړو۔لکه سپفودین چې د متهو په زور مهیان نۀ شو نیولے اؤ قتلولے، نو مساله ئې اوبو ته ؤویشته اؤ غربیانو چې په اخلاقي اؤ بین الاقوامي جنګي اصولو پښتنو له شکست نۀ شو ورکولے، نو اوس ئې د بې ګناه پښتنو قتل عام پېل کړے دے۔ بر پښتون په لارو اؤ کوڅو کښې وژني اؤ لر پښتون د خپلو ګوډاګیانو اؤ ډرون حملو په ذریعه وژني اؤ دنیا خاموشه ناسته ده، تماشه کوي۔ خو سپفودین به تر څو مساله استعمالوي؟ اخر به دغه زهریله اوبۀ د دوي خوړونو ته هم ؤرسي اؤ دا ورځ ډېره نزدې ده۔

پوهه شوې که نۀ؟

# شخصيت پرستي

د خپل چاپېرچل په سياسي اؤ ادبي حالاتو چې نظر واچؤم، نو يؤ عجيبه تصوير مې مخې ته جوړ شي - د دې تصوير کۀ څۀ رنګونه سوليدلي اؤ مخښلي دي، نو څۀ زړۀ راښکونکي دي - زړۀ راښکونکي رنګونه هغه نظرياتي رنګونه دي، چې پېړۍ پړې تېرې شوې، خو په خپل حال کښې موجود دي، خو مخښلي اؤ سوليدلي رنګونه دومره ډېر دي، چې د دغو زړۀ راښکونکو رنګونو ټوله ښکلا ئې زيانمنه کړې ده اؤ بنيادي سبب ئې زۀ ړنده شخصيت پرستي ګڼم - د وړې وُچې] برصغير [په تاريخ کښې داسې سړي تېر شوي دي، چې قومونو ته ئې د دوي د ښېګړې د پاره داسې نظريات وړاندې کړي اؤ بيا ئې عملي مبارزې کړې دي، چې هېرول ئې ممکن نۀ دي اؤ تر اوسه تُري د دې سيمې قامونه ګټې پورته کوي - دغه شخصيات ډېر د درناوي وړ دي - ځکه چې خپل عمرونه اؤ مالونه ئې د قومونو د ښېګړو د پاره قربان کړي دي، خو له بده مرغه خلکو د دغو شخصياتو نظريات هېر کړل اؤ په ذاتونو ئې ورپسې شول -لکه د کوم مشهور سړي چې قوم د پاره قربانۍ ورکړې وي، د هغې نه ميراث جوړ شو- لکه د دغه دُروند شخصيت څُوے کۀ هر څومره

ناقابله ؤ، خو د پلار شخصیت ئې د میراث په توګه په کار راوستلو اؤ بیا دغه کړی د نمسو اؤ کړوسو پورې ؤرسېدې. دلته شخصیات په نظریاتو غالب شول اؤ د اولسونو شعورونه تر دې حدونو زیانمن شول، چې کۀ مشر ئې بده خبره هم کوي، نو دوي ته ښه ښکاري اؤ د اختلاف ګنجائش تړې بیخي د مینځه لاړلو.

کۀ په سیاسي توګه ؤګورو، نو دغه د میراث سلسله تر ننه ښه په دُرز کښې روانه ده. په هندوستان کښې ګاندهي خاندان تر ننه په حکومت کښې دے اؤ دغه میراث د اټالوي سونیاګاندهي پورې راؤرسېدلو اؤ کېدے شي، څو پېړۍ نور هم ؤچلیږي. په پاکستان کښې بهټو بیا بېنظیره] د دې ځاے قابله وه[، بیا زرداري اؤ کېدے شي، دا سلسله د بلاول د نمسو پورې ؤرسي. باچاخان ورپسې ولي خان] زۀ ئې د دغه ځاے قابل ګنم [اوس اسفندیار اؤ بیا کېدے شي تر کړوسو پورې دا کړی ؤغځیږي. مفتي محمود بیا فضل الرحمان، عطاالرحمان اؤ دغسې نوازشریف، شهباز شریف، حمزه شهباز اؤ د بلوچو خبره خو به نۀ کوو، ځکه چې دغه سرداران به تر قیامته سرداران وي. د دې میراثي قیادتونو دا نۀ ختمېدونکې سلسله د قوم د نوي استعدادونو] ټیلنټ [لارې نیسي اؤ زمونږ سیاسي ادارې د څو خاندانونو میراثونه جوړ شوي دي. مونږ خو ځانونو ته په هر څۀ کښې د امریکې مثال ړدو، خو د دغه قام سیاسي پوهه مو بیخي له نظرونو غورځولې ده، چې د نن نه څو کلونه اګاهو چا د بارک اوبامه نوم هم نۀ پېژندلو، خو د اولس د چغو په زور نن د امریکې صدر دے اؤ سبا له به بل څوک وي. دغه حال

زمونږ د ادب هم د ے ـ په ادب کښې مونږ د هر چا نه ډېر شخصیت پرست یو ـ چې بنیادي سبب ئې زمونږ د لیک لوست نه لرې والے د ے ـ کۀ یؤ لیکوال د یؤ ادبي صنف له کبله نوم ؤګټي، نو ځنې ځنې پکښې بیا ځانونه عقلِ کل ګڼي ـ د شاعر نه نقاد جوړ شي اؤ کم پوهه خلک ئې هره خبره دلیل ګڼي ـ لکه نن سبا چې د پښتو څۀ لوړپوړي شاعران د پښتو د املا سره لوبې کوي ـ خپلې د نېټ پاڼې ئې خلاصې کړې اؤ خپله خپله پښتو لیکي اؤ قام ئې په ډلو کښې ویشلے د ے ـ اوس د عام پښتون د پاره دا ګرانه ده، چې سوچه پښتو ؤپېژني اؤ ؤلیکي ـ زما په خیال چې دا څو کسان کۀ شاعران نۀ وو، نو د قام د پاره به ښه وه ـ ځکه چې دوي پښتو ته له دښمنانو زیات نقصان ؤرسولو ـ زما د قام ځلمو راځئ !چې لوستنې ته مخه کړو اؤ پخپله د خپل ادب نه ځانونه خبر کړو اؤ بیا ئې خپلو نسلونو ته په سوچه توګه ؤرسوو ـ د سیاسي شخصیت پرستۍ زیانونه خو مو ؤلیدل، چې یوه اداره مو سمې جوړؤنې ته نۀ پرېږدي اؤ د میراثي سیاست نه قام ته هېڅ په لاس ورنۀ رغلل ـ

د نظریاتو نه انکار کول ګمراهي ده، خو د شخصیاتو ړوند تقلید بت پرستي ده ـ باید چې مونږ د سترو خلکو نظریات د خپلو سیاسي لارو مشالونه کړو، خو د چا میراثونه ئې ؤ نۀ ګڼو ـ په مونږ کښې داسې خلک شته، چې د دغو شخصیاتو د نظریاتو نه د هغوي د اولادونو نه ډېر خبر یو اؤ په عملونو کښې مو له وړایه ښکاري ـ

# منګوړ

دا مخلوق د غريبانو خلکو په بړستو اؤ بسترو کښې ليدلے شئ. په ځانګړې توګه په هغه بسترو کښې ډېر وي، کومو کښې چې کوچنيان تشې متيازې کوي. منګوړ ډېر صفتونه لري اؤ پېژندګلو ئې داده، چې خوراک ئې د بنيادم وينه ده اؤ د نيولو نه وروسته که پڼې زور ؤکړې، نو ګوتې به دې په وينو سخا شي. دا وينه څښکونکے مخلوق ډېر چالاکه وي. په رڼا کښې د بسترې په کونجونو يا د پوستين په غاړو کښې پټ ناست وي، خو چې کله تېره شي، نو دوي خپله کاروائي پېل کړي. د يخنۍ په موسم کښې خوب اؤ دمه کوي اؤ په ګرمۍ کښې به تړې خوب ؤنۀ کړې. زما يؤ ملګرے له دې کبله سپينې جامې نۀ اغوندي، چې په سپين رنګ منګوړ له وړايه ښکاري اؤ د سړي حيا ګيا کوي. چرته چې يؤ ځل ښکاره شي، نو بيا دغه تخم خورېږي. که په بده کښې دې له ځانه سره يؤ منګوړ د چا استوګنځاے ته يؤړلو، نو کار دې ورلره ؤکړو. بيا په داروګانو نۀ ځي، خو کور به ورته پرېږدي.

چې منګوړ ته مې ووکتل، نو خپل قامي مشران مې مخې ته شول. چې د خپل کارکوونکو او افسرانو په لاسونو د غریبانو وینې څښکي. په رڼا ورځ او رڼا کښې خو دېر زبرګان هم د اولس د ښېګړې چغې وباسي، خو په تېره یا بل رنګ کښې د اولس وینې څښکي. په نامه جمهوریتونه هم د دنیا په هر ګټ کښې څو کورنیو قبضه کړې دي. بیا ورې وچې (برصغیر) او افغانستان کښې خو د شمار یو څو کورنیو په حزب اختلاف او حکومت دواړو قبضه کړي وي. په لوړو څوکیو ناست افسران، د بنکونو مشران، پوځي افسران، د پټو ایجنسیانو مشران او قاضیان (ججان) د دې غټو کورنیو خپل کسان وي. اربونه روپۍ له بنکونو راوباسي او بیا ئې ځانونو ته معاف کوي (ښۀ مثال ئې په پاکستان کښې لیدلے شئ). په بهر نه راغلې سرمایه کښې د دوي خپله برخه وي. د آئي ایم ایف او ورلډبنک نه په سود پیسې اخلي او په عیاشیانو ئې خرچ کوي او زور ئې له اولسه د ګرانۍ په شکل کښې وباسي. اوس له څو میاشتو نه مې غوږونو کښې انګازې کیږي، چې په تیونس او مصر کښې د دې منګوړ نما مخلوق مخنیوے وشو او دغه د مخنیوي دارو د نورو سیمو خلکو هم وپېژندل. خو یقین مې نۀ راځي، چې دغه دارو به زمونږ د سیمې په ځربو منګوړو کار وکړي. ولې چې دلته بړستن، تولاې او کټ درې واړه بیخي د منګوړو خپل دي. نو دغه دارو شیندي څوک؟

# انسانیت د بربادۍ په لور

کۀ فکر وُکړو، نو سائنس د اوسنۍ زمانې د انسان په ژوند کښې ګڼ بدلونونه راوستي دي. هغه سفرونه چې میاشتې اؤ کلونه به پرې لګېدل، اوس په منټونو اؤ ورځو کښې ترسره کیږي. پخوا به خلک پیاده یا په اسونو اوښانو اؤ خَرو تلل، اوس ګاډي جازونه اؤ نورو وسائلو فاصلې ډېرې نزدې کړې دي. د کمپیوټر په ذریعه په دقیقه کښې سړے د نړۍ د یؤ ګوټ نه تر بله ګوټه رابطه کولې شي. د ګڼو مرضونو علاجونه اوس په اسانه کېدلے شي. پخوا به په سړي د اپېنډکس درد راغلے اؤ خلکو به وئېل، په فلاني شکمدړ راغلے اؤ ساه به ئې ورکړه. د هېضې وبا به په خلکو هدیرې ډکې کړې، نانکو اؤ ټي بي به هر کال په کروړونو انسانان وژل. د معولي تبې علاج هم نۀ وُ اؤ خلک به په باباګانو اؤ پیرانو ګرځېدل، خو اوس د سائنسي پرمختګ سره هغه ناقابل علاج مرضونه د علاج قابل شول اؤ د طبي تخلیقاتو اؤ اسانتیاؤ نه هر انسان تر خپله ضرورته ګټه اخستلې شي. هرانسان د سائنسي علم له ارزښته خبر شو اؤ ژوند ډېر اسان شو، خو د دې پرمختګ منفي اړخ ډېر خطرناک اؤ د انسانیت د بربادۍ لوي لامل جوړ شو اؤ دغه منفي اړخ د دې سائنسي پرمختګ په مخ نۀ وُرانېدونکي داغونه وُلګول اؤ انسان د ژوند د اسانتیاؤ د لاس ته راوُړو د پاره د نورو انسانانو د وژلو اؤ ختمولو د پاره داسې شیان جوړ کړل، چې انسان اوس د هغه زړې زمانې ارمان کوي. کۀ پخوا به چرته په یوه

سیمه کښې د ډانګي اؤ ټوپک جنګ ؤ، نو د نړۍ یوه سیمه به ناقراره وه اؤ د مرګ شرح به دومره نۀ وه، لکه نن سبا چې سائنس ننني نړۍ د بارودو اؤ اېټمي وسلو نه ډکه کړې ده. زهریله غازونه جوړ کړے شول، چې په سېکنډونو کښې په کروړونو انسانان د مرګ په خوب اودۀ کولے شي. داسې بمونه جوړ کړے شول، چې روغ روغ کلي پاڅتروي. مائنونه جوړ کړے شول، چې یۀ ناخبره انسان په دقیقه کښې وژلے شي. د الوتکو نه په نورو انسانانو د بمونو بارانونه ورولے شي اؤ د انسان سکون تالا ترغه شو. دلته را ته یوه خپله هائیکو را یاده شي، چې:

د جهالت له کندې ؤوتمه
خو د بارودو غر ته وختمه
وایه! ما څومره ترقي ؤکړله؟

pukhto.net

نو اے د نړۍ انسانانو! مونږ ولې یؤ بل وژنو اؤ دا خبر مو ولې په شر بدل کړو؟ ایا زمونږ خپل وسائل زمونږ د مسائلو سبب جوړ نۀ شو؟ مونږ ولې د خپلو راروانو نسلونو د ودانۍ د پاره د نورو اوسني نسلونه بربادوو اؤ دا دومره ایټمي وسلې اؤ غټ غټ بمونه مونږ د چا خلاف جوړ کړي دي؟ مونږ ولې د بل انسان په بربادۍ کښې خپل خېر لټوو؟ د دومره زهریله وسلو د شتون څۀ معنا؟ ایا انسان پخپله د ځان د ښمن نۀ دے اؤ د را روانې بربادۍ له اثارو به د دې خطرناکو وسلو جوړوونکي محفوظ پاتې شي؟ مونږ چرته په دې خبر سوچ کړے دے؟

## ؟؟؟؟؟

چې د خیل قام اوسنو حالاتو ته ؤګورم، نو له ځانه مې زړهٔ موړ شي ـ ځکه چې په اوسنو حالاتو کښې ما له څهٔ رنګ رول لوبول پکار دي، هغه نهٔ شم سر ته رسولے ـ هرپښتون پوهېږي، چې زمونږ سره څهٔ کېږي اؤ څوک ئې کوي، خو افسوس دے، چې چغه بې قدره ده اؤ متې مو خپلې نهٔ دي.

pukhto.net

یارانو!

راځئ چا ته ګوته نهٔ نیسو اؤ نن شپه د ځان سره احتساب کوو، چې ما د خپل قام د سوکالۍ د پاره په شخصي توګه څهٔ کړي اؤ یا ئې کؤم؟ زمونږ د پرمختګ اؤ ودانۍ د لارې خنډان مالوم دي ـ نور پرې سرونه نهٔ خوږو، نهٔ ماتوو ـ دا پېړۍ یا زمونږ ابتدا ده یا مو انتها ده ـ قېصې بې معنې شوې دي اؤ بېتونه د سکون سامان شو ـ زور د زر محتاجه شوے ـ د خیال نه وزر پرېکول غواړي، چې زمکنو حقائقو ته ؤزګار شي ـ ما په تا کښې ورک شوي ـ په اوښکو اؤ وینو کښې مو پوره پېړۍ ؤلمبوله ـ بس نهٔ دے؟

ریښتیا وایه! تاریخ دې بې له تورې څۀ لرې؟ د پوره هندوستان قبضه کوونکے نیکۀ دې چرته یوه د کتابونو لائبریري هم لرله ؟ نه. اؤ مونږ هوبهو د هغوي په پلونو پل په داسې زمانه کښې ایښودل غواړو، چې د امن، سوکالۍ اؤ پرمختګ ته دغه لار هډو تلې نۀ ده. خفه نۀ شې، دغه زما هم نیکونه وو. ستایم ئې هم، خو په زړۀ کښې مې ورته قار هم پروت دے. د تک تور هندوستاني سره غاړې ته کمپیوټر پروت وي اؤ زما سُورسپین د چینار شانتې پښتون بېلچه اؤ تاټکے راخستے وي اؤ په سور نمر دیاړې کوي. ځکه مې مشر لږ باقیدار ګڼم اؤ اوسني ځوان ته بیخي له خپلې وېرې پښتون وایم. ګڼې دا صفت ئې صرف د شونډو په سر پاتې دے. نور وجود ئې بیخي بیخي پرده شوے دے. ژوند ئې په وئېلو کښې تېر شو، عمل نومې څیز دلته د څرۀ د سر ښکر دے. دے وائي، هغه وائي ـــ هاغه وائي ـــ زۀ وایم ـــ تۀ وائې ـــ تاسو وایئ ـــ هغوي وائي، چې یؤ کیږو. علم ته مخه کوو. دې خاؤرې ته خوشالي راؤړو، نو دا چا ته وایو؟ چې خبره د ټولو یوه ده، نو دا څۀ وجه ده اؤ څوک دي، چې ما اؤ تا دي اؤ دا هغه اؤ هاغه تاسو اؤ هغوي ئې ټول د بارودو په غرۀ د پاسه کېښنولي یو؟ توجو غواړم ـــ چرته مونږ ټول دروغژن خو نۀ یو؟ ـــ عندلیبه!

# نړیوال بدلون

په نړۍ کښې نوي بدلونونه دومره په توندۍ سره کيږي، چې د نړۍ يؤ نظام ئې هم لاره نيولي نۀ شي - انساني عقل چې کوم څۀ نۀ منل، هغه ئې ؤليدل - ژوند ته د اسانتياؤ راؤړلو څُغل دومره توند شوے، چې د نړۍ د هر ګوټ انسان ئې د يؤ بل سره په رابطو مجبوره کړے - دا تړون اؤ رابطه پخپل کومې کښې ډير پخواني اقدار اؤ روايات چقوي اؤ په راتلونکي وختونو کښې د قوميت تصور اؤ وجود ته سُترۀ خطره پيښيدلې شي - کله چې د نړۍ د انسانانو موخه يواځې وسائل قبضه کول اؤ ژوند ته د اسانتياؤ راؤړل جوړه شي، نو دا فکري يؤ والے د ذهنونو نه ډير پخواني تصورات له مينځه وړُے شي اؤ د ځان ځانۍ يؤ داسې وخت هم راتلے شي، چې ټولنيز فکرونه اؤ نظريات به ساګانې ورکړي - مونږه د دې بدلون بيلګې په خپله ټولنه کښې په ډاګه ليدلې شو- لکه چې دروغ نۀ وايو، نو زمونږ د پښتنې ټولنې نه د رشتو قدر ورک شو- پخوا به خلکو لرې لرې خپلوۍ پاللې - د يؤ بل کره به شپو له تلل اؤ د يؤ نفر په سر به ټوله قبيله راپاڅيدله، خو دا کار

اوس نزدې نزدې ختم دے او د ټولنيز ژوند بل اړخ ته کۀ وګورو، نو د دې بدلون نخښې تاسو په سياسي ډګر هم ليدلې شئ، چې نظرياتي سياست رو رو ساه ورکوي. د ډېرو وسائلو لرونکو خلکو د هرې سياسي ډلې د سر صفونه ونيول او غريب او لاچاره اولس سټونزمن ژوند ته د اسانتياؤ راوړلو په غرض د مجبوريته دغه خلک هم ومنل. په راتلونکو وختونو کښې هغه ورځې تلونکې دي، چې چا به د نيکۀ او پلار په ښېګړو د اولس ذهنونه او زړونه قبضه کول او د شمار په څو نارو به ئې کورونو ته بې شمېره ګټې راوړې. د دې نوي بدلون لاره د پېړيو نه د واک په څوکۍ ناستو عرب واکدارانو هم و نۀ نيولې شوه او نړيوالو د هغوي تاجونه او تختونه د اولس په پښو کښې په دوړو کښې ککړ وليدل او ددې نوي بدلون لاره ګوته مُلا او د لوي لښکر لرونکي فوځي جرنېل هم نۀ شي نيولې او خيالي او تش د وينا تر بريده انقلابيان به هم په دې اولسي سيلاب کښې لکه د خسنو متره شي. د وطنونو جغرافيې به ورته ټينګې نۀ شي او د حق او نا حق پخوانے تصور به له مينځه لاړ شي او نوے او لوستلے اولسي فکر او عمل به ټول هغه پخواني عقيدوي بتان مات کړي، کوم چې يوائې وينا (تهيوري) وۀ او عملي کول ئې په اوسنۍ انساني ټولنه کښې بيخي ممکن نۀ دي. اوس د چغو تر بُريده خو هر سړے دا چغې وهي او دعوه کوي چې مونږ به د دې بدلون لاره ونيسو، خو تُريخ او منلے حقيقت دادے، چې دا بدلون راغلے دے، خو ځنې خلکو پڼې سترګې پټې کړې دي.

pukhto.net

# جرګه

و أمرهم شوری بینهم*

(د قران د دې ایت مطلب دا دے، چې د مسلمانانو هر کار دې په مشوره سره وي).

کۀ په تاریخ نظر واچوو، نو دا حقیقت به را ته معلوم شي، چې د لویو لویو جنګونو اؤ قامي لانجو اختتام اخر په خبرو کیږي. د یؤ پښتون شاعر د شعر یوه کرښه ده:

کۀ اسلام نۀ وے، نو بیا هم به مسلمان ؤم

کۀ فکر ؤکړو، نو پښتون کلتور مونږ ته په میراث کښې د پېړو پېړو نه را روان دے اؤ د دې سُپېځلي کلتور یوه بنیادي اؤ مهمه برخه جرګه هم ده، چې انسانان چرته ژوند کوي، نو ښکاره خبره ده، چې هلته به فکري اؤ عملي اختلاف ضرور وي. نو کله کله دغه اختلافات د شرونو شکل اختیار کړي، نو غُوره تولنه هغه ده، چې د ژوند د پېښېدونکو سُتونزو ممکن حل لري. کۀ ؤګورو، نو پښتون فطري ضدي هم دي. له دې کبله زمونږ هوښیارانو مشرانو اؤ اتلانو د جرګې په ذریعه د قامي اؤ خپل مینځي مسائلو اؤ شْخړو حل لټولو. مونږه تر صدو صدو خپلې سُتونزې د جرګې له لارې حل کړې دي، خو د وخت تېرېدلو سره چې څومره د جرګې

ضرورت ډېر شو، د بدبختۍ نه جرګې خپل کردار ادا نهٔ کړے شو۔ وجوهات ئې ګڼ دي، خو غټه وجه ئې د جرګې د غړو د انتخاب ذهني معيار ګڼم ـ هاغه جرګه چې فېصله به ئې هر چا ته منظوره وه، د خلکو په نظرونو کښې له دې کبله سُپکه شوه، چې دلته د جاګير اؤ سرمائې خاوندان په جرګه قابض شول اؤ عام سړي ته ځان پُردے ښکاره شو۔ غريب اؤ عام سړے کهٔ د ټولنې د ښېګړې د پاره هر څومره ذهني استعداد لري، د جرګې نه بهر پاتې شو۔ اوس کهٔ فکر ؤکړو، نو ان پړ ملک اؤ لوپر کروړ پتي د قام د مستقبل د پاره تر کومه حده ښهٔ سوچ کولے شي؟ ملک خو به وړومبے د خپل جاګير تحفظ کوي اؤ سرمايه دار به د دولت د ډېرولو په چکر کښې وي، نو د قامي سُتونزو حل به څهٔ رنګ لټوو؟ د پښتون قام اوسني حالات زمونږ نه دا غوښتنه کوي، چې جرګه شو، خو اوس چې د سرمائې د نظام چرچه اؤ بالادستي ده، نو د جرګې جوړول پخپله لويه سُتونزه ده ـ مونږ له اوس د جرګې نه مخکښې دا سُتونزه حل کول پکار دي، چې کله مو په قام اؤ خاؤره يؤ څو سوچه مئينان اؤ هوښياران ؤلټول، نو د جرګې جوړول اؤ زمونږ د قامي اؤ اجتماعي مسائلو حل کول ګران نهٔ دي ـ نو راځئ ملګرو! چې په خپل چاپېرچل کښې په پښتنو مئين اؤ قومي فکر والا کسان ؤلټوو، چې قومي مفادات د ذاتي مفاداتو نه مهم ګڼي اؤ دقام مينه ئې په رګونو کښې لکه د وينې ګرځي، نو منزل لرې نهٔ دے۔

# زۀ خطا خو نۀ يم؟

کۀ زمونږه زړونه ئې نۀ غواړي هم پښتانۀ اؤ پښتنه خاؤره په ښکاره دوه برخو کښې ويشلے شوې ده. يوه برخه لر اؤ بلۀ برخه بر پښتانۀ دي. سوړ جنګ د پښتنو په بره برخه شوے ؤ اؤ د جنګ ښکاره يؤ فريق د لرو پښتنو سيمه اؤ ځوانان ددې جنګ د پاره کارول اؤ د پښتنو دا د امن ډکه سيمه هم د بمونو بارودو اؤ کلاشنکوفونو ډکه شوه، په هغه وخت کښې د پښتنو د څۀ سياسي ګوندونو پرته د هر پښتون دا ارمان ؤ، چې سُرې لښکرې له وطنه ؤشړي اؤ د دې موخې د پاره په قامي اؤ ديني جذبه پښتانۀ ځلمي د ګڼو تنظيمونو د سُيوري لاندې د روسيانو سره ؤجنګېدل اؤ روس ماتې ؤخوړۀ. دا خبره هم د هېرولو نۀ ده، چې دا يواځې د دوه وطنونو تر منځه شر نۀ ؤ، بلکې د دوه نظامونو يانې سرمايه دارو اؤ اشتراکيت جنګ ؤ. سُرې لښکرې چې له کومې ورځې تللې دے، د هغه ورځې نه زمونږ قامي فکري انتشار زمونږ پوهانو ته په نظر راغلي دي. خپل منځي جنګونه ؤشول اؤ د يؤ بل په مرګونو کښې جنتونه ؤلټولے شول. د پښتون هغه ځانګړتيا چې د وطن اؤ قام ساتنه په هرحال اؤ د هرچا په ضد کولې شوه. د قامي نه داسې مذهبي رنګ ته لاړه، چې زمونږ د ننګ اؤ وروروليۍ ټول رسمونه ئې مات کړل اؤ نن مونږ په قامي توګه د خانه جنګۍ ښکار کېدونکي يو. بر پښتانۀ په شعوري فکري اؤ عملي توګه داسې ويشلے شوي، چې د

هر دوېم نفر سره د کفر ټاپه ده اؤ اعتدال زمونږ د دغه ټولنې نه بيخي ورک شوے اؤ دغه اغيزې اوس په پښتونخوا کښې هم په ډاګه کتلې شئ۔ دلته به قام پرست اؤ مذهبي ګوندونه د ټولټاکنو په وخت کښې په اولسي غونډو کښې د يؤ بل په ضد غړېدل۔ دا خبره عادي وه، خو د تېرو پنځؤ کلونو نه دلته هم د يؤ بل وژنه پېل شوه ۔ د بېلګې په توګه د قامپالو ګوندونو د کارکوونکو اؤ مشرانو مرګونه ليدلے شئ اؤ د مذهبي مشرانو مرګونه هم له چا پټ نۀ دي۔ نو سړے ښۀ په اسانه اندازه لګولې شي، چې په قامي توګه زمونږ راتلونکي وختونه څومره د خطرو نه ډک دي اؤ زمونږ قامي فکري انتشار اؤ ګډوډے تر دې بُريده را رسېدلے، چې کۀ زمونږ له خاؤرې اؤ قامه اوس بهرني لاسونه ووځي، نو هم مونږ د يؤ قام په توګه يؤ ځاے ژوند نۀ شو کولے۔ تاسو فکر ؤکړئ، چې نن زمونږ پښتون طالب ورور اؤ قامپال ورور د يؤ بل مرګونو ته ناست نۀ دي اؤ کۀ زمونږ د برې سيمې نه د اغيارو مداخله ختمه هم شي، نو مونږ به په يؤ کلي اؤ کوڅه کښې ګډ ژوند ؤکړے شو اؤ د دې اغيزې لاندې لر پښتانۀ د بيخي نوې خانه جنګۍ په ډګر نۀ يو ولاړ؟ کۀ دروغ نۀ وايو، نو مونږ ميراثي پښتانۀ نۀ يو اؤ زمونږ پښتو د وېنا تر بُريده محدوده نۀ ده اؤ د نني پښتون د لاسه زمونږ قامي وقار برباد نۀ شو؟ زمونږ د ننګ شملې نړيوالو ته سُپکې نۀ شوې؟ نن چې د پښتون نوم چرته واخستلے شي، نو د ترهګر داغ ورسره تړلے نۀ وي؟ــــ دا ولې؟دا ځکه چې بيا خپله تکرارؤم، چې مونږ د وېنا ترحده پښتانۀ پاتې يو۔زۀ خطا خو نۀ يم؟

# د سرمایه دارۍ د نظام بدې اغیزې

pukhto.net

د هر انسان کوشش وي، چې ژوند په قلارۍ اؤ ارام سره تېر کړي اؤ د ژوند د بنیادي اسانتیا د لاس ته راؤړلو د پاره شخصي هسې کوي. کله چې د درې څلورو کسانو فکرونه یؤ شان والے لري، نو دغه تړون بیا اجتماعي شکل اختیار کړي اؤ دغه اجتماعي فکري تړون د ټولنې نور وګړي هم ځان ته راکش کړي اؤ دغسې دغه فکري تړون اولسي شي.

د سوړ جنګ نه وړاندې د دنیا انسانان په اقتصادي توګه په دوؤ برخو ویشلي وو. یوه ډله اشتراک خوښې وه، چې سرخیلي ئې سویت یونین کوله اؤ بله ډله د سرمایه دارو یا د سرمائې د نظام د نظریې لرونکو وه، چې مشري ئې امریکې کؤله.

کله چې روسیانو په افغانستان تېرے ؤکړو، نو خپلې پښې ئې پخپله په تبرګي ؤوهلې ـ سرمایه دارو خو دا ورځ له خدایه غوښتله ـ د افغانانو تاریخ خو هر چا ته معلوم ؤ، چې د خپلې خاؤرې دفاع به کوي، نو امریکې اؤ ملګرو ته ئې ښه موقع په لاس ورغله ـ د ډالرو باران پېل شو. تنظیمونه جوړشول ـ د پښتون د ډېرې وینې بهېدلو نه وروسته روس مات شو. د روس په ماتېدلو خلکو بلها خوشالیانې ؤکړې ـ په لارو اؤ کوڅو کښې جشنونه ؤشول، خو هوښیاران کۀ په دې خوشال وو، چې روس د افغانستانه شرمېدلے ؤوتلو، نو په دې خبره خفه وو، چې نړۍ د امریکا په رحم و کرم پاتې شوه ـ روسیا په ملګرو ملتونو کښې د ویټو حق لري، خو په اقتصادي توګه د افغانستان اوږدې جګړې اؤ سیاسي بدلونونو په ټپه کښېنولې دي ـ

د نړۍ په ګڼو ملکونو کښې پرائیوېټائیزېشن پېل شو. قومي ادارې اؤ کارخانې شْته، منو، خلکو واخستلې اؤ د مزدور ځائے نوؤ نوؤ مشینانو ؤنیولو. اثر ئې دا شو، چې بې روزګاري عامه شوه اؤ د سرمائې د نظام اثر دا ؤشو، چې د هر چا سره د دولت جوړولو فکر پېدا شو.

هغه په اقتصادي توګه منځنۍ طبقه [مډل کلاس] چې یؤ تن به کار کولو اؤ په یوه تنخا به ئې پوره کوړمه ساتله ـ غم اؤ ښادیانې به ئې کولې ـ په بچو به ئې ښۀ سبق هم وئېلو اؤ څۀ نا څۀ بچت به ئې هم کولو. نن د هغه ژوند په ارمان ښځې اؤ نر [ټوله کوړمه] لګیا دي، خو چې حساب ؤکړي، نو قرضداري دي ـ دا خو ښکاره خبره ده،

چې د سرمائې خو سر نۀ د ے معلوم اؤ بدې اغیزې ئې زمونږ په خوږ اؤ د مساواتو نه ډک دین اسلام په اصولو د عمل کولو باندې هم ؤشوې ـ د حلال اؤ حرام تصور رو رو له مینځه ځي اؤ د دولت ګټل د ژوند مقصد جوړ شو. غم اؤ ښادي دومره ګران شول، چې د غریب اؤ درمیانه طبقې له وسه ؤوتل ـ پخوا به راشه درشه ډېره وه ـ مېلمه ته به سړے د خوشالۍ نه من من غټېدلو، خو اوس د خلکو وختونه دومره خرڅ شوي دي اؤ خوراکي توکي دومره ګران شوي دي، چې ریښتیا ؤوایم، نو چا له مېلمستیا ورکول ډېر ګران شوي دي، نو د دې نظام ناوړے اثرات زمونږ په کلتور اؤ نزدې رشته داریانو هم ؤشول ـ د غریبو اؤ مډل کلاس خلکو د پاره ودونه اؤ نوې رشتې کول ډېر ګران شوي ـ ښکلې ښکلې پېغلې په کورونو ناستې دي اؤ ښائسته ښائسته ځوانان د ودونو په ارمان ناست دي تعلیم به پخوا د ټولو خلکو د پاره یؤ رنګ ؤ ـ اوس تعلیم پرایویټ شو. سکولونه ډېر شول، خو د تعلیم معیار ورځ په ورځ لوېږي اؤ د تعلیم نه کاروبار جوړ شو. دغه حال د صحت د شعبې د ے ـ پخوا به په ضلع کښې یؤ یا دوه لوی روغتونونه وو، غریب اؤ مالدار له به یؤ شان علاج کېدلو، خو نن کوڅه په کوڅه کلینیکونه اؤ هسپتالونه جوړ شول، خو د انسانانو د خدمت جذبه کمه وي اؤ په کاروباري نیتونو علاجونه کیږي اؤ د علاج په معیار ئې څۀ لیکل عبث دي ـ لنډه دا چې علاج کول د عام سړي د وس خبره نۀ ده ـ

د سرمائې د نظام اخلاقي اغیزې ؤګورئ، چې د کشر اؤ مشر توپیر ختم شو. د کور مشر هغه کس حسابیږي، چې د چا سره دولت

ډېر وي ـ په جرګه کښې د هغه سړي خبره غوره ګڼلے کيږي، چې دولت ورسره ډېر وي ـ د مور اؤ پلار هم هغه بچي ډېر خوښ وي، چې پېسې ورکوي اؤ د خوارانو په قسمت کښې دعا هم نشته ـ د مقدسو رشتو قدرونه تالا ترغه شول۔

کۀ ډېر ظلم اؤ زياتے درسره ؤشي، خو چې دولت نۀ لرې، نو د انصاف تصور هم مۀ کوه ـ د وکيلانو فيسونه د اسمان سره خبرې کوي۔

د سرمائې د نظام د ودې سره مونږه خپل ټول اقدار بائيلل ـ د ژوند نه خوند ورک شوے دے ـ سکون خو داسې ورک شوے دے، لکه د خر په سر کښې چې ښکر نشته ـ هر دوېم يا درېم سړے د فشارخون [بلډپرېشر] بيمار دے ـ ناشنا ناشنا ذهني اؤ دماغي ناروغيانو زور ؤکړو۔ خوب متره شو۔ د نشې ګولۍ اؤ کېپسول د بالښتونو لاندې سرونو ته پرتۀ وي ـ غلاګانې اؤ شوکې دومره ډېرې شوې، چې هره ورځپاڼه ترې ډکه وي ـ فحاشي زور شوه اؤ په خوراکي توکو کښې د سرمائې ډېرولو په غرض دومره ملاوټ کيږي، چې د اصلي اؤ ديسي څيز پېژندنه ګرانه شوه، څکه خو شاعر وائي:

په خودکشۍ کښې څکه پاتې راغلل
دلته کښې زهر هم اصلي نشته دے

د نړۍ په کچ روس پلوي ملکونه يواځې پاتې شول ـ دا خبره د يادؤلو وړ ګڼم، چې روس پلوه ملکونه ټول اشتراکيان نۀ وو اؤ ډېر پکښې هغه ملکونه وو، چې د امريکې نه خفه وو۔ د امريکې بدي

شول یا امریکې ځپلي وو اؤ یا ئې د روس سره تجارتي اؤ نور مفادات شریک وو.روسیي به په ملګرو ملتونو کښې د دغو ملکونو دفاع کوله ـ مشران وائي، چې کاڼي په کاڼي ماتیږي ـ د زورور مقابله په زور کېدلې شي ـ کۀ ؤګورئ، نو د روسیا د طاقت ختمېدلو سره امریکه اؤ ملګري ئې څومره بد مسته شول ـ په بغداد ئې تېرے ؤکړو، خو دنیا اؤ اسلامي نړۍ ئې تماشه کوله اؤ امریکې له ئې خپل هواي ډګرونه د خپل مسلمان ورور په خلاف ورکړل اؤ د عراق په کوڅو کښې تر دې دمه د مؤمنانو وینې بهیږي ـ بیا په افغانستان یرغل ؤشو اؤ تر دې دمه په زرګونو مسلمانان شهیدان شول اؤ امریکه سره د ملګرو په وجودي بڼه په پښتنه خاؤره موجوده ده ـ په خلیج کښې چې اسرائیل څۀ ؤغواړي، نو کوي ئې، خو څوک تْرې د تپوس نشته ـ اوس ایران ته ګواښونه کوي اؤ د نزدې راتلونکي هیڅ پته نۀ لګي، چې څۀ به کیږي اؤ ورپسې د چا د غْربولو وار دے۔

امریکې ته زمونږ د جهالت له کبله د بنسټ پالۍ اؤ دهشتګردۍ داسې بهانه په لاس ورغلې ده ـ چې چې کوم ځائے ؤغواړي، ورومبے د خپلو لاس پوسو په لاسونو هلته اړے ګړے رامنځ ته کړي ـ څو چاؤدنې اؤ مرګونه ؤکړي اؤ بیا ښۀ په اسانه هلته خپل غرضونه پوره کړي۔

په دې حالاتو کښې د پښتنو راتلونکے ما ته ډېر تیاره ښکاري ـ مونږه کۀ ډېر ښۀ تاریخ لرو، نو ور سره دا صفت هم لرو، چې په پْردو جالونو کښې ډېر زر نخښلو۔ د روس د راتګ نه وړاندې د

روس راتګ ته لار هم څۀ پښتنو هواره کړې وه اؤ اوس د امريکې د راتګ نه وړاندې د امريکې راتګ ته لار هم پښتنو هواره کړې ده. هغه د سوات روغاني ښه سمه خبره کړې ده، چې پښتون د کولال ختې ده، هر څيز تْرې جوړولې شي، چې بنيادي سبب ئې په مونږ کښې د قامي وحدت د سوچ اؤ عمل نيشتوالے دے. زمونږه سرونو لره خود هله راشي، چې خلک مو لکه د ټشوپېپرو استعمال کړي اؤ بيا مو کچرې تۀ ګوزار کړې. زۀ په دعوه سره وايم، چې زمونږ نه ښۀ مسلمانان په ټوله نړۍ کښې نشته. څکه چې ددې نورو اسلامي ملکونو مسلمانيانې اوس د پښتنو لوستو ځوانانو ؤليدلې، چې کله زۀ وړوکے ؤمنو، د فلسطين د اذادۍ جلسو اؤ جلوسونو له به اکثر لرې لرې تلم، خو چې په عربو کښې مې دا قوم د نزدې نه ؤليدلو، نو حق حېران شوم. کۀ دلته سروے ؤشي، نو هر څوک به درته دا خبره ؤکړي، چې په بد اخلاقۍ اؤ لغړتوب کښې دا فلسطينيان په اول نمبر دي اؤ بيا ورپسې د مصر نمبر راځي. کۀ د دوي په اختيار کښې شوه اؤ فلسطينے يا مصرے درباندې د کار مشر شو، نو د انسانيت طمع تْرې عبث ده اؤ دا کوشش ئې وي، چې ذهني اذيت در ؤرسوي. دا تپوس تاسو ددې ځاے د هر پښتون اؤ غېر عرب نه کولے شئ.

چې پښتنو ته څوک ايله د تاريخ خبره را واخلي، نو زر زر د نيکونو د مېړانې کارونه شمېرل پېل کړي، خو دې ته نۀ ګوري، چې د نن ورځ د سبا تاريخ دے. خداے خبر چې راتلونکي نسلونه به د نن د پښتون تاريخ ته په کومو سترګو ګوري. دومره بد الفاظ

به ورسره وي، چې مونږه به پرې یاد کړي؟ مونږه په قامي توګه د سرمایه دارۍ د نظام نه ډېرمتاثره شوي ځکه یو، خو د دغو دوه غټو نظامونو جنګ پښتون په خپل سر اخستےۀ اؤ د دغو دوؤ هاتیانو جنګ زمونږ په خاؤره شوي وو اؤ بل راله خلک د خپلې سوچه سني مسلمانۍ سزا راکوي.

ایا په پښتنو کښې به چرته یؤ داسې قامي مشر راپېدا شي، چې پښتانۀ به د غفلت ددې ټینګ خوب نه راویښ کړي اؤ د نړۍ د نورو پرمخ تللو قامونو سره ئې سیال کړي اؤ د سوچه قامي وحدت د خُوږو نه ئې خبر کړي اؤ نور د روسیانو، امریکایانو، ایرانیان، عربیانو.اؤ پنجابیانو شرونه د پښتون لوي کور افغانستان ته نۀ راؤړي اؤ وړومبۍ ترجیح ئې پښتو اؤ پښتانۀ وي؟

pukhto.net

# اوږده خاموشي

نن سبا چې د پښتون قام اؤ پښتنې خاؤرې سره کوم ناروا ظلمونه کيږي، د دې نور اسباب هم ډېر دي، خو د ټولو لوي سبب ئې د پښتون قام اوږده قومي خاموشي ده. کله چې په افغانستان کښې سوړ جنګ روان ؤ، نو د لر پښتون هغه کردار نۀ ؤ ادا کړے، کوم چې ورلره پکار ؤ. اګر چې دا قرباني ئې ورکړې وه، چې د بر پښتون لره ئې په حکومتي اؤ عالمي سرپرستۍ کښې پناه ورکړې وه اؤ ورکوي ئې. کوم پښتانۀ ځوانان چې د روس خلاف جنګېدل د هغوي سرپرستي هم څو مذهبي تنظيمونو کؤله. زما په خيال په دغه وخت د قامي جذبې راپارولو ښه موقع وه، خو سامراجيانو خو صرف روس له شکست ورکول غوښتل. پخپل يؤ مقصد کښې ئې شل نور مقصدونه هم حاصل کړل. پښتانۀ ځلمي د يؤ سنګر په ځاے د ګڼو سنګرونو نه ؤجنګېدل. يؤ بل به بدي شو. په مختلفو شخصياتو ورپسې شول. د مذهبي فريضې جهاد کولو نه پس ټرې سياسي ګوندونه جوړ شول. هوښيارانو به چغې وهلې. چې عامو خلکو [عوامو] له وسله مۀ ورکوئ، خو چا به اؤرېدلي وو؟ په هاغه وخت کښې خو د ډېرو مشرانو واکې د نورو خلکو [چې پښتانۀ نۀ وو]، په لاسونو کښې وې. انجام ئې دا شو، چې بد اثار ئې اوس د شدت پسندۍ په شکل کښې رابښکاره شول. چې کله سوړ جنګ ختم شو، نو دغه اور د لر پښتون په لمن ؤلګېدلو. د سر پرهر لا ورغلے نۀ ؤ، چې پښې زخمي شوې، وزيرستان سوزېدلو،

خو نور پښتانهٔ غلي ناست وو. ما ته ياد نهٔ شي، چې څوک د باجوړ سوات چارسدې دير پيښور يا بونېر په متاثرکن شمېر سړکونو ته راوتلي وو، نو سامراج ته معلومه شوه، چې پښتانهٔ ښهٔ ښخ اودهٔ دي . هډو څوک غږ نهٔ کوي، نو د باجوړ نمبر راغلو. بمبارياني ؤشوې . په سلګونو ماشومان ځوانان اؤ ښځې شهيدان شول اؤ درنو پښتنو کډې ؤکړې . په خپل وطن کښې ئې په خېمو اؤ د بمونو نه بچ شوي . سکولونو په برنډو کښې شپې تېرې کړې، خو پښتون په هغه قامي شکل کښې احتجاج ؤ نهٔ کړو، څنګ چې نور قامونه کوي . زمونږ د کلي څهٔ ملايانو به وئېل، چې دا باجوړيان سود خوارهٔ دي اؤ خدائے پاک ورله سزا ورکړه . د دغه مجرمانه خاموشۍ نتيجه دا شوه، چې د شدت پسندۍ اور سوات ته را ؤرسېدلو. د زمکې په مخ دا د جنت ټوټه په دوزخ بدله شوله . ددې وادۍ په شينکو کښې سکروټې ؤکړلې شوې اؤ دغه اور د دير ملاکنډ ايجنسۍ مردان چارسدې اؤ پېښور سيمو ته خور شو، خو پښتون لا په قامي توګه هغسې ښخ اودهٔ دے . د سازش تحت پښتون وړے اؤ جاهل ساتلے شوے دے . تر اوسه خپل اتلان نهٔ پېژني . خپل عظيم د پښتونولۍ روايات تُرې هېر کړے شوي دي . د دوي د ځوانانو په خالي اؤ تشو ذهنونو کښې د مذهبي شدت پسندۍ داسې کروندې شوي اؤ کيږي، چې د را روان نسل مستقبل را ته د دې نه هم تاريک ښکاري . مونږه خپل خوږ مذهب څو ناپوهه کسانو ته پرېښے، چې څو مخصوصې ګوټه کړې قيصې په هر محفل کښې بيانوي . د اسلام د اصلي اؤ عالي روح نه هډو

خبر نۀ دي اؤ دا عالمګير مذهب ورته د څو عبادتونو مجموعه ښکاري اؤ د ژوند د نورو معاملاتو نه ئې بهر ويستلے دے ـ د انسان د عظمت اؤ د وينې د حرمت نه خبر نۀ دي، خو زما په خيال د دې ټولو مسائلو حل په معياري تعليم کښې دے ـ کۀ مونږه پښتنو علم ته مخه کړه، نو د دې سره به د سوچه مذهبي پوهې سره سره په مونږ کښې د قامي وحدت سوچ هم بيا را ژوندے شي اؤ د خپل را روان نسل نه به تکړه قام جوړ کړو۔ بې دعلم د رڼا نه اوس د نفاق دا توره اؤ بوږنوونکې شپه د ختمېدلو نۀ ده۔ راځئ! چې خپلو بچو له قلم اؤ کتاب ورکړو، د علم په رڼاګانو ئې منور کړو، دساينس اؤ ټيکنالوجۍ د رازونو نه ئې خبر کړو اؤ د نوې دنيا د نوو سْتونزو سره ورته په نوې طريقه د مقابلې چل ؤښايو۔ خپل پښتانۀ اتلان ورته په ګوته کړو۔ د خپلې مورنۍ ژبې پښتو د عظمت اؤ ليک لوست نه ئې خبر کړو۔ نو قامي شعور به لکه د پخوا يؤ ځل بيا را ژوندے شي اؤ څوک به د اور وژنې په ځاے ورور وژنه نۀ کوي ـ د ليک په پايله کښې خپلو پښتنو ته وايم، چې نور پخپله تاريخي خاؤره اورونه مۀ کرئ ـ د دې خاؤرې د هرې لوټې لاندې د شهيدانو وينې پرْتې دي ـ کۀ امي دے، کۀ طالب دے، کۀ فنکار دے، کۀ مُلا دے، ټول د يؤ بابا اولاد يو۔ راځئ! چې خپلو ګرېوانونو ته سرونه ښکته کړو اؤ سوچ ؤکړو، چې زمونږ د بې اتفاقۍ اؤ مخالفتونو نه بهرني خلک څومره ګټې اخلي اؤ زمونږ د قام نه خپلې زړې بدلې څومره په اسانه اخلي؟

# اختلاف

کله چې د پوهانو تر مینځه په څۀ علمي خبره اختلاف راشي، نو دا د عامو خلکو یا لیکوالو د پاره ګټور وي، ځکه چې پوهان د خپلې خبرې د پاره بلا دلائل لري اؤ هغه اختلافي بحثونه چې د ذات د سْیوري نۀ لرې وي، نو تودوخه ئې د واؤرې نه هم سره لګي اؤ نوې نوې لارې پْرانیزي۔ لکه د نړۍ پرمخ تللي قامونه په روایاتو کښې دا خبره لري، چې په یوه موضوع دوه ډلې بحث کوي، یوه ډله د ټاکلې موضوع په حق کښې وي اؤ بله ئې خلاف وي۔ د دې عمل سره د اؤرېدونکو په علم کښې زیاتوالے کیږي اؤ د خپلو ډېرو مسائلو حل ورته مخې ته راځي، خو د پښتنو بد بختي دا ده، چې اول خو نوے نسل خپل پوهان نۀ پېژني اؤ په دې ګناه زۀ د ټولو نه مخکې لیکوال نیسم، ځکه چې دلته څوک یؤ څو نظمونه یا غزلې ؤلیکي اؤ عمر ئې لږ زیات وي نو بیا ورته د بابا لقب ورکړلے شي۔ څوک چې په میډیا ډېر اؤ بیا بیا ښکاره کیږي، هغه په غټو لیکوالو کښې حسابیږي۔

بله خبره دا ده، چې کوم ليکوال ته اولس يا حکومت د خدمت موقع ورکړي، نو هغه بيا تر نمسو اؤ کړوسو پورې په هغه څوکۍ پورې ګنګوځې شوې وي اؤ دغه شان د قام نوے تېلنتې ضايع کيږي ـ دغه ليکوال په دې خبره ښۀ پوهيږي، خو د ذات د خول نه بهر نۀ راؤځي ـ لکه نن سبا چې د پښتو د املا سره کومې لوبې کيږي ـ څوک وائي "س" ليکئ اؤ څوک وائي "ش" ليکئ اؤ بحثونه پرې هم په داسې اندازونو کښې کيږي، چې پوهه سړے په دې خبره کولو مجبور کړي چې پښتانۀ دومره نا قابله اؤ بې حسه دي، چې په زرګونو کاله پس ئې هم د خپلې خوږې مورنۍ ژبې املا قدرې سمه نۀ کړه، چې ټول لوستلي پښتانۀ پرې يؤ شان پوهيږي ـ لکه زۀ به د ځان مثال درکړم ـ زۀ د پښتونخوا د دير اوسيدونکے يم ـ څۀ نا څۀ ليکل هم کؤم ـ د پښتو ورځپاڼې هم ډېرې ګورم ـ مور اؤ پلار مې هم پښتانۀ دي اؤ د پښتنو په يؤ لوي کلي تالاش کښې اوسېږم، خو زۀ چې کله د پير محمد کاروان يا د جهاني صيب کتاب را واخلم، نو چې يوه يوه مصرعه مې لس لس ځله نۀ وي لوستلې، نو نۀ رسېږم پرې ـ زما د پاره دا شعرونه د سکتو اؤ جغنډونو نه ډک وي ـ اوس خبره دا ده، چې مونږ نوے اؤ د تقليد قابل روايات هم نۀ شو تخليق کولے اؤ خپل زاړۀ عظيم روايات هم نۀ خپلوو، نو تۀ له قندهار خلکو ته خپله شاعري وايه اؤ عندليب به د دير خلکو ته خپله شاعري وائي ـ زما د ليک نه به بر پښتون څۀ ګټه پورته نۀ کړي اؤ ستا د ليکلو نه به لر پښتون څۀ استفاده ؤ نۀ کړي ـ

اے زما د قام لیکوالانو! پوهانو! شاعرانو اؤ صحافیانو!
په مونږ کښې څوک داسې سړے یا سړي نشته، چې د دې شخړې حل را ؤباسي، چې مونږ ټول ورسره متفق شو اؤ مونږ لکه د نورو قامونو په دې خبره قائل کړي، چې لیکلے کېدونکې ژبه را ته سوچه اؤ یوه کړي اؤ ټول پښتانهٔ د یؤ بل په لیکلوز په اسانئ سره پوهیږو. زما په خیال کهٔ په دې خبره کښې مونږه شخصیت پرستي پرېښوده اؤ د خپلو ذاتونو د خولونو نه راؤوتلو، نو مونږ به د راتلونکو نسلونو قرضداري پاتې نهٔ شو اؤ کهٔ داسې نهٔ وي، نو تهٔ دغسې خپله نغاره غږوه اؤ زهٔ به خپله نغاره غږوم. هیڅ به تړې جوړ نهٔ کړو. زهٔ دا منم چې بنده د مور نه کومه یاده کړي. هغې ته مورنئ ژبه وائي، خو دا هم منم، چې د سوچه پښتون درې میاندې وي،
مور ــــــ ژبه اؤ خاورهٔ.

pukhto.net



pukhto.net

# د توت سیوري ته

## د پیر اؤ ملنګ بنډارونه

پښتو
pukhto.net

"ملنګه !څۀ ګورې؟"

"پيره !
کړکۍ کښې مې د بهر کلي تماشه کؤله.
مرغيو د ؤنو د پاڼو صحيفې لوستلې اؤ د سړو نه خدا ے دنګو منارو ته ختلے ؤ".

ملنګه! هغه سړے څه کوي؟
پیره! په زړه شځوند وهي.
ملنګه! زړو ته زړې هم نوې وي.
پیره! صبر ښهٔ دے.
ملنګه! صبر را باندې جبر سور کړے.
پیره! سېل ښهٔ وي.
ملنګه! سېل چې په سېل نهٔ ؤځي، یو اځې ښه ئې.
پیره! زر ښهٔ دي.
ملنګه! شګې به چڼوې، نو په لاس به درځي.
پیره! زهٔ ښهٔ یم.
ملنګه! ما لیدلے نهٔ ئې، چې له ځانه ووځم، تا به ؤوینم.
پیره! مینه ښه ده.
ملنګه! نوم ئې ډېر اؤرم، خو لیدلې مې نهٔ ده.
پیره! جنت ښهٔ دے.
ملنګه! کهٔ څهٔ خلک مو ور ته پرېږدي، بد نهٔ دے.
پیره! عبادت ښهٔ دے.
ملنګه! خو چې عادت نهٔ وي.

pukhto.net

پیره: سپوږمۍ ښکلې ده.

ملنګه: خو د هیچا نۀ ده.

پیره: زړونه تور شول.

ملنګه: د ستورو کرۀکره!

پیره: ګل ښۀ دے.

ملنګه: خو دلته د نیزې په څوکه زرغون شوے.

پیره: د ښۀ او نا ښۀ توپیر نۀ کیږي.

ملنګه: نو هر یۀ ته ښۀ وایه!

پیره: ناپوهي څنګه ده؟

ملنګه: د خدا ے لوی نعمت دے.

پیره: زمونږ د پتې ؤنه ښکلې ده.

ملنګه: سیورے او میوه دې ئې رب ستا کړي!

pukhto.net

پیر صېب ښهٔ چارې!

خیرونه ملنګه!

ستړي مهٔ شې!

یاره په جېب کښې دې نن سپین کاغذ ښکاري؟ رب دې خېر کړي!

هو پیر صېب! د شاعرانو نه دوه سپېږمو له راغلو. د مشاعرې بلنه ده ملنګه! نو ورشه کنه. تهٔ هسې هم هېڅ کار نهٔ لرې. چا ے اوبهٔ به پکښې ؤکړې اؤ سیګرټې میګرټې واله هم هلته ډېر وي اؤ بېتونه به هم واؤرې!

پیر صېب! سر مې نهٔ شم کدو کولے، خو ما یوه ورځ پُردو بېتونو پورې لکۍ کړې وې اؤ دوي د هوټل په برنډه کښې بنډار کولو، نو ما پکښې هم هغه بېتونه ارشاد کړل اؤ له هغې ورځې راسره یؤ عدد تخلص نُخښتے دے. اوس وئېلے هم نهٔ شم، چې دغه بېتونه زما نهٔ دي، ځکه چې څو مشاعرو کښې مې الوزولي دي. خو فکر چې مې ؤکړو، نو کلونه ؤشو، چې دا بېتونه اؤرو، خو پُړقې وهو اؤ "وا وا وا وا" ورته وایو اؤ زهٔ د ټولو په دې ډېر خُوښ یم، چې زهٔ د شاعر په هر دربم بېت وایم ــ "بیا ؤوایه! بیا ؤوایه!" نو د هغهٔ په خیال د هغهٔ شعرونه زهٔ ډېر خوښؤم، خو خُوار ته پته نهٔ وي، چې دا زما عادت جوړ شوے اؤ مودې تېرې شوې، خو د شعر د لارې ما په ټولنه کښې

هېڅ بدلون ؤنۀلیدۀ. البته دا بدلون راغلے، چې شاعران ورځ په ورځ ډېرېږي اؤ د شوره صېب خو بل هېڅ کار روزګار نشته، خو مخکتنه ده اؤ مشاعره ده. زړۀ مې ګړوېے شو نور خو پیر صېب! بیخي نۀ ورځم.

ملنګه! کله کله خو داسې خبره ؤکړې، لکۀ زړۀ کښې چې مې ناست ئې! پرون راسره مېراب ګل مېراب ټول مازیګرے د نورو شاعرانو په غیبت کښې تېر کړے. زما خیال وۀ، چې تازه غزل به راته ؤشرنګوي، خو کامپیي تړې کور پاتې شوې وه. وئېل ئې "پکار وه، چې زما کتاب اېوارډ ګټلے وۀ، خو زۀ چې د اېوارډ کمېټۍ نه خبر شوم، نو کسب ګر ورته راټول کړے شوي وو. نور خو څۀ کړې، چې په شل کتابونو کښې زما کتاب شلم مقام ګټلے. فکر مې کوۀ، چې کۀ دېرش کتابونه چاپ شوي وو، نو زما دا به دېرشم نمبر ؤ. ولې چې چاته د یویشت توپونو سلامي نۀ شم کولې اؤ په ادیب اؤ کسب ګر کښې توپیر کولے شم. نن سبا په ادب کښې پیري مریدي ده. لکه د سُقات په غونډه کښې چې خلک وائي، "ما تا ته دربخښلے اؤ تا ما ته رابخښلے". دغه ټولګي هم یؤ اؤ بل ته بخښل کوي. "جي سر" اؤ د هرې غونډې په مشرۍ نمانځلو واله خو به خُوښوي. کۀ بیا پُردو بېتونو له خپلې لکۍ ؤکړي، نو هم پیته اؤ تمغه د هغۀ حق جوړېږي.

هو کنه پیر صېب! زۀ ددې خلکو سره ډېر نزدې پاتې شوے یم. په بېتونو کښې خو وطنونه جوړوي، خو اکثر پخپلو وړو وړو پنګورو د چندې د پېسو د پټولو الزام لګوي. په تنظیمي ټاکنو کښې مې لیدلي، چې د یؤ بل مخونه ئې بدي شي. فلانے صدر شوے فلانے

سپکتر شو— فلانے ستېج سپکتر ښۀ نۀ دے، ما ته ئې وخت رانۀ کړو. ددې غونډې مشري به زۀ کؤم اؤ بيا مې ليدلي چې دومره بې اتفاقه دي، چې يؤ تنظيم لنګيړي اؤ بل زيږوي. اوس زمونږ په کلي کښې شل تنظيمونه دي. په يؤ بل پورې پيشاړې کوي اؤ قام ته خو د وحدت درسونه ورکوي، خو پخپلو کښې ليکوالان يؤ ځاے کېدے نۀ شي. زما يوه ورځ رخصتي وي، نو هک پک شم، چې اوس کوم يؤ له ورشم؟ د شوره صېب خو دې خداے مېلمه کوه مۀ! توبه! وړمبے خو به درته په کيسټو کښې د شوره صېب وئيلې شوې د سندرغاړو سندرې واؤروي — بيا د تېرې اونۍ ټول تازه کلامونه اؤ بيا په نورو پسې د تنقيد قېنچۍ را واخلي اؤ چې له ځايه ئې راپاځم، نو اوږده ساه واخلم. وايم چې دا مخ مې يؤ څو تؤدې تؤدې سپېړې ؤټڅؤم، چې له سره مې خپسه پاڅي.

ملنګه! کۀ زما منې، نو شاعر هسې هم نۀ ئې، د څۀ د پاره دې ځان په دې افت اړولے دے؟ چرته د خداے ذکر ولې نۀ کوې، چې اخرت دې ښايسته شي؟ خوشال خان ارماني له نړۍ تلے اؤ دا اوسنو شاعرانو د پاره د بابا نه په معذرت سره د هغۀ د بېت د يوې کرښې په يؤ ټکي کښې بدلون راولم، چې:

اتفاق د ليکوالانو پيدا نۀ شو

ګنې ما به................

پښتو
ډاټ نېټ
Pukhto.net

پیر صېب!
سلامونه
والیکوم سلام!
ملنګه! ولې یاره؟ نن خو خفه خفه ښکارې؟
پیر صېب! حېران خو تا ته یم. په ټول کلي کښې وير دے او ته بیخي هم د ژنې سیوري ته له سحره ناست ئې، غږ نهٔ کوې. په خدا ے، زړهٔ دې نهٔ دے، شین کانړے دے.
ملنګه! په دې کلي کښې اوښکو چغو، ځولو او سلګو معنې بائيللې دي، نو اوس ژړا چا ته او ولې وکړم؟
هو ملنګه!
انسان ــــ انسان ــــ هاهاهاهاهاها!!!

دا تکي له زېږونه اوږم او خلک ئې ما ته هم وائي، خو تراوسه مې ؤ نهٔ لیدهٔ.

پیر صیب!

را ته ښکاري، نن دې په نهره بنګ وهلي، نو اربونو انسانانو کښې درته یؤ هم انسان نهٔ ښکاري او نور خو پرېږده، ځان ته هم انسان نهٔ وائې؟

ملنګه! کوم انسانان؟

ما خو د دوه پښو او څلورو پښو ښاروي لیدلي، انسانان خو یؤ ځاے کښې هم نشته. دا تهٔ چې ورته انسانان وائې، دا خو د ښاروؤ نه هم ډېر ښاروي دي.

څنګه پیر صیب؟

ملنګه! ما بیزه او شرمخ یؤ ځاے لیدلي ګرځي. په دې کلي کښې پیشوګان، سپي، غواګانې، مېښې، چرګان او نور هم زمونږ سره ژوند کوي. په یؤ اخور کښې مېښه، بیزه او غوا له مودو یؤ ځاے خوراک کوي، خو دا مې کله هم نهٔ دي اوږېدلي، چې مېښې غوا ؤوژله یا غوا بیزه ؤوژله، خو چې اوږم، نو خلک وائي، فلاني وطن نن د یؤ خطرناک توغندي تجربه ؤکړه، فلاني وطن نن اېټمي بم جوړ کړو. فلاني نن فلانے ؤویشتو.

ملنګه! دا را ته ؤوایه، چې دا په نوم انسانان دا دومره خطرناکې وسلې د چا د وژلو د پاره جوړوي؟ او چې ښهٔ فکر پرې ؤکړم، نو اوسني انسان ته ښاروي وئېل هم د ښاروي توهین ګڼم. ځکه چې په ښاروؤ کښې کوم سرکشه وي، سر خوري، خو په اوسنو د نامې په

انسانانو کښې چې کوم ډېر مرګونه وکړي يا ډېره خطرناکه وسله وُلري، نو مهذب ګڼلے کيږي. د وطنونو اؤ خلکو يا ګوندونو نومونه درته نۀ اخلم ملنګه! ځکه چې تۀ پخپله افلاطون ئې.

راځه! راځه!

چې هنيږو، لتې وهو اؤ خرتيزې کوو.

کۀ خدا ے را باندې چرته مهربانه شي اؤ دوه پښې نورې راکړي، نو بيا خو به مو په پړدو شوتلو کښې په لوټه يا کانړي وُلي، خو په ټوپک اؤ بم به مو نۀ وژني.

ټوخه ټوخه ټوخه!!!!!

ټوخه ټوخه ټوخه!!!!!

pukhto.net

پیر صېب ښۀ چارې! بیا په کوم فکر کښې تلے ئې؟ مادې له وړایه ننداره کوله. بیخي خوځیدې نۀ. نو فکر مې ؤکړو، چې نن به څۀ نوې خبره درنه اورومرو واورم.
ملنګه! بازار ته ورغلے ؤم. غوښه مې اخستله، خو ټول بازار بند ؤ، نو له چا مې پوښتنه ؤکړه، چې نن بیا څۀ چل شوے؟ نو خلکو راته وئېل، نن هغه فلاني ګوند د هړتال اعلان کړے، نو ځکه ټول کاروبارونه تړلي دي.
نو پیر صیب! دا کومه ناشنا خبره خو نۀ ده؟ جمهوریت کښې خو دا حق هر چا ته شته، چې خپل غږ خلکو ته ؤرسوي اؤ د بیان ازادي خو د انسان منلے شوے حق دے.
ملنګه! کۀ ریښتیا خبره درته ؤکړم، نو د غرۀ بوټي د سړک په غاړه خوند نۀ کوي.
پیر صېب! پوهه نۀ شوم!
ملنګه! دا جمهوریت جمهوریت خو نن سبا بیخي فېشن جوړ شوے، خو اصل خبره داده، چې دا جمهوریت د نالوستو خلکو د پاره بیخي سم نظام نۀ دے، ځکه چې نالوستے سړے یا ښځه خو خپل حق نۀ پېژني، قامي شعور نۀ لري، نو داسې فرد به څۀ رنګ ښۀ اؤ ایماندار سړے ؤپېژني؟ بیا زمونږ په وطن کښې نزدې نزدې ټول ګوندونه څو سرمایه لرونکو کورنیو قبضه کړي، چې څوک ګټي، هم له دغو کورنیو وي اؤ کۀ بائیلي هم له دغو کورنیو بهر نۀ وي. نیمۀ پیړۍ کښې دې کورنیو په لوړو څوکیو خپل خپلوان افسران کښېنولي

ukhto.net

دي.د فوځ نه واخله تر بنکه اؤ تر پولسو د دوي خپل خلک ناست دي اؤ په غربي نړۍ کښې چې کوم نظام د اولس د ښېګړې د پاره جوړ شوے، هغه نظام د دې سيمې خلکو په خپل رنګ کښې رنګ کړے.بيا د پښتنو خو راته نوم مۀ اخله! د دوي سيمو ته خو چې کوم نظام يا نظريه هم راغلې، نو دوي داسې پخپل رنګ رنګ کړې، چې موشاده ئې ورله وْرانه کړې.فکر ؤکړه يؤ سياسي نظام کميونيزم له روسيا دلته څۀ خلکو د افغانستان د لارې په مونږ راتپلو، خو چې کومو خلکو دغه چغې ويستلې، هغوي هم د لباس اؤ د خپلو ګټو تر حده کميونيزم کميونيزم کولو.نور سودهم ته شين ؤ.د وسايلو د منصفانه وېش اؤ اشتراکيت تقريرونه به ډېر کېدل، خو حقيقت ئې دا ؤ، چې کوټونه به ئې اغوستي وو اؤ چا به پکې سْره چيرړۍ د واسکټ جېب کښې ايښې وه اؤ چې ښۀ فکر مې ورته هغه وختونو کښې کړے ؤ، نو دغه چغې وهونکي هم د ګوتو د شمېر د څو کسانو پرته دغه څو کورنۍ وې چې خانان اؤ ملکان ترې مخکښې وو نو نن دغه نظام په نورو ګڼو وطنونو کښې شته اؤ اولس ترې ګټې هم پورته کوي، خو مونږ دلته په شرمونو وشرموۀ اؤ هغه ورځو کښې دا يؤ فېشن جوړ شوے ؤ، چې چا به دوه ټکي د سياست زده کړي وو، نو ځان ته به ئې کميونسټ وئېلو.بيا ؤګوره، زمونږ قام پرستي هم دلته ځکه اولسي نۀ شوه، چې څۀ خو ورته هم دغه زړې تشې د نامې کميونسټې بلاګانې ورننوتې اؤ څۀ هم هغه خانان، ملکان اؤ نوابان د قامپالو په وړمبنو صفونو کښې ؤدريدل، له کومو چې اولس کرکه لري، خو لاس ئې پْرې نۀ بر کيږي، چې خانيانې اؤ نوابيانې ئې

ړنګې کړي، ځکه ما درته پورته ؤوئېل، چې واک کۀ کوم يۀ بائيلي اؤ کۀ ګټي د دوي له کورنيو بهر نۀ وي. پلار ورپسې ځوے، ورپسې نمسے، ورپسې کړوسے د سياسي ګوندونو مشران جوړيږي، نو دا څنګه قامپالي اؤ جمهوريت دے؟ داخو باچاهت دے ملنګه! جمهوريت کښې خو زۀ تۀ خان اؤ ملک يؤ شان يو، هېڅ توپير نۀ لرو . مودې ؤشوې چې دا ميراثيان په مونږ واک چلوي. پلار يا نيکۀ ئې کومه قامي ښېګړه کړې وي اؤ تر نمسو کړوسو هم هغه ښېګړه زوتوي اؤ بتان ئې په هرځاے کښې ورله نېغ کړي وي . دا حال يواځې زمونږ د سيمو نۀ، نزدې د ټولې ايشيا دے. هندوستان د نړۍ تر ټولو سټر جمهوريت يادېږي، خو هلته ؤګوره! يؤ ګاندهي مبارزه کړې وه اؤ بيا ئې ځامن، لونړه، نمسي، نږور اؤ کړوسي د نيکۀ نوم خرڅوي اؤ بيخي باچاهت ئې ترې جوړ کړے اؤ نيمه پېړۍ ئې واک له کوره نۀ وَځي. دغسې باچاخان مبارزه کړې وه. ورپسې ولي خان، بيګم نسيم ولي خان، اسفنديار اؤ بيا د دوي بچي به د واک د پاره ؤزيږيږي. دغسې صمد خان ورپسې محمود خان اؤ حامد خان اؤ دغسې بهټو ورپسې بېنظيره اؤ زرداري، اوس بلاول اؤ مفتي محمود ورپسې فضل رحمان اؤ عطاالرحمان اؤ بيا نواز شريف اؤ ورپسې شهباز شريف اؤ نور پسې لرې نۀ ځم. ملنګه! تۀ ټول پېژنې. نو اوس راته تۀ ؤوايه! دې ته جمهوريت وائي؟ دا مغربي سياسي نظام زمونږ د سيمې د خلکو د پاره موزون دے؟ ملنګه! دا خو د غربيانو د پاره ځکه ښۀ نظام دے، چې هغوي ټول سل په سله تعليم لري. سياسي ګوندونه ئې پخپله جمهوري دي اؤ مثال د

اوبامه واخله، چې تورپوستي افريقن څۀ رنګ په صدارتي څوکۍ ناست دي؟ نو زۀ ګورم، چې کله د ووټونو ورځې شي، نو دا جمهوريت خُوښي څۀ کانې کوي.نظرياتي کارکن خو هېڅ حيثيت نۀ لري اؤ سرمايه‌لرونکي د نن سياست کولے شي، چې څوک ډېر دولت لري، نو څوکۍ به ګټي.ځکه اولس خو دې څو کورنيو خوار ساتلے. د شپې ورپسې خپل ډنډه مار ور ؤليږي، په کوڅو کښې ګرځي اؤ دولت وېشي اؤ غريب سړے چې د دوه وخته ډوډۍ ته محتاج وي، زر اؤ پنځۀ سوه روپۍ ورکړي اؤ د ايمان د کمزورۍ مريضان تْرې په قران لاسونه کېږدي يا ورله د واک په اخيرنيو ورځو کښې کوڅه پخه کړي يا ورله کور کښې ټټۍ جوړه کړي اؤ بيا واؤرو چې فلانې خان ووټونه ؤګټل اؤ بيا پنځۀ کاله مزې کوي اؤ ريښتيا ملنګه! دا مې لا هېر وو، چې له دې نظامه د خلکو زړونه ماړۀ شوي وو اؤ نزدې وه، چې خلک به ووټونو ورکولو له هم نۀ تلل، نو مقتدرو قوتونو د عمران خان په شکل کښې دغه مايوسه کسان بيا دې نظام ته راولي. هغه سړے چې چا ترې طمع نۀ کؤله، د دغو قوتونو په مْرسته نن د لکونو خلکو جلسو ته ورناوې کوي اؤ له‌نورو لوبولے شوؤ ګوندونو نه ئې ورته زړې مهرې ؤشوکولې اؤ د دۀ سره ئې تل کړې اؤ دا به دربم يؤ داسې قوت شي، چې حکومتونه چې کله دغه پټ لاسونه رنګول يا جوړول غواړي، نو رنګوي اؤ جوړوي به ئې.دغسې ددې غربي لارې په افغانستان کښې هم کرزے ناست دے، چې کوم اولسي رول ئې له دې پخوا نۀ ؤ، خو د جمهوريت د لارې په اولس مسلط شو.د دۀ نه چې کله خپل غرضونه پوره کړي، نو بل به ؤلټوي

اؤ افغانانو ته به ئې د میډیا د لارې معرفي کړي اؤ په هرکلي اؤ ښار کښې به په یوه میاشت کښې سُتر سُتر عکسونه په دېوالونو ؤتپلي شي اؤ ووټونه به ؤګټي اؤ بیا اولس به شرمیږي اؤ هغه به واکدار شي. نو ملنګه !کوم ایشیائي وطن درته یاد کړم؟ بنګالیان ورشه ؤګوره! په پړدو وطنونو کښې کوڅې جارو کوي اؤ حسینه واجد اؤ خالده ضیا په وار وار واک ته رسیږي اؤ په سړو سپینو کښې لوبې کوي. د هندي جمهوریت عکسونه په خلیجي وطنونو کښې لید ے شئ، چې هندیان کلونه کلونه مسافر وي اؤ د غریبۍ له کرښې ښکته ژوند کوي. نو ګرانه ملنګه! زما پخپله هم جمهوریت خوښ د ے، خو داسې نۀ. د شندې په ؤنه کښې منې کتل نۀ دي پکار. ترڅو چې ایشیائي اولسونه سل په سله تعلیم ؤنۀ کړي اؤ قامي شعور پکښې رانۀ شي، دا نظام دلته کامیابېد ے نۀ شي اؤ دغسې اوسني د څو کورنیو واکداران ځکه نۀ غواړي، چې بیا به دوي واک ؤبائیلي. نو ملنګه! هړتال د اولس اقتصادي مرګ د ے اؤ د واکدارانو سیاسي ژوند. دغه د نن اقتصادي زیان یوائې د اولس ؤشو، ځکه چې واکداران خو نۀ غوښه خرڅوي، نۀ ډوډۍ په تنور کښې پخوي، نۀ په ریړه باتینګڼ خرڅوي، نۀ کباب پخوي اؤ نۀ ریړې اؤ سرونه چا له سکولې. نو تۀ راته ؤوایه، چې زما ننني فکر ناسم خو نۀ د ے؟

یاره پیر صیب! زۀ به درته خپل نظر سبا وړاندې کړم، اوس مازیګر ے د ے اؤ ملګرو چیلم تود کړ ے، لاړم درنه. البته څۀ خبرې دې بیخي زما د زړۀ ؤکړې.

پیر صېب ښۀ چارې! څنګۀ ئې؟
یاره ملنګه! نن ناروغه ؤم.هغه حکیم صېب له ورغلې ؤم، خو لکه له سحره چې بل څوک نۀ وو ورغلي.سم ئې حلال کړم.
پیر صېب! څۀ ناروغي دې ده، چې د حکیم صېب کوشتې ته دې اړو مرو حاجت پېښ شو؟
ملنګه! زۀ نۀ ؤم ناروغه، خو د شډل کاکا سره ورغلے ؤم . هغه ټوخېدو، نو ما ته ئې وئېل، چې راځه! د حکیم صېب د ټوخي بوتل راخلو.زۀ بهر ناست ؤم، چې حکیم صېب راته نېغ نېغ ؤکتل اؤ بیا ئې را له سترګې ؤکتلې اؤ وې وئېل،
اے پیره !ستاسو خو دا رنګ هم نن ډېر زیړ دے اؤ سترګې دې هم زیړې دي.دا درباندې څۀ اپت راغلے؟ نو زۀ هم شک واخستم اؤ له جېبه مې د نسوارو ډبے راواخستو اؤ شیشه کښې مې خپلو سترګو ته ؤکتل، نو ما ته هم زیړې ښکاره شوې.نو حکیم صېب ته مې وئېل، چې شډل پرېږده! زما علاج ورمبے ؤکړه.په کوناټو ئې راته دوه سټنې (پیچکارۍ) ؤکړې اؤ کوشتې ئې راکړې چې د شیودو د ګوټ سره ئې تېروه اؤ بیا چې د پېسو پوښتنه مې ترې ؤکړه، نو پنځۀ سوه روپۍ ئې غوښتلې.نو ښه وه، چې پرون مې خپلې دوه چرګې خرڅې کړې وې، ګنې حیا مې ګیا کېدله.
اوهو پیر صېب!

نو سترګې خو دې بيخي سمې دي ـ سحر کښې دې بنګ نهٔ وو وهلي، نو سترګې دې سرې نهٔ وې، ګنې زهٔ خو له مودو ستا سره کښېنم ـ بيخي د سترګو رنګ دې دغسې وي ـ
ملنګه! بس بېګا مې خوب متره واخله! بيخي لپنګ شوم اؤ دا لا څهٔ کوې، هغه شکي پېژنې؟ هغه ميرمامد؟ هغهٔ خو د حکيم صېب له دوکانه څوځيرې نهٔ ـ پرون ئې ماته وئېل، چې زهٔ تشې موتيازې وُکړم، نو څڼ پړې ډېر جوړيږي، نو حکيم صېب را له کوشته راکړه، خو وئېل ئې راته چې په لوړ يا دنګ ځائے موتيازو ته مهٔ کښېنه! اؤ اوبهٔ ډېرې څښکه! ، نو د هغهٔ په خبرو مې عمل کړے اؤ اوس بيخي ښهٔ يم ـ نو ما ورته وئېل، چې ميرمامده! په تنهاکو وريت شې! نو له لوړه ځايه چې موتيازې کوې، نو څڼ به پړې ارومرو ډېر وي، نو هسې دې ځان په کوشتو غرق کړو؟
هې هې پير صېب!
ښهٔ هوښيار ئې، خو د نورو خلکو د پاره هوښيار ئې اؤ ځان له بيخي له ميرمامده هم ساده ئې ـ هن هن! پنځهٔ سوه روپۍ؟ چې چرته دې د کور ودانې د مخې حال ؤ نهٔ وائې، ګنې بيا دې کورته نهٔ پرېږدي ـ
نه ملنګه! هغې ته خو هم هغه وخت خبر شوے ؤ ، چې کور ته ورغلم نو د حکيم صېب د دوکان ځانګړے ورېم را نه پورته کېدهٔ ـ خو نور مې هيڅ هم نهٔ شي کولے، ځکه چې چرګې مې د کور نهٔ وې خرڅې کړې ـ هغه غرسه ګل مامد بېګا راغلي وو، نو ځانبتونه مې ورته جوړ کړي وو ـ
پير صېب! ګل مامد خو ستا زوړ ګاک دے، د خوار خو دې څرمن

ویستله.
هو کنه ملنګه! بچي ئې نۀ کیږي، نو حکیمانو اؤ ډاکټرانو نه ستړے دے. اوس ورله زۀ کله څانښتونه جوړؤم اؤ کله ورله چیني (شکرې) دمؤم اؤ سورتونه ورته ښایم، چې قول هو الحمدو وایه اؤ چیني سحر په نهره اؤ څانښت ماښام په مړه ګېډه خوره. نو پرون ئې را لره چرګې راوړې وې، خو د وړو مور لیدلې نۀ وې.
پیر صېب! هاهاهاهاها! ماخو درته وئیلي دي، چې د کوهي ختې په کوهي لګي. تۀ ګل مامد لوټ کوه اؤ حکیم صېب به تا لوټ کوي اؤ دا لوټ مار زمونږ د چاپېریال پېژند ګلو جوړه شوې. مونږ ملنګان خو نۀ قلنګ منو نۀ تاوان اؤ چې بیخي د کټ د پڼوتو شوے نۀ یم، نو حکیم صېب له نۀ ورځم اؤ چې ورشم، نو ما ته ګیا هم نۀ اچوي، ځکه چې زۀ مفت علاج غواړم، نو د لرې ځایه خپل بالکي ته وائي، "هلکه فلاني! ملنګ ته دارو ورکړه!" اؤ بالکے ئې را له دوائي داسې په خلۀ کښې را واړوي، لکه سړے چې سخي له غانښونه ګوري اؤ خدا ے مې ښۀ کوي. خو تۀ نورو له دوکه ورکوې نو پخپله هم ښۀ هوښیار ئې، خو تیندک خورې. لاړم درنه مازیګر شو. ملګرو به چیلم تود کړے وي اؤ د نسوارو دا ډبے چې ترڅو لرې اؤ شیشه کښې سترګې ځارې، نو حکیم صېب ته به ارومرو ورځې.

ملنګه پخېر!

خېرونه پیر صیب! نن سبا غلے غلے ئې، خېر خو دے؟

یاره ملنګه! په تېره شوې میاشت کښې راباندې د شاعرۍ خپسه ناسته وه. بلها بېتونه مې لیکلي وو، خو پرون ډکي شنۀ وو اؤ نغري کښې اور نۀ بلېدۀ، نو کور ودانې خو مې تور تکے نۀ دے لوستے، نو چې خبرېدم، نو ټول ئې سېزلي وو. سم ورته قار ؤم، خو له وېرې مې څۀ نۀ وئېل.

پیر صیب! وېره؟

هو کنه ملنګه! ښځه مې را ته هر وخت قارېږي. وایي غرۀ ته لاړ شه! ګېډے راؤړه! خو زما د زړۀ زور اوس نشته، نو ځکه وېرېږم، چې هسې نۀ حیا مې ګیا کړي اؤ د بچو د مخې مې باد نۀ کړي.

هاهاها پیر صیب! نورو خلکو ته قیمتي مشورې ورکوې اؤ کور کښې دې دغه حال دے؟

ملنګه! چا ته مهٔ وايه! له ښځې هر سړے وېرېږي، خو څوک حال وائي اؤ څوک نهٔ وائي ـ تا ته ځکه مالومات نشته، چې ميرات خڅسيه! لونړ ئې ـ له دُرستې ئې ماتوې د غوړو اؤ صابن له نرخه خبر نهٔ ئې ـ

پير صېب! مور مې را ته يوه ښکلې جينۍ خوښه کړې اؤ له خبره کال نيم کښې مې باري واخله! خو ستا دا خبرې چې واؤرم، نو هک پک شم اؤ فکر کؤم، چې په شرمونو ؤ نهٔ شرمېږم ـ زهٔ خو همدغه شے يم، نيمه ورځ ستا سره د ؤنې سيورې ته ناست يم اؤ مازيګري کښې د پولې په سر د چرسيانو بنډار ته ورځم ـ ماسخوتني کښې د موستان کاکا رباب ته پروت يم اؤ اکثر هم د شپې ناوخته را ته څوک د کور ور نهٔ خلاصوي، نو په دېوال وردانګم اؤ بيا سبا په لس يوؤلس بجې راپاڅم اؤ ژوند همدغسې دا څو کلونه ؤشو، چې تېرېږي ـ

ukhto.net

ملنګه! ملنګه! رب دې هوښيار کړه! زهٔ خو دغه شوے يم، هيڅ نهٔ شم کولے، نو تهٔ خو لا ځوان ئې ـ چرته څهٔ روزګار کوه!

پير صېب! څهٔ روزګار؟

هو کنه ملنګه! زما نوې فتوه دې اؤرېدلې نهٔ ده؟

نه کنه پير صېب! زر زر ئې را ته ارشاد کړه!

ملنګه! فتوه داده، چې د غريبانو د پاره مې غلا بيخي حلاله اؤ روا ګرځولې ده ـ

اوهو پير صېب! هغه څنګه؟

ملنګه! ګوره خدا ے پاک عادل باچا دے ـ د نړۍ دا وسايل ئې داسې هم بې ترتيبه نهٔ دي ويشلي ـ لکه زمونږ د خان لالا چې دا ټول کلے اؤ

دوتر اؤ غْرونه ملکيت دي اؤ مونږ دې کلې کښې زاړۀ شو، خو غْوا له تْرې بوس هم په سوال غواړو. نو بيګا مې د شپې هغه پورې غاړه بوساړه کښې خْرپ کړے اؤ غْوا را ته سمه دعا کړې ده اؤ ګْورې نۀ چې دا غټان زمونږ وينې څښي. دا جرنيلان وکيلان ډاکټران بابوګان لېږمېنان ټول زمونږ په مالونو ښاربۀ شوي، نو زما کۀ منې، چې په څۀ دې لاس برکيږي، نو اسره پْرې مۀ کوه. د دوي دې خدا ے ببخ ؤباسي. اوس مې دغه د ے، د خان لالا پټي کښې د ورځې غټ غټ شوتل صحي کړل اؤ د ماښام تياره کښې به ورسره پوهه شم. نو زما نوې فتوه دې خْوښه شوه که نۀ؟

پير صېب! خبرې خو دې بدې ؤنۀ کړې، خو پام به کول غواړې. هسې نۀ چې د خان لالا هغه ځورب ديقان دې هډوکي مات نۀ کړي. بيا به دې په کومو باباګانو ګرځوم؟

ملنګه ملنګه! وېرول مۀ کوه! دا خلک پوهه کول غواړي، چې خپل حقونه ؤپيژني اؤ هره ممکنه پټه اؤ ښکاره طريقه پکار راولي. دا هرڅۀ زمونږ دي، خو مونږ دله ګان شوي يو. زما نيم عمر د دې ؤنې سيورې ته تېر شو. خْوځېږم نۀ، خو چې نمر راباندې راشي، نو سيورې ته په کوناټو ورؤخوئېږم اؤ تا دې رب په تماکو وريت کړي، نيمه ورځ زما سره دغه سيورے پيتاوے کوي. مازيګرې کښې بنګ وهې اؤ د شپې د رباب په سازونو کښې سوزونه لټوې، نو څنګه به خپل حقونه ګټو؟ ځلمو ته خو شْتمنو واکدارانو زمونږ په سيمو کښې چرس اؤ پوډر ارزان کړي اؤ هرځا ے ترلاسه کيږي اؤ واکداران په مزو سر دي، ښۀ په ارام ئې زمونږ په حقونو خېټې

اچولې دي اؤ مونږ ئې تماشه کوو. پرون مې يوه ورځپاڼه کښې ؤلوستل، چې فلاني جرنېل دومره کروړه روپۍ د قامي خزانې نه غْلا کړې وې اؤ بيا ښۀ د قلارې امريکې ته په جاز کښې تلے اؤ هلته پْرې مزې کوي. نور خو پْريږده! زمونږ د چم هغه مولاي صېب تېرو ووتونو کښې ګټه کړې وه. ستا نه پته خبره نۀده، چې يؤ زوړ سهراب سېکل ورسره ؤ، خو اوس اوس ورشه! ورته ګوره! چې دومره خوشبويانې ئې په ځان مږلې وي، چې سم د پير بابا مزار را ته راياد کړي، چې په څْوا ئې ورشم اؤ داسې پجيرو جيپ ورسره دے، چې حېران به شې اؤ چې د جمعې په ورځ مسئلې پېل کړي، نو دا حلال دي اؤ دا حرام دي، دا کوئ دا مۀ کوئ، غْوږونه ئې را ته کاڼۀ کړل، خو کۀ اوس ورپسې ورشم اؤ پوښتنه ترې ؤکړم، چې مولاي صېب! تا په دوه درې کلونو کښې دا دومره دولت له کومې څْوا راؤړو، نو د وهلو غل به مې مالوم نۀوي. دغه بل ناظمګے ؤګوره! چې مور به ئې د خان لالا کره لوښي وينځل اؤ نن توبه توبه! کونې ته وائې، مۀ راځه راپسې، بْوي درنه ځي. غْوږ ته ئې داسې موبايل نيولے وي، چې تۀ به وائې، د فرعون باچائي ورسره ده اؤ ځْوي ئې د ښار په مشهور سکول کښې داخل کړے اؤ بل مشر ځْوي ئې امريکې ته لْوړو زدکړو له تلے دے، نو ملنګه! دا خلک ما اؤ تا لوبوي اؤ پخپله مزې کوي. نو اوس را ته تۀ ؤوايه! دې خلکو دا مالونه له اسمانه راوړي؟ خو زما اؤ ستا مال دے کنه.



Pukhto.net

# څو سرې

# ارسطو 322-384ق.م

انسانان مړهٔ شي، وړک شي، خو فکرونه ئې نهٔ مري ـ د ادب اؤ فلسفې سره تړلے يؤ نوم د يونان د ارسطو هم دے-د ايتهنز سره نزدې د استاګيرا په سيمه د عيسا عليه السلام د زېږون نه 384 کلونه اګاهو زېږېدلے ؤ-د ارسطو پلار د مقدونيه د باچا شخصي طبيب ؤ-د پلار په غوښتنه ارسطو هم د طب زدکړې ؤکړې اؤ د خپل پلار سره به په درملو جوړولو کښې بوخت ؤ-د اتلس کلونو په عمر کښې د فلسفې د زدکړې د پاره ايتهنز ته لاړ اؤ هلته ئې اتلس کلونه د افلاطون شاګردي ؤکړه-افلاطون د دهٔ ذهانت ته هک پک ؤ-ارسطو د کتابونو لوستلو ډېر شوقي ؤ-په هغه وختونو کښې د چاپ اثارو موندل هم ګران کار ؤ، خو ارسطو بيا هم دومره ګڼ کتابونه راټول کړي وو، چې افلاطون به د دهٔ کور ته "د لوستونکي کور" وئېلو-د باچا فليپ ځوي سکندراعظم چې ديارلس کلن شو، نو پلار ئې ارسطو د سکندر اعظم استاد جوړ کړو-کله چې باچا فليپ مړ شو اؤ سکندراعظم باچا شو، نو خپل استاد ارسطو ته ئې ډېر درناوے اؤ عزت ورکړو-ارسطو د سکند اعظم په کومک يؤ ښوونځاے پرانستهٔ، چې(LYCEUM) نومېدلو-په دې ښوونځاي کښې به د فلسفې اؤ ساينس څېړنې کېدلې اؤ ګڼ شمير زده کوونکي ئې لرل-په 323 ق.م کښې چې کله سکندراعظم په تنکۍ ځوانۍ کښې مړ شو، نو چاپېره سرکشيانې ؤشوې اؤ ايتهنز

خپلواکه شو اؤ حالات داسې کړکیچن شول، چې ارسطو هم له دغه ځایه کډه ؤکړله اؤ یؤ کال وروستو 322 ق.م کښې مړ شو۔
ارسطو په سلګونه کتابونه لیکلي وو، چې ګڼ شمېر ئې نۀ دي موندلے شوي۔ ځنې پوهان ددۀ د کتابونو شمېره 400 ښائي اؤ ځنې ئې د زرو نه ډېر، خو لنډه دا چې ارسطو چې څۀ لیکلي وو، نو مونږ ته په بشپړه توګه نۀ دي پاتې، خو د منطقساینس فلسفې اخلاقو اؤ سیاست د ځینو اثارو سره سره فن خطابت اؤ بوطیقا زمونږ سره دي۔ د فلسفې ساینس منطق اؤ سیاست په حقله د ارسطو څېړنې اؤ لارښودنې دوه زره کلنې شوې، خو اوس ئې هم ارزښت بائیللے نۀ دے۔
بوطیقا 322-335 ق.م د ارسطو هاغه تصنیف دے، چې نړیوال شهرت ئې د نن ورځې پورې شته، خو سمه مالومه نۀ ده، چې بوطیقا د اصل تصنیف خلاصه ده، کۀ ټول په ټوله چاپ شوے۔ بوطیقا په یونانی ژبه په1548 ء کښې چاپ شوے، خو له دغه چاپه اګاهو په1498 ء کښې "جیورجیولا" د عربی نه لاطینی ژبې ته ژباړلے ؤ۔ دغه وخت د ارسطو د مړینې اتلس سوه کلونه شوي وو۔ یورپیان له یوناني څېړنو اؤ اثارو له عربو له لاسه خبر شوي اؤ دوه زره کلونه یورپ د یوناني څېړنو اؤ اثارو هډو خبر نۀ وو۔ د بوطیقا وړمبے تنقیدي ایډیشن "روبورټیلي "په1548 ء ترتیب اؤ چاپ کړي وو۔ په بوطیقا کښې د اظهار هغه یؤوالے (وحدت) نۀ تر سترګو کیږي، کوم چې د ارسطو نورې ټولګې لري، خو د شعر د فن په حقله پکښې د ارسطو بشپړه نظریه شتون لري اؤ د خپل استاد افلاطون د شعر په حقله دا نظریه

pukhto.net

ئې باطله ثابته کړې، چې شاعران ئې له سوچه جمهوري نظامه بهر کړي وو اؤ د ډرامې په حقله د افلاطون دا نظریه ئې هم ناسمه ثابته کړې، چې ګنې ډرامه فکري یا ذهني ګډوډ ے منځ ته راؤړي اؤ ذهن کمزورے کوي اؤ ارسطو دا ګڼله چې شعر اؤ ډرامه د انساني ذهن د پاره ګټور دي۔ بوطیقا کښې په نقل، فطرت اؤ د شاعرۍ په ډولونو څېړنه شوې ۔ ارسطو وائي، چې د حواسو د نړۍ هرڅیز د مثال (بېلګو) د نړۍ نقل د ے۔ د ارسطو په اند انسان د حواسو له کبله د یؤ څیز ادراک کوي۔ په هر څیز کښې دننه یؤ مثالي (بېلګئیز ) هئیت شْتون لري، خو پخپله له دغه څیزه د دغه هئیت نیمګړ ے اظهار کیږي اؤ دغۀ هئیت د فنکار په ذهن په حسي بڼه اغېز کوي اؤ فنکار د دغې د اظهار هڅې کوي ۔ د حواسو له کبله چې کومه نړۍ احساسیږي، هغه د سوچه حقیقت نیمګړ ے مظاهر د ے۔ د ارسطو د "شاعرانۀ نقل "نظریه شاعر د فلسفیانو په صف کښې ؤدروي اؤ د دې نظرئې په زور ارسطو ثابته کړې، چې نقل یؤ تخلیقي عمل دي۔ پېړۍ تېرې شوې، خو چا هم د ارسطو دا نظریه په څېړنیزه توګه ناسمه ثابته نۀ کړې شوه، ځکه چې په شا ئې د یؤ سْتر فلسیوف ارسطو علمي دلائل شْتون لري ۔

سرچینه:خپله ګډه وډه اؤ بې ترتیبه مطالعه

ukhtc.net

## د نړۍ وړومبې فلسفي تهېليس (Thales)

د روم د درياب په غاړه يو ښار مايليتېس کښې ئې ژوند کوۀ. د هغۀ د نسل په حقله پوهان يو خُلۀ نۀ دي. ځنې پوهان وائي، چې يوناني وۀ اؤ ګڼ شمېر په دې نظر دي، چې پکښې نوموړے تاريخ پوهه (هيروډوټس) هم په دې نظر دے، چې تهېليس د ايشيا ؤ.
تهېليس په 624ق.م سره سم زېږېدلے ؤ. هغۀ چې په کوم عصر کښې ژوند کوۀ، دغه عصر کښې علم اؤ پوهه د ايشيا نه غرب ته منتقل کېدونکې وه. پخواني اؤ سْتر مصري تهذيب ساه ورکؤله اؤ د ميسوپوټېيما تهذيب د ايرانيانو په لاسونو ړنګېدونکے ؤ.
ځانګړې پېښه:
ټول نړيوال تاريخ پوهان اؤ څېړونکي په دې خبره يو خُلۀ دي، چې 28مئ 585 ق.م د هاغه وخت د نړۍ د دوه سْترو طاقتونو(ليډيا اؤ ميډيا) تر منځه خونړے جنګ وۀ اؤ دغه جنګ د تېرو پنځلس کلونو نه دوام لرلو، چې په زرګونو انسانان پکښې مړۀ اؤ ژوبل شوے ؤ. جنګ ښۀ تود ؤ، چې يو ناشنا کار ؤشو. د دغو دواړو خواؤ

ګڼ شمېر خلک د نمر عبادت کوونکي وو اؤ په دغه ورځ ناګهانه نمر تندر ؤنیوهٔ اؤ خلکو په رڼا ورځ په اسمان کښې سُتوري ؤلیدل اؤ ټوله ورځ همدغسې لکه د شپې تېره شوه. خلکو چې خپل معبود نمر په دغه حال ؤلیدهٔ، نو ټولو خپل غشي کمانونه اؤ زُغرې ګوزار کړې اؤ له جنګه ئې توبه ؤکړه اؤ خپل خدا ے ته په سجده پرېوتل. سبا چې کله نمر را پورته شو، نو هېچا هم جنګ نهٔ غوښتهٔ. د دواړو خواؤ باچاهان چې پوهه شول، چې اوس نور جنګ نهٔ کیږي، نو روغه ئې ؤکړه اؤ له جنګه لاس په سر شول اؤ د امن ژوند ته ئې غاړه کېښوده.

یاده دې وي، چې دا کومه له ځانه لیکلې کیسه نهٔ ده اؤ یاد شوي دواړه ریاستونه لیډیا اؤ میډیا د اوسني ترکي اؤ ایران برخې وې. یؤ څوا دا پېښه د دواړو وطنونو د پاره د امن زېرے شو، خو بلخوا خلکو یؤ سړے راګېر کړےؤ، د کوم نامه چې تهېلیس وه. دې سړي د نمر د تندر نیولو دا پیش ګوئي ډېره موده مخکښې کړې وه اؤ یاده دې وي، چې د دغه نېټې سره سم د نمر د تندر نیولو سپیناوے ناسا اداري هم کړے دے. تهېلیس له دغې وروستو ډېر مشهور شو.

د ستورو علم (علم نجوم) د نړۍ د پخوانو علمونو څخه دے. د بابل اؤ مصر خلکو زرګونه کلونه اګاهو دا علم لرلو. دا علم له هغه وخته د انسان سره ملګرے دے، چې د شپې په سفرونو کښې به له ستورو ګټې اخستې کېدلې اؤ په زرګونو کلونو کښې انسان ته مالومه شوې وه، چې په ستورو کښې ځنې سُتوري داسې هم شته، چې د زمکنو اړخونو اندازه تْرې په اسانه توګه لګېدې شي. د بابل اؤ

ایران خلک به د د نګو دنګو عبادت ځایونو په منارو اؤ ګنبدونو روغه روغه شپه ناست وو اؤ د ستورو څېړنې اؤ ننداري به ئې کؤلې ـ بیا ئې ګنې (زایچې) نقشې جوړې کړې اؤ په بیا بېلو موسمونو کښې ئې د ستورو ځایونه درک کړل اؤ په دې علم کښې ئې دومره پرمختګ ؤکړو، چې کله به سپوږمۍ یا نمر تندر نیوۀ، نو دوي ته به له وړاندې نه مالومات کېدل اؤ پېښګویانې به ئې سمې وې اؤ کومو پوهانو چې به سمه پېښګوئي کؤله، نو خلکو به ورته احترام لرلو، منښتې اؤ قربانۍ به ئې ورته کولې.دا هم یؤ سائنسي علم وۀ، خو اډانۀ ئې یواځې په ژوره اؤ سمه مشاهده وه.

د نړۍ د وړمبي فلسفي اؤ سائنسدان خو نۀ کوم لیک مونږ ته پاتې شوے، نۀ کومه ټولګه. خو ارسطو د دۀ په حقله خپل د سیاسیاتو کتاب کښې یادؤنه کړې اؤ یوه پېښه ئې په دې ډول لیکلې، چې تهېلیس د موسمونو په حقله دومره پېشګي مالومات لرل اؤ باوري وۀ پرې، چې د مایلټس په ښار کښې د خونۀ د تېلو(زیتون) د کارخانې وې، خو دغه کال د زېتونو د نیشتون له کبله بندې پرتې وې ـ تهېلیس ته د خپل مهارت اؤ پوهې له کبله مالومه شوه، چې راتلونکي کال کښې به زېتون ډېر کیږي، نو دغه ټولې کارخانې ئې په ګانۀ واخستې ـ کله چې ګرمي شوه اؤ د زېتونو د څنډلو وخت شو، نو د دۀ موسمي پېشګوئي بیخي سمه وه اؤ دغه کال ئې ډېر دولت ؤګټلو. تهېلیس خلکو ته ؤوئېل، چې زۀ د پېسو ګټلو شوقي نۀ یم، نۀ سرمایه دار جوړېدل غواړم، خو تاسو ته مې ښودل، چې پوهه اؤ هنر اؤ څېړنه څومره لاس ته راؤړنې لري.

تهېليس په نړۍ کښې وړومبے فلسفي اؤ ساينس پوهـ ګڼلے شي اؤ د دې سره سره هغه د فزکس، جيومېټرۍ اؤ رياضۍ وړومبے جوړوونکي هم وۀ۔ جيومېټرۍ کښې خو مصريان له پخوا راهسې ماهران وو، خو د هغۀ عصر کښې ئې د جيومېټرۍ کوم کوټلے اصول اؤ قاعدې نۀ لرلې۔ هغۀ په ساينسي بڼه د جيومېټرۍ اصول اؤ قاعدې راغونډې کړې وې، چې وروستو بيا (اقليدس) ښکاره کړې اؤ نن هم ترې ټوله نړۍ ګټه اخلي۔
تهېليس هغه وړمبس فلسيوف اؤ ساينسدان ګڼلے کيږي، چې په وړومبي ځل ئې د دې نړۍ په وجود کښې راتلل څېړلي، چې د تهېليس نه مخکښې ئې ادانه په پخوانو اسطورو اؤ وهمونو وه۔ د هغۀ دا نظريه کۀ ټول په ټوله د منلو وړ نۀ ده، چې نړۍ له اوبو په وجود کښې راغلې، خو دا کمال ئې د منلو دے، چې د نړۍ په وجود کښې راتلل ئې د وهمونو اؤ دېوتاګانو له حصاره بهر کړل اؤ خبره ئې په ساينسي بنياد کښۀله۔
د تهېليس شاګرد ارشيد انامينډر پکښې وړمبے څېړونکے ؤ، چې د ډارون نه ئې دوه زره کلونه اګاهو د ارتقاء نظريه رامخې ته کړې وه اؤ دليل ئې دا ؤ، چې د انسان بچي د زېږون سره سم لکه د نورو حيواناتو ځان ته خوراک نۀ شي لټولے اؤ د مور د پيو د څښلو موده ئې هم ډېره اوږده وي۔ له دې کبله کۀ انسان له (پيل) شروع دغسې وے، نو ژوندے به نۀ ؤ پاتې، نو ځکه انسان د حيواناتو پرمختللے شکل دے۔
وريسې انکسيمينس نظريه لرله، چې د کاينات اصول مادي دي، نو

ځکه کائنات له هوا جوړ دي ـ بيا د هريکليس نظريه دا وه، چې کائنات له اوره جوړ شوے اؤ بيا د ايمپيډېکلس نظريه چې د کائنات جوړښت ئې د څلورو عناصرو "اور، اوبۀ، خاورۀ، هوا" ؤګڼلو ـ مسلمانانو صوفيانو کښې دا نظريه مشهوره اؤ د منلو وړ شوه ـ

تهېليس په هغه وختونو کښې د سيمئيزو ګډوډيو اؤ د ښمنيو د طبقاتي وېش په حقله هم نظر وړاندې کړے ؤ، خو اولسي بڼه ئې خپله نۀ کړه اؤ د ژوند په اخيرى برخه کښې ورته اولس ډېر درناوے ؤکړو ـ د سټر فلسيوف اؤ حکيم خطابونه ئې ورکړل اؤ پخوانو يوناني پوهانو له سقراطه اګاهو د لومړنيو اووۀ پوهانو د سر سړے ؤشمېرو ـ د تهېليس ګڼې وېناوې هم شته، لکه چا ترې پوښتنه ؤکړه چې انسان څۀ رنګ امن، سکون اؤ انصاف ژوند ته راؤړے شي؟ نو ځواب ئې دا ؤ، چې مونږ ټول هغه کارونه پرېږدو چې په نورو ئې الزام لګوو ـ چا ترې پوښتنه ؤکړه چې ګران کار کوم يؤ دے؟ نو ځواب ئې وۀ، "د ځان پېژندل" اؤ د ټولو اسان کار بل ته مشوره ورکول دي ـ

# لیو ټالسټاي ـــ روسي ادیب

ټالسټاي په روسیا کښې په 1828 ء کښې زېږیدلے ؤ. په 1847 ء کښې ئې زدکړې په نیمه کښې پرېښودې اؤ سماجي لوستنه اؤ د کروندګرو د ښېګړو کارونو کښې بوخت شو. په 1851 ء کښې په ملي فوځ کښې شامل شو اؤ د 1854 ء د ترکیانو په خلاف په جنګ کښې شریک شو. په 1855 ء کښې له فوځي ژونده ئې زړۀ ؤټکېدۀ اؤ پیټرس برګ ته لاړو اؤ هلته ئې خپل وړمبے ناول "وړوکوالے" ؤلیکلو، خو نړیوال شهرت ورته د جنګ په حقله په ناول "سیواتوبول" په برخه شو. په 1861 ء کښې د لودیځې اروپا له سېله راستون شو، وادۀ ئې ؤکړو اؤ 1865 ء نه تر 1869 ء پورې خپل بل مشهور ناول "وار اېنډ پیس" (جنګ اؤ امن) ؤلیکلو اؤ په 1878 ء کښې ئې "ایناکرینا" ناول ؤلیکلو. له دغې وروستو ئې فکري اؤ ذهني سکون ورک شو اؤ نوي فکرونه ئې ذهن ته راغلل، چې د عیسائي مذهبه ئې زړۀ پکښې ؤټکېدلو اؤ د عیسائیت په حقله ئې خپله نوې نظریه وړاندې کړه. په 1869 ء کښې ئې د "اعتراف" په نوم خپل نظریات اولس ته څرګند کړل، چې د شخصي ملکیت تصور ئې ناسم ؤګڼلو اؤ د انسان د لاسه ئې د انسان سپکاوے اؤ تذلیل ؤغندل. ټالسټایي ته وړومبے د خپلې نظرئې له امله خپل کور سور اور شو.

په 1898 ء کښې د فن په حقله خپل مشهور کتاب "فن څۀ ته وائي؟" ؤلیکلو اؤ د خپل ژوند اخیري کلونه ئې د خپلې نظرئې له امله د

خپلوانو اؤ خپلې ښځې د لاسه په بد حال تېر کړل. په 1910 ء کښې د کوره مرور شولو اؤ هم په دغه کال په اتم نومبر1910 ء کښې په خپل پتې کښې مړ ؤموندے شۀ.

د ټالسټاي نوم به د خپلو شاهکارو ناولونو "وار اینډ پیس" اؤ "ایناکرینا" له کبله تل ژوندے وي، خو د فن په حقله د هغۀ اخیري کتاب "فن څۀ ته وائي؟" هاغه تصنیف دے، چې غربي تنقیدي فکر ئې ؤلړزوۀ. ګڼو غربي نقادانو د ټالسټاي فني نظریه ځکه ناسمه ګڼله، چې ټالسټاي غربي ادبي اتلان شېکسپئیر، نطشے اؤ ګوئټے باندې نیوکې کړې وې اؤ د دوي په نظریاتو ئې تنقید کړے ؤ.

"فن څۀ ته وائي؟" په 1898 ء کښې چاپ په وړمبي ځل په انګلیسي کښې له دې کبله چاپ شوے ؤ، چې په روسي ژبه کښې هغه ګڼ بندېزونه وو. ټالسټاي د فن په حقله خپل نظریات داسې وړاندې کوي، "د فن اصل کار داد ے، چې د احساس په داسې بڼه اظهار ؤشي، چې اولس ته په اسانه توګه ؤرسي". یعنې وئیلے شو، چې ټالسټاي وائي چې فن دې عام فهمه وي اؤ هغه وائي چې د فن ارزښت په دې کښې نغښتے دے، چې انسانیت ته ګټه ؤلري اؤ اولسونه پکښې شریک کړے شي. ټالسټائي هغه فن نیمګړے ګڼي چې د شمېر د څو خلکو د پاره وي. هغه وائي، "فن د انسان د ژوند یؤ حالت دے اؤ د فن د لارې فنکار د انسانانو روحونو ته کوزیږي اؤ پخپلو احساساتو کښې اولس د ځان سره شریکولے شي اؤ د اولس ذهنونو اؤ روحونو ته کوزېدل د فنکار د ژوند ستره ښتمني ده". هغه وائي، چې له خدایه وروستو فن دے، چې د انسانانو

ذهنونه اؤ احساسات روزي اؤ په ټولو فنونو کښې يؤ ځيز مشترک دے، چې په اولس کښې مينه اؤ اتفاق رامنځ ته کوي. هغه عقيده لري، چې سوچه فن ته طبقاتي فن سْتر زيان رسولے اؤ سوچه فن هغه فن ګڼي، چې خلک پرې په اسانه پوهه شي اؤ دا پېښګوي هم کوي، چې د اولسي فن په ارزښت به سوچه فنکار پوهه شي اؤ د راتلونکي عصر فنون به هله ژوندي پاتې کيږي، چې اولسي بڼه خپله کړي.

پښتو
دارالمطالعه
pukhto.net

# عبدالرحمان الداخل

عبدالرحمان الداخل د معاویه ځوي اؤ د لسم اموي خلیفه نمسے ؤ۔ په اسلامي تاریخ کښې په درېو نومونو یاد شوے.لکه عبدالرحمان ناصر، عبدالرحمان اول اؤ عبدالرحمان الداخل۔

په750 ء کښې چې کله د عباسیانو په لاسونو اموي خلافت رنګ شهٔ، نو عباسیانو د اموي واکدارانو اولادونو اؤ خواخوږو سره ډېر ظلمونه ؤکړل۔ د ازمېښتونو په دې سخت وخت کښې عبدالرحمان الداخل د دشتو اؤ دریانو تېر شهٔ اؤ فلسطین ته ؤرسېدهٔ اؤ د روم

دریاب په غاړه غاړخ لیبیا ته ؤرسېدهٔ ۔بیا د لیبیا نه په پېدل لارو دوه زره میله لرې الجیریا ته ؤرسیدهٔ اؤ هلته د خپلوانو سره مېشته شهٔ اؤ د عباسي خلیفه جاسوسانو دغلته هم دمې ته پرېښنبود اؤ د اطلس د غرهٔ په خواؤ شا په دشتو کښې مېشته شهٔ. دغلته چې هم د عباسي جاسوسانو نه خلاص نهٔ شهٔ، نو اندلس ته ؤرسېدهٔ ۔ په اندلس کښې د دهٔ خپلوان ګڼ وو اؤ د اسلامي واک هم دغلته نیمه پېړۍ شوې وه، خو اسلامي واکداران په عېش عشرت اخته وو اؤ ځان ځاني وه۔ د اولس هېڅ ورسره نهٔ وه۔ دغلته عبدالرحمان الداخل د قبیلو سرداران د ځان سره ملګري کړل اؤ د بربر قبیلې په مرسته ئې لښکر جوړ کړو اؤ پهر755 ء کښې اندلس ته ور داخل شو، ځکه عبد الرحمان ته "الداخل" وائي۔

د عبدالرحمان الداخل زړهٔ راښکونکے شخصیت اؤ د مشرۍ استعدادونه چې د اندلس خلکو ؤلیدل، نو ګڼو خلکو د دهٔ مشري

ؤمنله اؤ د توغ لاندې ئې ؤدرېدل، چې يماني قبيلې پکښې تر ټولو سْتره ونډه لرله. عبدالرحمان الداخل يؤ سْتر لښکر جوړ کړو اؤ په قرطبه ئې يرغل ؤکړو اؤ د قرطبې عباسي واکدار يوسف فهري ئې د ماتې سره مخ کړو اؤ د قرطبې واک ئې ترلاسه کړو، چې په بغداد کښې ناست مشر عباسي خليفه ابو جعفر منصور خبر شۀ، نو د افريقې عباسي واکمن ابن مغيث ته ئې په قرطبه د يرغل امر ؤکړو. هغۀ په قرطبه بْريد ؤکړو اؤ ډېر ګڼ لښکر سره راغلو، خو بربر اؤ يماني تورزنانو د افريقې لښکر په وينو ؤلمبوۀ اؤ د روايت په تْرڅ د ابومغيث له تنې بېل شوے سر خليفه منصور ته ؤلېږلے شۀ.

له دې برياؤ وروستو د عبدالرحمان الداخل د پاره نوے ازمېښت د اقليتونو ساتنه اؤ له خْورو پْرتو قبائلو يؤ قام جوړول وو، خو دومره ځيرک اؤ انقلابي فکر لرونکے مشر ؤ، چې چاپېره ئې ؤکتل، نو خلک د عباسي اميرانو اؤ د کليسا د جبر اؤ ظلم نه تر سْپېږمو راغلي وو اؤ له غلامانو ئې بد ژوند کولو. د هغۀ د مشرۍ استعدادونو اؤ اولس خْوښې کړنلارې اؤ زرعي اصلاحاتو اولس د دغه غلامۍ نه خلاص کړو. ټېکسونه ئې کم کړل اؤ ډېر دوتر لرونکي ئې ؤزورل. بيا ئې په وړمبي وار په هسپانيه فوځ جوړ کړو اؤ أجرتونه ئې ورته ؤټاکل. د کرکيلې سامانونه ئې ارزان کړل. د عدل اؤ انصاف ښکلے نظام ئې جوړ کړو اؤ د اولس په ژوند کښې ئې نوې سا ؤپوکله.

په اندلس کښې مدرسې، کتابتونونه اؤ عدالتونه پْرانستے شول. علم اؤ فن ته ئې وده ورکړه. صنعت اؤ زراعت (کرکيلې) ته ځانګړې

پاملرنه وکړه او د عربو او نورو شرقي وطنونو بوټي تخمونه او بوزغلي ئې د اندلس په خاوره وکرل. تجارت ته ئې دومره وده ورکړه، چې د اندلس په منډۍ کښې به د نړۍ د هرې سيمې وچه ميوه، قالينونه، ريښم، خوشبويات، جامې، پېزارونه، زعفران، څرکه او د ينګولي مسالې پرتې وې. کاغذ او کتاب ئې په ټيټه بيه په بازارونو کښې خرڅول پېل کړل او د هغهٔ د واک ځانګړتيا دا وه، چې د علم عرفان او فن قدردان وٓ. پخپله شاعر هم وهٔ او د نيمې شپې پورې به د فنکارانو پوهانو او فلسفيانو سره ناست وٓ. د الداخل د واک په 32 کاله کښې د هسپانيې ګټو سيمو ته خپور شهٔ او د يورپ اوسني پرمختګ کښې پوهانو ته د الداخل نخښې نخښانې ښکاري. دې هوښيار مسلمان مشر چې کوم د علم او عرفان بوټې نال کړي وو، مونږ او زمونږ تاريخ ته ئې د ابن زيدون، ابن عمار، ابن رشد، ابن الخطيب، ابن طفيل، ابومحمد العسالي، الادريسي، ابن زهق، ابن بيطار، اکبر محي الدين الاعربي، ابن حزم، اسحاق موصلي، لسان الدين خطيب، ثابت ابن قراح، يوحنا ابن المساويه او الفارابي په څير سُتر فلسفيان، پوهان او څېړنکاران راوسپارل او عباسي خليفه په نهٔ زړهٔ الداخل ته" د قريشو باز" لقب ورکړو. ګڼ پوهان په دې نظر دي چې علامه اقبال لاهوري چې خپل مشهور نظم "مسجد قرطبه" کښې چا ته مخاطب شوے وٓ، هغه لوړ شخصيت عبدالرحمان الداخل وٓ.

پښتو
pukhto.net

# احمدي نژاداو سادګي

احمدي نژاد کۀ په هرمسلک دے، دغه ئې شخصي خبره ده، خو په شخصي توګه زۀ د هغۀ د سادګۍ اؤ د خپل ايراني ثقافت سره د مينې يؤ څو خبرې دلته ليکم. ماچې کله هم دا سړے اؤريدلے، نو خبرې په خپله مورنۍ ژبه فارسۍ کوي. ناسته پاسته اؤ استوګن ځائے ئې بيخي د عادي خلکو په شير دے. د ايران اولسمشر دے، خو موټر ورسره 1977ء ماډل دے اؤ د ايران په يؤ عام کلي کښې ژوند کوي.

په بنک کښې ورسره يوه انه نشته. د اولسمشرۍ نه مخکښې په معلم (لکچرار) ؤ. چې په 250 ډالره د مياشتې تنخا به ئې کار کولو. کله چې د ترهګرۍ له وېرې صدارتي ماڼۍ کښې استوګن شو، نو د هغه استوګنځاے ګران قيمتي قالينونه ئې خرڅ کړل اؤ غريبانو له ئې هغه پېسې ورکړې. د صدارتي ماڼۍ ګرانې اؤ قيمتي کوټې ئې ؤتړلې اؤ په عادي کوټه چې دوه د لرګي څوکۍ اؤ يؤ مېز لري، کښې ئې دفتر پرانستلو. د خپلو وزيرانو نه ئې څوګند اخستلے، چې سادګي به کوي اؤ د قام دولت به نۀ الوځوي. خپل خپلوان ئې کله هم د هغۀ د مشرۍ نه څۀ ګټه نۀ شي اخستلے. د وزيرانو اؤ افسرانو سره ئې په نائبانو، سکرترپانو ساتلو بندېز لګولے. اولسمشر به هيڅ تنخا نۀ اخلي. په صدارتي ماڼۍ کښې ئې په پولاوونو اؤ ګرانو خوراکي توکو بندېز لګولے اؤ د غرمې د خوراک په وخت د خپل بېګ نه هره ورځ هغه دوه سېنډوېچ راؤباسي اؤ خوري ئې، کوم چې د دۀ د پاره د دۀ کور وداني په کور کښې جوړ کړے وي اؤ اولسمشر د پاره چې کومه ځانګړې الوتکه ده، هغه ئې د سامان وړو راؤړو د پاره په قامي کار (کارګو) لګولې ده اؤ د سادګۍ حد دا چې په زمکه خوب کوي اؤ په جمات کښې د اولس سره يؤ رنګ په اخيري صفونو کښې نمونځ ته ؤدرېږي اؤ د خپل ځوي په وادۀ کښې ئې ميلمنو ته د منو، فروټو خوراک وړاندې کړے ؤ.

ګرانو ملګرو! د پاکستان اؤ افغانستان اولسمشران به داسې ؤکړي؟

# همت اؤ د انسانیت سره مینه

## دوه تاریخي بیلګې

په 1948 ء کښې یؤ نوکر د خپل مشر ډاکټر دفتر ته ننوتلو۔ هلته ئې ؤکتل، چې ډاکټر اؤ دوه مرستیالان ئې بې خوده پاځتر پراتۀ دي۔ نوکر فکر ؤکړو، چې کېدے شي، دوي شراب څښلي دي اؤ نشه دي خو وروستو چې دوي ټول په خود شول، نو مشر ډاکټر خپل نوکر ته ؤوئېل، "ګرانه! مونږ شراب نۀ وو څښلي، خو د کلوروفوم اغېز مو په انساني وجود کتلو، نو د خپلو وجودونو انتخاب مو ورته ځکه ؤکړو، چې له نورو خلکو په ځانونو ډېر مئېن نۀ یو اؤ هسې نۀ زمونږ په نوې تجربه مو بل څوک وژلي وي"۔

دا مشر ډاکټر سر جېمز سېمپسن ؤ، کوم چې د يؤ غريب نانْباي ځْوے ؤ اؤ په مشکلو حالاتو کښې ئې سبقونه سر ته رسولي وو۔ د ډېرنو په وخت کښې ورته مالومه شوې وه، چې کلوروفوم انسان بې هوشه کوي، نو فکر ئې ؤکړو، چې دا کلوروفوم د انسان په هغه وخت کښې پکار راتلے شي، کله چې ئې اپريشن کيږي۔
جار شم له دا سې انسان دوسته انسانانو ـــــ

په امريکه کښې يؤ سړے په 1831 ء کښې په تجارت کښې د ناکامۍ سره مخ شو۔ په 1832 ء کښې ئې سياست پېل کړو، خو دغلته هم د ناکامۍ سره مخ شو۔ په 1834 ء کښې ئې بيا تجارت پېل کړو، خو بيا هم د ناکامۍ سره مخ شو۔ په 1841 ء کښې مايوس شو، خو بيا هم همت ئې ؤ نهٔ بائېللو اؤ په 1843 ء کښې ئې بيا سياست ته مخه کړه اؤ فکر ئې ؤکړو، چې ګوند به ئې د کانګرس د سېنېټ نوماند کړي، خو بيا ناکام شو۔ په 1855 ء کښې ورته خپل ګوند د سېنېټ ټکټ ورکړو، خو د بېلات سره مخ شو۔ په 1858 ء کښې بيا د ماتې سره مخ شو۔
دا سړے څوک ؤ؟
ابراهام لنکن ؤ، کوم چې بيا د امريکې د صدارت په څوکۍ کښېناستلو اؤ د نوې امريکې د جوړوونکو د وړومبي صف غړے شو۔

# نزار قباني

په 1923 ء کښې په دمشق کښې زېږېدلے ؤ. په 1944 ء کښې ئې ليک پېل کړو اؤ وړومبے نظم "بيروت ماته ؤوئېل" ئې هاغه وخت چاپ شو، کله چې په يونيورسټئ کښې د قانون زده کوونکے ؤ. په الهلال عربۍ ورځپانه کښې ئې مضامين ليکل پېل کړل اؤ شعري تصانيف ئې له څليريشت زيات دي. د نزار قباني رومانوي شاعري عربو ډېره زياته خوښه کړه. پخپله شاعرۍ کښې ئې د روزمرې کارول هغه ځانګړتيا ده، چې نزار ئې زر د عربو اولسي شاعر کړو. هغه يوائې رومانوي شاعر نۀ ؤ اؤ سياسي اؤ حماسي شاعري ئې هم ډېره ليکلې ده. د يهوديانو لخوا دوه ځل عربو ته ماتې ورکولو نزار قباني په ذهني فکري اؤ باطني توګه ؤزپلو اؤ شاعرۍ دغه وخت بل رنګ واخستۀ اؤ دا تريخ حقيقت ئې په شعرونو کښې راؤنغښتلو، چې عربو ته يهوديانو نۀ، خو خپلې بې اتفاقۍ اؤ ځان ځانۍ ماتې ورکړه. په عربو واکدارانو ئې نيوکې ؤکړې اؤ څرګنده ئې کړه، چې عرب اولس دې واکدارانو په فکري تخليقي اؤ سياسي توګه غلامان جوړ کړي دي اؤ د راې په اظهار بندېزونه ئې په ښکاره ؤغندل.

اثار:

1. أنا رجل و أنت قبيلة من النساء (زه سړے يم او تاسو د ښځو قبيله)
2. لا غالب الا الحب (د مينې پرته هېڅ زورور نشته)
3. تزوجتک ايه الحرية (اے ازادۍ اما ستا سره واده کړے)
4. قصتي مع الشعر (زما کيسه د شاعرۍ سره)
5. قاموس العاشقين (د عاشقانو لغت)
6. أحبک أحبک و باقي طعتي (زه تا سره مينه کوم او نور راپسې دي)
7. کتاب الحب (د مينې ټولګه)
8. أنت لي (ته زما د پاره ئې)

په 1998ء کښې ئې له فاني نړۍ سترګې پټې کړې.

pukhto.net



# د جنون په کنډاؤ

مرګ لکه د جوارګر لاس اؤ ژوند لکه د تاش پانه ـــــ
د دعوؤ په تله کښې د عظمتونو تول ـــــ
اور اخستے وجود اؤ لوندې شملې ـــــ
کۀ دروغ وایم، اسمان مې وژني، کۀ رېښتیا وایم زمکه مې وژني۔
راتلونکې زلزلې ته د پوال جوړوم ـــــ
پیتې مې داسې دي، چې بوج ئې په اوګو نۀ په ذهن دے ـــــ
پښتونه یاره!
دا غم مې درنه ګوټ ګوټ څښکي ـــــ
راشه راشه! عیسیٰ اؤ خضر د مرګ ارمان کوي۔
اور به اور څۀ وسیزي؟ پۀ نُور درنه سوزم۔
اوښکې مې په خپل ګرېوان نۀ، ستا په ځیګر وڅڅېدلې۔
ولې ئې نۀ وینې؟
د للمې ګل دې د مشین لوګي وخوړۀ۔
له افقه تر افاقه ـــــ
له بصارته تر بصیرته وسوم ـــــ
له زمکې خوئېدلے یم، اسمان ته پرېوتم ـــــ
د حیرانۍ په صلیب ناست یم۔ راکوز مې کړه!
لکه د باري ښاخ راښکته شوے یم۔
راشه راشه! خوره مې۔
د حیرانۍ په صلیب ناست یم۔ راکوز مې کړه!
بدنامي راپېرزو کړه!
له ګمنامۍ مې خوښه ده۔

حمزه
پبلیکیشنز
03009339128